شهامت

یوولسم کال، پنځمه، پرلپسې ۶۷مه ګڼه، جمادی الأولی ۱۴۳۹هق، فبروري ۲۰۱۸م

امریکا دې له پخواني شوروي سبق واخلي!

پرانیستي لیک نړۍ ته

امریکايي جګړه‌ماران ورپه ګوته کړل!!

- ایا حکمتیا رښتیا هم په استشهاد باور لري؟
- چارواکي او ماشومانه تقلیدي کړنې یې ...!!
- بي بي سي! او حقایق ... ویل ...!!
- مکروه! د شریعت په رڼا کې
- پنټاګون هم د طالبانو په وړاندې خپله ماتې ومنله
- دامریکا د کانګریس ماڼۍ کې، دشکست زوږ ...
- د مرحوم انجنیر عبد الله ګل ریان رحمه الله ژوند ته کتنه
- د اسلامي تاریخ په اړه یوه کتنه او یوه څېړنه
- رسنۍ، اسلام اومسلمانان

امریکايي ولس ته!

داسلامي امارت لیک

د دلوې (۲۶) مه بیا تکرارېږي!

د طالبانو لیک

د هغوی د فعالې ډیپلوماسۍ ښکارندوی

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

یوولسم کال، پنځمه، پرلپسې ۶۷مه ګڼه، جمادی الاولی۱۴۳۹هق، فبروري۲۰۱۷م

دامتیازخاوند :
دافغانستان اسلامي امارت دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :
ابو ظهیر

کتنپلاوی :
لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

بیـــه :
یوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰ کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :
تخنیکي څانګه

یادونه
شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه	۱
۲	پنټاګون هم د طالبانو په وړاندې شکست ومانه!	۳
۳	پرانیستی لیک نړۍ ته امریکایي جګړماران ورپه ګوته کړل	۴
٤	یوټکي پر سوله!	۷
۵	چارواکي او ماشومانه تقلیدي کړنې یې!	۹
٦	بي بي سي ...او حقایق ویل	۱۲
۷	د سولې نارې د جګړې تودولو په موخه!	۱۴
۸	اتاترک (مصطفی کمال پاشا) چې مړشو!	۱۵
۹	د اسلام بریا او د مسلمانانو ماتې!	۱۷
۱۰	مکروه د شریعت په رڼا کې	۱۹
۱۱	د امریکا کانګریس مانۍ کې د شکست زوږ	۲۳
۱۲	موږ ولې خفه یو؟	۲۴
۱۳	په عفرین کې د ترکیې پوځي عملیات او د امریکا ناکامې	۲۵
١٤	امریکایي ولس ته د اسلامي امارت لیک!	۲۹
۱۵	ګلورینې پاڼې	۳۶
١٦	آیا حکمتیا رښتیا هم پر استشهاد باور لري؟	۳۸
۱۷	د دلو (۲۶) مه بیا تکراریږي!	۳۹
۱۸	هلته چې د غیرت او اخلاقو جنازې وتلې!!	٤۱
۱۹	د مرحوم انجنیر عبدالله ګل ریان رحمه الله ژوند ته لنډه کتنه	٤۳
۲۰	رسنۍ، اسلام او مسلمانان	۵۱
۲۱	د شهید ملا عبد العزیز ابوبکر رحمه الله لنډ ژوند لیک	۵۳
۲۲	د اتومي وسلو نوې سیالۍ او دجنګ نوی ډګر	٦۰
۲۳	د اسلامي تاریخ په اړه یوه کتنه او یوه څېړنه	٦٤
۲٤	د طالبانو وروستی لیک دهغوی د فعالې ډیپلوماسۍ ښکارندوی	٦۷
۲۵	یاد از حماسه‌های سوم حوت وقیام کابل	٦۹

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان
بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

امریکا دې له پښواني شوروي سبق واخلي

له شک پرته د امریکایي ښکېلاک اوسنی سیاست او جنګي تګلاره نه یوازې دافغانستان لپاره په زیان ده بلکې د سیمې دثبات او امنیت په وړاندې له جدي ګواښونو او دپراخو بې امنیو او بدمرغیو لامل هم ده او په دې سربېره پخپله د امریکایانو لپاره هم د راتلونکو عواقبو او نتایجو له پلوه د ســـــترو ننګونو او خطرونو زېږنده ده .

په خاصه توګه له کله نه چې ډونلډ ټرمپ دامریکا ولسمشر شوی د افغانستان، سیمې او نړۍ پر ستونزو او نا امنیو کې څو ځله زیاتوالی راغلی او داکار ښیي چې امریکا پخپل ټول ځواک روانه نا مشروع جګړه بایللې چې په سبب یې ټرمپ او دهغه حکومت دامریکا دکانګریس د زیات شمیر غړو له لوري ترسختو نیو کو لاندې دی .

په افغانستان د وحشیانه یرغل پر مهال امریکا یې پالیسې جوړونکو او جنرالانو فکر کاوه چې دوی به په څو شمار ورځو و شپو کې افغانستان د اشغالولو وروسته خپل دایمي مستعمره هېواد کړي اوله مهم جغرافیوي استقامت او ستراتیژک جهت نه به یې د سیمې پر نورو هېوادو محضې د سترګو په سروکولود چون چرا پرته هغوی خپلې جهان نیولو ایډیا منلو ته اړ کړي.

په همدي ډاډ لرلو امريکايانو دافغانستان دايمي اشغال اسان او دخپل چپ لاس کارګانه او په ۲۰۰۱ز کال کې يې ايله خپل ۱۳ سوه سرتيري راوستل خو د ټولو اټکلو نو برعکس افغانستان کې د تاريخي او کلک مقاومت او مزاحمت سره مخ شول آن چې دناټو په ګډون دنړۍ له پنځوسو هېوادو يې سياسي او پوځي کومکونه او غوښتل اوپه ۲۰۱۰ زکال کې يې خپل نوريولک پوځيان راوستل چې په عمل کې هغوی ټول هم ناکام او نامراد شول اودکوم پام وړبري ترلاسه کولوپرته په لوی شمير پوځيان کې زوږند سرونه وتلو ته اړشول

هو! نن امريکا او ائتلافيون په افغانستان کې لس ګونه زره عسکر لري او هم يې هوائي ځواکونه ځلورويشت ساعته دافغانستان په فضاء کې ځغلي! په بې دفاع افغان ولس ظالمانه بمباردونه کوي ، هره ورځ لسګونه ماشومان ، ميزمنې او عام ملکيان په شهادت رسوي ، خو هغوی کومه ستره لاسته ر اوړنه نلري او دجګړې په ډګر کې له بد شکست سره مخ دي

بل پلوته دامريکايي پوځيانو دشتون له امله افغانانو ژوند، عزت او ابرو خوندي ندي، بد اخلاقي او اداري فساد اوج ته رسيدلی او دګوډاګی رژيم چارواکي تر غوړ و پوري په فساد او بد اخلاقيو کې ډوب دي ،دملوک الطوايفي راج هم يو وا ربيرته راګرځيدلی اود ګوډاګي رژيم دننه ځای په ځای ياغي ځپې په غورځنګ دي چې په مجموع کې داټول په لويه کې دامريکا يانو او دهغوی د دشکست ښکاره دلايل دي

بل لورته دنړيوالو رسنيو پر اعتراف دهېواد اويا سلنه خاوره دطالبانو (اسلامي امارت) تر پوښښ لاندې ده او مقابل کې دامريکا دپوځي، اقتصادي او سياسي مرستو په مټ ولاړ رژيم ايله په ديرش سلنه خاوره واک لري . شونې ده چې راتلونکي کې ياده سلنه نوره هم را ټيټه شې اولانورې پراخې سيمې دامارت او مجاهدينو واک ته ورشي په دې حالت کې دکتونکو په نظر دافغان معضلې معقول حل دطالبانو وروستي تازه ليک ته مثبت ځواب ويل دي چې امريکا دواقعيتونو په درک کولو سره دظالمانه بمباردونو څخه لاس په سرشی او دخبرو پر ډيالوک باورپيدا کړي،افغانستان اسلامي امارت دافغانستان ازادې غوښتونکي ولس درښتينې استازي په حيث او منې داخبره حتمې او يقينې ده چې که امريکا دلته هرڅومره نورکلونه هم جګړه وکړي خو اخربه په هغه حشر اخته کېږي له کوم سره چې دشوروي سرې لښکري مخ شوې.بايد امريکا دشوروي له انجامه په سبق اخستو له افغانستانه دخپلو ځواکونو په ويستلو فکر وکړي نه دجګړې په نور تشديدولو او غځولو....!

پنټاګون هم

د طالبانو په وړاندې خپله ماتې ومنله

#معین احمد (معین)

دامریکا د دفاع وزارت پنټاګون په یوه تحلیلي راپور کې ویلي، چې د افغانستان په شپاړس کلنه جګړه کې له ټولو پوځي او استخباراتي هڅو سره سره د پرمختګ هیڅ شرک نه لګیږي.

په یاد راپور کې چې د فروري د میاشتې په ۱۶ نیټه خپور شوی راغلي چې امریکا افغانستان ته درې نیم زره اضافي عسکر لیږلي؛ مګر دولتي ځواکونه نه دې توانیدلي چې د خپلې واکمنۍ سیمه وړاندې پراخه او امنیتي وضعیت کنټرول کړي.

د پنټاګون دا راپور په داسې مهال کې خپریږي چې امریکایي ځواکونو د ټرمپ د جنګي ستراتیژۍ د بریالي کولو لپاره خپل ټول توان په کار اچولی او په ولسي سیمو یې هوایي بریدونو ته زرور کړی دی.

د ټرمپ جګړه ییزه ستراتیژي چې اووه میاشتې وړاندې اعلان شوې هدف یې له پوځي لارې د طالبانو له منځه وړل او د هغوی د پوځي فعالیتونو کنټرول و.

خو یاده ستراتیژۍ نه یوازې دا چې د خپل هدف په تر لاسه کولو کې ناکامه شوې؛ بلکې د هغې د پلي کولو په وخت کې طالبان توانیدلي چې خپل پوځي فعالیتونه د پخوا په نسبت په موثر او تکتیکي ډول پر مخ بوزي.

له دغو عملیاتو څخه یو هم د کابل په زړه کې د انټرکانټیننټل هیټوونکي عملیات وو چې پر نورو بهرنیانو سربیره مهم امریکایي استخباراتي چارواکي هم ووژل شول.

د پنټاګون دغه راپور د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د امریکا پراختیایي ادارې په ګډه جوړ کړی او په هغه کې یې د افغانستان اوسنی امنیتي وضعیت تر بل هر وخت ډیر خطرناک ښودلی دی.

په راپور کې دا هم ویل شوي چې ګڼ حکومت د امریکایانو له نویو تسلیحاتي او پوځي همکاریو سره سره نه دی توانیدلی چې خپلې له لاسه ورکړې سیمې بیرته له طالبانو څخه تر لاسه او پر هغو واکمني ټینګه کړي.

پنټاګون په افغانستان کې له طالبانو سره په مقابله کې پر خپلې ناکامۍ په داسې حال کې اعتراف کوي چې تر هغه څه موده وړاندې بي بي سي په خپلې یوې څیړنې کې د افغانستان پر ۷۲ سلنه خاورې د طالبانو د حاکمیت خبر ورکړی و.

د ټرمپ جنګي ستراتیژۍ چې پوره اووه میاشتې د پنټاګون او سي آی اې د پوځي او استخباراتي ماهرینو وړاندې کار وکړ او د مسلسلو شدیدو بمباریو په زور پیل شوه وروستۍ پایله یې دا شوه چې طالبانو د خپلو جنګي تکتیکونو په بدلولو سره د هغې د تطبیق په مرحله کې امریکایانو او د هغوی ملاتړو ته سخت پوځي ګوزارونه ورکړل.

د طالبانو دغه پوځي ګوزارونه د دې لامل شول چې د سپینې ماڼۍ د چارواکو ترمنځ له طالبانو سره د تعامل په اړه اختلافات را وپاروي.

ولسمشر ټرمپ او د هغه جنګي ټیم د جنګي ستراتیژۍ له ناکامۍ سره سره نورهم د خپل حماقت له مخې له طالبانو سره د سوله ییز تفاهم په ځای پر پوځي زور کارونې ټینګار کوي.

خو د بهرنیو چارو وزیر او د هغه دیپلوماتیک ټیم بیا د ټرمپ برعکس د زور کارولو پرځای له طالبانو سره د سوله ییز تفاهم پلوي او د امریکا ستر پوځي حلیف ناټو تړون هم ورسره هم نظره دی.

وروسته تر دې چې ډونلډ ټرمپ له طالبانو سره د هر ډول مذاکراتو د بندیز خبره وکړه د ناټو عمومي سرمنشي ینس سټولټنبرګ د هغه په غبرګون کې وویل چې اوس تر بل هر وخت سولې ته ډیره اړتیا ده.

نوموړي وویل سوله ییزې هڅې هغه یوازینی حل دی چې افغانستان پکې د ثبات ښخښتن کیدای شي، ځکه نو باید تر بل هر څه وړاندې په دې برخه کې فعالیتونه ګړندي شي.

پرانیستي لیک نړۍ ته

امریکایي جګړه ماران ورپه ګوته کړل !!!

عبید / تنویر

د اسلامي امارت له لوري د امریکایي ولس په نوم او هم د کانګرس د غړیو په ادرس جوړ او خپور شوي لیک که له یوه لوري د روانې جګړې سپیناوی او د راتلونکو عواقبو په اړه یې اړین ټکي او جدي خبرتیاوې لرلې له بل اړخه لیک د افغان ولس د زړه د تل اواز او په امریکایي ولس یو پوخ دلیل او تاریخي حجت قائیمول هم و چې نور بائید د خپلو سرتنبه او ناترسه واکمنو مسیر او قبله درسته او سمه کړي.

تر ډېره ځایه د دې خبرې امید شته که چیرې امریکایي ولس پرانیستی لیک په خلاصو غوږوو اوري او په منصفانه انداز ورته وګوري ارو مرو به د حقائیقو درک او عمق ته لویږي او د افغانستان په اړه یې چې جابرو واکمنو او مکاري میډیا کوم ناسم معلومات ورکړي او د هغوئ ذهنونه اخلال کړي ارو مرو به پکې تغیر او تحول رازي

لیک په ډېر مهارت او سیاسي ذراکت جوړ او مرتب شوی د افغانستان موجوده عیني واقعیتونو ته ګوته نیول شوي او د امریکایي واکمنو پوچ تبلیغات او اټکلونه ټکي په ټکي په داسې ډول باطل او رسوا ګرځول شوي؛ که امریکایي ولس او سیاستوال له لږ درایت او انصاف څخه هم کار واخلي له تسلیمي او منلو به پرته بنایي بل هیڅ ځواب ونه لري.

که امریکایي ولس د لیک په متن کې دا توري په غور ولولي او بې پرې قضاوت وکړي له شک پرته به خپل چارواکي دروغجن، فریبکاره او د امریکایي ولس د ګټو او منافعو د غلیمانو په توګه وپیژني او تر کلکو پوښتنو او ګرویژنو لاندې یې ممکن ونیسي.

د مثال په ډول د لیک په یوې برخې کې راغلي:

امریکایي ولسه! تاسو پوهیږئ چې ستاسو سیاسي او پوځي مشرانو ۱۷ کاله وړاندې زمونږ پر هیواد پوځي یرغل وکړ. دا یرغل چې هم زمونږ د خپلواک هیواد د شرعي او ملي قوانینو او هم د نړیوالو مقرراتو خلاف عمل و د توجیه لپاره یې ستاسي چارواکو د نورو په نسبت د غه دری شیان په څرګنده توګه د قانوني مجوز په حیث ارائه کول:

۱.په افغانستان کې په اصطلاح د تروريستانو په له منځه وړلو سره د امنيت ټينګول.

۲.د يوه قانوني حکومت په ايجاد سره د قانون پلي کول.

۳.د نشه يې توکو له منځه وړل.

خو راځئ وګورو چې په دې ناروا جګړې کې ستاسي جنګ غوښتونکو مشرانو هغه خپل درې ګونې شعارونه څومره عملي کړای شول؟

دغه نظام او په هغه پورې تړلې تغيرات، نا امني، لا قانونيت او د مخدره توکو په توليد کې ۸۷ سلنه زياتوالی اصلاحات بولئ او که د بشر ضد جنايات؟

ستاسو حکومتي چارواکي ادعاء لري چې دوی په افغانستان کې په لسګونه مليار دونه ډالره د بيارغونې په مختلفو برخو کې لګولي دي. طبعا دا لسګونه ميليارده ډالر ستاسي هغه پيسې دي چې د دولتي ټيکس او ماليې په نوم لتاسو څخه اخيستل شوي او دلته د غلو او قاتلانو جيبونو ته تللي دي.

په دې نا انډوله جګړه کې ستاسي د پوځي چارواکو په رسمي اعتراف (۳۵۴۶) امريکايي او نوربهرني پوځيان مړه، تر ۲۰۰۰۰ زيات امريکايي سرتيري ژوبل او په لسګونو زره نور په عصبي ناروغيو اخته شول، اګر که په واقعي ډول ستاسو د تلفاتو شمير له دينه په مراتبو ډير دی چې ستاسې مشرانو له تاسې څخه پټ کړی دی

تر ۱۷کلنې امريکايي جګړې او په هغه کې د امريکا جنګي ټلوالې د لسګونو زره امريکايي عسکرو تر مرګ ژوبلې او د هغوي د مليار دونو ډالرو تر مصرفيدو وروسته په افغانستان کې داسې يو نظام حاکم شو چې په اداري، قانوني، پوځي او سياسي برخو کې لاندې ريکارډونه لري:

په اداري او مالي فساد کې په نړيواله کچه لومړی مقام

د بشري حقونو په نقضولو کې په نړيواله کچه لومړی مقام

د ځمکو په غصب او نړيوالو مرستو د اختلاس په برخه کې په نړيواله کچه لومړی مقام

د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي په اړه په نړيواله کچه لومړی مقام او...

نو اوس دې امريکايي ولس په خپله قضاوت وکړي چې دوئ له دومره اوږدې مودې تيرولو، دوه تريليونو ډالرو مصرف او د پنځو سوزرو امريکايانو له مرګ ژوبلې ورسته امريکايان په خپلو مطرحو دريو اهدافو کې څه ترلاسه کړي؟!!

د راپورونو له مخې ليک په امريکايي او غربي رسنيو کې په بارزو ټکو کې انعکاس موندلی او د مشهورو رخپانو او مجلو په ړومبو مخونو او سرټکو کې ځای نيولی ډيری ورځپانه ليکونکو دا تبصری راوړي وي چې دليک محتوا پرګڼو حقايقو پوښل شوې ښايي پر امريکايي ولس کې ګڼې نانډرۍ راوپاروي هغه څه چې امريکا او کابل رژيم يې هميشه له رسنيز کولو ډاراو بيم درلود درلوده.

رویټرز خبري اژانس په لویو ټکو د طالبانو دلیک دا برخه را اخیستې چې "دا لیک پر دې دلالت نه کوي چې ګواکې (مونږ طالبان) کمزوري شوي یو بلکې موږ تر پخوا څو چنده قوي شوي یو، خو دا مو د منطق له مخې یو حل لاره وبلله.

رویټرز ته د ناټو ځواکونو یو ویاند تام ګریسک ویلي؛ د طالبانو لیک اګر که تر ټولو ښه سپیناوی او خبرتیا ده خو د هغوی وروستیو لویو حملو هم یو ځانګړی پیغام درلود چې یاده ډله هیڅکله تسلیمیدلو ته تیاره نه ده.

د ټلګراف ورځپاڼې بیا زیاته کړې چې خط داسې مهال رسنیز شوی چې تاکل شوې ده جنرال نیکولسن به په نږدې ورځو کې د افغانستان ختیځو ولایتونو ته یو سفر وکړي ترڅو هلته په میشتو وسلوالو د بریدونو د زیاتوالي په موخه له ځایي چارواکو سره مشورې وکړي.

ورځپاڼ په غټو توروېې د لیک دا جمله لیکلې: امریکایانو! تاسو چې په نړۍ کې د یوه پرمختللي او متمدن ولس دعوه لرئ، دا چې په افغانستان تپل شوی حکومت ستاسو لخوا رامنځته شوی مونږیې په اړه قضاوت هم تاسو ته پرېږدو، چې تاسو د خپل منطق او ضمیر له مخې د غه نظام او په هغه پوري تړلي تغیرات، نا امني، لا قانونیت او د مخدره توکو په تولید کې ۸۷ سلنه زیاتوالی اصلاحات بولئ او که د بشر ضد جنایات؟ "

د سما ټوډې ورځپاڼې هم د اسلامي امارت لیک ته په اشارې سره ویلي چې یاد لیک په مختلفو ابعادو رانغښتل شوی او امریکایي ولس ته واضح پیغام دی چې دا ډله غواړي د جوړجاړي له لارې یوې توافقنامې ته ورسیږي او زیاتوي چې طالبانو ویلي چې د سیمې هیوادونو ته به هیڅ ستونزې نه را ولاړوي.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې هم د دې لیک مهمې برخې را اخیسې د دولت پر کفایتی، د مخدرو توکو د کرکیلې پرزیاتیدو او د امریکایانو د نه وتلو په صورت کې د طالبانو له خوا اوږد مهالې جګړې ته د تاییا خبرې یې مهمې بللې

د چارو د ماهرینو له نظره اسلامي امارت امریکایي ولس ته په داسې حالاتو او شرایطو کې خپل هراړخیزاو مستند دریځ او موقف وړاندې کړ چې امریکایي کانګریس چمتونده ی ترڅو دافغانستان د جګړې لپاره ۴۵ ملیارده ډالر منظور کړي چې د ټرامپ اداره غوښتنه کوي، د غه ډول په دې ورستیو کې د ګڼو امریکایي جنرالانو او مطرحو سیاستوالو له لوري داسې اعترافات مخې ته راغلي چې په افغانستان کې امریکایي جګړه ناکامه ناتوانه او د ټرامپ ستراتیژي بې نتیجې او شرمیدلې بولي، په همدې ترڅ کې د کابل رژیم هم په خپل منځي ناورین او بې ثباتیو کې کلک درګیر دی او هم د طالبانو له قاطعو او پریکنده بریدونو سره لاس او ګریوان دی نوویلای شو چې پرانیستی لیک به په نړیوال میدان کې د کابل رژیم او هم یې باداران له کلکې رسوایي او انزوا سره مخ کړي او تر ټولو عمده خبره دا ده چې که امریکایان لدې ورسته هم په افغانستان خپله ناروا تګلاره تغیر نکړي نو ورستی پرانیستی لیک به نړۍ دا وروښیي چې د تشنج، افراطیت پلویان څوک او په جګړه کې ګټې څوک لټوي.

یوځو ټکي، پرسوله !!

ص صارم

تېره میاشت دجګړو لـه شـدت مخکـې لـه رسـنیو پـه ترکیـه کـې دسـولې دمـذاکراتو ترنامـه لاندې راپورونـه او مرکـې خپـرې شـوې، چـې خـورا ګونګې او ډېرې مبهمې وې، زه دلته دمرکچیانوپه حالت او کیفیت څه نه وایم، بلکې هغه څه چې له دې ډول ډراماتي هلـو ځلـو مونږ تـه کـوم پیغـام راکـول کیـږي، بایـد بحـث پـرې وشي او دحقیقـت دڅرګندولو مسؤلیت یې خامخا اداشي.

په دې کې اوس هیڅ شـک نشـته چـې زمـونږ ولـس ډېرسـتړی او جګـړو تـردې حـده ځپلـی چـې نږدې دوه نسله یې پکې رالوی شول، اوتربل هرڅـا سولې او امن ته ډېره اړتیا لري، خو دلته اوس دانـه معلـومیږي چـې دسـولې مخـالف څـوک دي او غوښتونکي یې څوک دي؟

یوځـه چـې ډېـر څرګنـد دي او هـرذهن یـې منلوته تیار دی هغه داچې هیڅ ضمیر او وجدان به دا ونه مني چې یوڅـوک دې آرام ژونـد پـه ځان حرام کړي اوپه لوی لاس دې ځان کړاو ته ورکـړي؟

هیڅکله نه! بلکـې هـیڅ بشر- پـه هـیڅ صـورت نـه غواړي چې په برخه دنیوی ژوند یـې نارامـه شي او په لوی لاس له هوسا ژوند نه ځان محروم کړي، نـو ظاهره ده چې سوله هغه څوک نـه غـواړي چـې پـه رامنځته کېدو سره یې امتیازات او مقام راټیټیـږي هغه عیش اوعـشرت، کباب اوشراب چـې اوس یـې ددې جګـړې لـه برکتـه پـه برخـه دی، بیالـه لاسـه وزي، ځکه خو یې شپه او ورځ یوکړې اوتبلیغ کوي ترڅـو هغـه لـوری دسـولې مخـالف وښـیي چـې لـه دغسـې عـیش اوعشـرت محـروم دي او پـه اور او باروتوکې ژوند تېروي.

په افغانستان کې روان تونداو پرېکړې انقلاب ټول جهتونه چې دبېلابېلـو موخـو لپـاره دخیـل وو دخپل ډېر شدت او ثقل له مخې یوطرف ته چاپ او وځنډل، او اوس دصلیبي اشغال په وړاندې یواځې طالـب مقاومـت کـوي او ورځ تربلـې یـې مقاومـت ټینګیـري. نوکـه سـوله کیـږي د اشغالګردښـمن اوطالبانو ترمنځ به کیږي اوبس.

دکابل حکومت خو ځکه مه شوروه! چې په زښته ډېرو دلالتونو داشغال په صورت کې قانونیت نه شي موندلی او لکه څرنګه چې په بې مثله اوبې بېلګې اداري بڼه امریکایانوترکیب کړ، همداسې خودمختاره اودهغو له حاکمیته وتلی هم نه شي بلل کېدای. دسولې په تړاو یواځې دتېرمې وینا ددې دلالتونو لپاره بس ده چې ویې ویل: مونږ له طالبانو سره سوله نه کوو، بیا مجال وو چې ارګ مېشتودې دسولې ګردان په خوله راوړی وای؟!

داچې طالبان دسولې مقابل لوری امریکایان بولي، همدادسولې رښتونې چیغه ده او وزن پکې لیدل کیږي، کنه نو چې هغوی دهیواد په ټولو امورو کې دخیل دي، په سوله کې ولې له دې چیغې شاته کیږي؟! همدا واقعیتونه داحقیقت ډېر په ښکاره ډول څرګندوي چې رښتیا هم دوی سوله نه غواړي اولکه چې په وازکومي یې وویل " مونږ له طالبانو سره سوله نه کوو" نه غواړي په هیواد کې کراري او امن رامنځته شي ځکه چې که اوبه خړې نه کړي کبان به ونه شي نیولای، په کابل کې دسولې شورا او دسولې په نوم یو او بل ځای ناستې په حقیقت کې په سوله پسخند وهل دي چې ښه بېلګه یې په ترکیه کې دسولې په نامه ډراماتي غونډه اودسولې خبرې! وې.

دایواځې او یواځې ددې لپاره چې دمسلمان ولس او جهانیانو په سترګو کې خاورې وشیندي اوپړه پرطالبانو واچوي چې ګنې سوله خو هغوی نه غواړي اودسولې مخالف هم همدوی دي، همدا دلیل دی چې دسولې په نامه یې بې صلاحیته په نامه شورا جوړه کړې اوکله ناکله یو او بل ځای ځینې دغه ډول غولوونکې ناستې او مجلسونه هم رامنځته کوي.

ددې لپاره چې ولس په دوکه کې نه وي لوېدلی اوپه حقیقت پوه وي نوپه کار ده چې طالبان دسولې داعیه په ښه شان تر ولس او نړۍ ورسوي اوپه دې اړه لاډېر څه وکړي، ددې ټکې منفي ذهنیت چې خورا مؤثر دی اودکابل حکومت یې دځان په ګټه کار ترې اخلي باید خپل کړي.

چارواکي، او ماشومانه تقليدي کړني يې..!!

لیکنه: موسی فرهاد

ماشومان چې د عقل او شعور له پلوه تراوسه لا نیمګړي وي؛ طبعاً ترڅان د لویو خلکو حرکات سکنات ځاري او بیا د هغوی پر پله داسې پل ږدي چې ګویا پیښې یا تمثیل یې کوي، ځکه چې همدا ماشومان په کامل ډول خو د مشرانو خبري او د هغوی عملکرد نشي کاپي کولای او نه یې په رمز پوهیږي چې دا خبره یې د څه لپاره وه، څه یې مطلب و او دا حرکت یې په څنګه حالت کې د څه مقصد لپاره وکړ.

له دې سره سره چې ماشوم د مشرـ د حرکت او خبري په رمز پوهیږي نه؛ خو بیا یې هم په تعقیب کې روان وي. پرته له دې چې د ځان لپاره یې د ګټې او تاوان اداراک وکړای شي. نو ځکه یې دا تقلید همیشه د خندا وړ وي او یا کله نا کله د ماشوم د پرځیدلو او خوږیدلو سبب شي.

عین همدا کانه زموږ په حکومتي چارواکو شوي، چونکه د کابل حکومت ته را ډاونلوډ شوي ټول چارواکي د امریکایي بي۵۲ او کروز میزایلو د لینک مرهونِ منت دي، چې په برکت یې دوی ته په کابل کې ځای ورکول شوی، کنه دوی پخپل ذات کې همدومره بې وسه او کم ځواکه دي لکه لاشعوره ماشومان، چې اوس یې نو هر حرکت او خبره د نورو پېښې (تمثیل) وي.

کله د خپلو محسنینو امریکایانو خولې ته ګوري چې هغوی څه وایي؛ دوی یې تکراروي. لکه څو ورځې وړاندې چې یې د ټرمپ د هغه خبري په تعقیب چې ویل یې له طالبانو سره د سولې خبري نه کوي؛ سمدستي اعلان وکړ چې ارګ اوس سوله په جنګ کې غواړي.

او زیاتره وخت بیا د خپل دښمن طالب څخه خبري زده کوي. او بیا یې هو بهو نقلوي، که څه هم دې ته یې فکر نه وي، چې آیا دا د دوی په شان کې مصداقیت لرلای شي کنه.

د بیلګې په توګه:

۱ - هغه ورځې د اشرف غني د ټیم غړي معصوم ستانکزي چې ویل کیږي د ملي امنیت مشرـچارواکی دی؛ له بي بي سي سره د داعش پر موضوع غږیدی، ویل یې طالبان غواړي چې داعش په افغانستان کې ځای پرځای کړي، د دې لپاره یې هڅې پیل کړي چې د افغانستان په شمال او ختیځ کې د داعش لپاره زمینه سازي وکړي او طالبان د هغوی لپاره تبلیغات کوي، خو په خبره یې افغان دولت به اجازه ورنکړي چې طالبان د داعش پروژه په افغانستان کې ځای پرځای کړي.

دا خبره اصلاً په لومړي سر کې طالبانو کړي وه چې د داعش ترشا د امریکایانو لاس دی او د افغان دولت د

ملي امنيت د اداري په توسط يې پالنه کوي، اکمالات يې کوي، تبليغات ورته کوي، د عراق او سوريې په شان يې دلته هم د مجاهدينو پرضد د کارولو لپاره پټې ملاتړ کوي. چې دا خبره بيا ډېره برملا شوه، تقريباً ټولي نړۍ کې دا مشهوره شوه چې واقعيت همدا دی چې داعش يوه امريکايي پروژه ده او د افغان دولت تر چتر لاندي حمايه کيږي. دا خبره د افغان دولت ځينو چارواکو، د ولسي جرګي غړو، مدني فعالانو او د سيمي خلکو ټولو بدرګه کړه، هر يوه ځان ته شواهد ومونډل او تائيد يې کړه. چې تراوسه پوري همدا حقيقت جريان لري. (دا يې د چارواکو يو تقليد چې له طالبانو يې زده کړ.)

۲ - کله چې په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴م کې د بهرنيو تيري کوونکو په وړاندي د طالبانو چريکي مقاومت زور واخيست او خبره تر جبهي او مخامخ جګړو ورسيده؛ نو له خوا وشا دا ناري پيل شوي چې له طالبانو سره دې د جنګ پرځای د مذاکراتو لاره غوره کړه شي.

طالبانو وويل چې موږ مذاکرات کوو خو له هغه چا سره چې واک او اختيار ورسره وي. او وکولای شي چې ستونزه حل شي. مقصد يې دا وو چې که امريکا پخپله مذاکراتو ته تياره وي او د مسئلې حل را ايستل غواړي؛ نو خبره سمه ده کنه نو افغان چارواکي بې واکه دي له هغوی سره مذاکره کول د وخت ضياع ده. مسئله نه حل کيږي.

خو ارګغني باچا چې کله جانکيري د امنيتي تړون د لاسليک په بدل کې برسر اقتدار کړ، سمدستي يې اعلان وکړ چې موږ مذاکرات له پاکستان سره کوو. مطلب دا چې د طالبانو اختيار له پاکستان سره دی. حالانکه د پاکستان او امريکا ترمنځ د ځمکي او آسمان توپير دی چې کوم يو د افغانستان پر برخليک واکمن دی. او دا د لمر په څير روښانه حقيقت دی چې امريکا پر حکومت څومره مسلطه ده او د پاکستان ترکومه حده پر طالبانو خبره چليږي. دا هرڅه دومره واضح دي چې بيان ته يې اړتيا نشته. روغ، ليوني، ماشوم، زوړ او ځوان ټول ورباندي پوهيږي.

همدا وجه ده چې له پاکستان سره د افغان چارواکو دا پرلپسي چارجانبه، شش جانبه، صد جانبه، هزارجانبه او بل جانبه غونډو هيڅکله هم هيڅ پايله نه ده لرلي. خو که برعکس د امريکا او طالب ترمنځ چې دواړه د افغان قضيې با اختياره لوري دي؛ يوځل هم ناسته وشي؛ تاسو به وګورئ چې د اشغال د ختمولو او د افغان لانجي د پای ته رسولو په لاره کې څومره مثبت پرمختګ کيدلای شي.

مګر چارواکي لا بيا هم پرهمغه حيوان سپاره دي وای سوله يا په جنګ او يا د پاکستان په چارجانبه کې لټوو. د دوی مطلب د مسئلې حل نه دی بلکي فقط د طالبانو د کړنو ماشومانه تمثيل کوي. (دا يې دويم تقليد دی.)

۳ - طالبانو په ۲۰۰۵م کال کې د دعوت او ارشاد په نوم يوه اداره جوړه کړه ترڅو هغه افغانان چې په ناپوهي، غلط فهمي او يا د بل مجبوريت په وجه له امريکايي سيټپ سره يوځای شوي وی؛ هغو وپوهوي او له ناسمي لاري يې راوګرځوي. چې دا کار يې په برياليتوب سره تراوسه جاري ساتلی دی.

خو په مقابل کې يې د کابل چارواکي هم را ولاړ شول په ۲۰۰۹م کال کي يې د سولي عالي شورا په نوم يو دفتر پرانيست ترڅو د طالبانو له صفه خلک دولت ته ورولي. له همدې ځايه ده چې وخت پر وخت يې د وړو ماشومانو پر اوږو د شمال د خلکو چپني ور اچولي وي، د ښکار ټوپکونه يې په لاس ورکړي وي؛ وای دا کسان د طالبانو قومندانان دي چې د سولي شورا په هڅو دولت ته تسليم شول. (دا يې دريم تقليد دی.)

٤ - طالبان له لومړي سره د اشغالګرو پرضد څو ډوله عمليات ترسره کوي چې يو قسم يې د نفوذي کسانو ګروپ او نفوذي بريدونه دي. د دغو کسانو ملګرتيا چونکه له طالبانو سره د مادياتو پربنا نه، بلکي فکري او عقيدوي ده، نو ځکه يې کار دومره منتج او بريالی دی. خو په مقابل کې يې د حکومت وزيري ډوله چارواکو څه وخت مخکي اعلان وکړ چې په طالبانو کې دننه يې ډېر کسان موندلي او پيسې يې ورکړي چې پرطالبانو د شا لخوا بريدونه وکړي. مګر هغه پروسه يې ټوله تر تطبيق وړاندي د سنګوريانو په شکل کې رسوا شوه. (دايې څلورم تقليد دی.)

٥ - څو ځله په کابل او ځينو نورو ښارونو کې داسی بريدونه ترسره شول چې پر ډېرو حساسو ځايونو لکه د ملي امنيت پر ودانۍ، او د ډېرو تلفاتو د پيښيدلو امکان لرونکو ځايونو کې لکه د شمشاد تلويزون پر ودانۍ، دا بريدونه وشول خو چا ته پکي قابل ذکر زيان ونه رسيد، مګر بيا هم حکومتي رسنيو ښه پراخ کيوريج ورکاوه، او ويل يې چې داعش دومره خطرناک بريدونه کولای شي او دومره قوي شوي دي. داسي او داسي.... نو خلک پوه شول چې ترشا يې هرو مرو کومه معامله شته، طالبانو اعلان کړه چې دا کار د امريکا په اشاره د حکومت خپل پلانونه دي او غواړي چې په دې توګه داعش ته کمپاين وکړي.

خو ورپسي چې څومره پيښې وشوي او پړه يې داعش ګروپ ومنله، حکومت هغه د داعش ادعاوي پريښودلي، ويل يې دا کار طالبانو کړی، هسی يې پړه پر تنظيم الدولة ور اړوي. (دا يې پنځم تقليد دی.)

٦ - طالبان چونکه جهاد کوي او د جهاد په ډګر کې اسلامي نظمونه او تراني ويل يو نبوي سنت دی، چې ډېر زيات مؤثريت لري. نوي ځوانان زياتره له نعت خوانۍ او ترانه ويلو سره مينه لري او په ډېر جالب انداز اسلامي، جهادي او ملي تراني وايی خلک ډېر زيات تري متاثره کيږي. حتی په لسګونو ځوانان استشهاد ته تيارېږي. د جهاد سنګر ته تلل خو ايسته پريږده.

نو هغه ورځې مې په فيسبوک کې يوه ويډيو وليدله چې يو شمېر حکومتي عسکر را غونډ دي پوليسيـ او اردو دريشۍ يې په تن د ستيج پر سر ترانه وايی چې نور هيڅوک هم ورته ناست نه دي. ترانه مي اوس له ذهنه وتلي خو مفهوم يې د ترهګرۍ خلاف خبري وي. نوره يې هيڅ ډول اسلامي او ملي انګيزه نه وه. طرز او آواز يې هم داسی وو چې يو وچ ريشخند و. (دا يې شپږم تقليد دی.)

په دې کار سره دوی فقط غوښتل چې د طالبانو تمثيل وکړي او خلک له ځانه دومره مثاثره کړي لکه څنګه چې د طالبانو له ترانه ويونکو څوک متاثره کيږي.

دا او دې ته ورته نور ډېر بې شميره مثالونه شته چې ليکل يې مقاله اوږدوي. او مطلب مې دا وو چې زموږ دولتي چارواکي ډېر د زړه سوي وړ دي. چې د لاشعوره ماشومانو په څير حرکاتو يې هم ځان ريشخند کړی او هم يې نړۍ پرځان خندولي. او ولس مو هم ځکه د زړه سوي وړ دی چې استعماري ځواکونو داسي نا اهله وګړي په وچ زور ورباندي مسلط کړي دي. « و الی الله المشتکی و به المستعان»

پای...........!

بي بي سي!
او حقایق ..... ویل... !!

له هغه وخت چې امریکا په موږ یرغل کړی ترځنګ یې هم مهال نړیوالې میډیا او رسنیو هم په نشراتي ډګر کې دفکري، عقیدوي اوسیاسي یرغل ناتار پیل کړی چې دامریکا یې عزایمو په دفاع او تبلیغ کې له امریکا هم دوه ګامه مخکې غورځې، تیرو ۱۶ کالو کې نړیوالورسنیو دصلیبي ځواکونو په خدمت کې یوه موقع هم له لاسه ورکړې نه ده اوهمیش یې پر واز کومي څرګند حقایق مسخ او سپین ته د تور ویلو جسارت یې کړی!

هرچیري چې یرغلګردرومي نړیواله میډیا ذهنیتونه جوړوي ولسونه دلویدیځ له پوځي غلبې او برترۍ مرعوبوي او ورته امریکا او اروپا دړناګانو دنګ منارونه ښیي

په حقیقت کې د میډیا ددې تحرکاتو ترشاه دلویدیځ پلان شوې سازماندهي شتون لري ځکه د دوهم نړیوال جنګ وروسته غربي هېوادو او ولسونو داپریکړه په ګډه کړې چې له دې وروسته د هیوادونو دنیولولپاره به د پوځیانو لیږ دول کموي اود دمیډیا او رسنیو په مټوبه دهیوادو دننه ذهنونه او زړونه خپلوي اوبیا به که اړتیا وربانديې فیزکي یرغلونه به کوي

هم دې اصل ته په کتو سره کله چې امریکا په افغانستان دیرغل تابیا وکړه ترهرڅه دمخه یې میډیا ته دنده ورکړه چې دطالبانو او مجاهدینو پرضد دومره زیات دروغ او پرپاګند وکړي چې نړۍ کې دهر سړي یقین راشي چې امریکا هرڅه کوي دبشري حقوقو ددفاع لپاره یې کوي دنړیوالو قوانینو په رڼا کې یې کوي افغانانو او افغانستان ته نجات ورکوي، پکې بیا رغونه پیلوي، په دې تیر ایستونکي تبلیغ او پروپاګند کې دبې بې سې نړیواله راډیو ترنورو وړاندې وه دطالبانو او مجاهدینو په خلاف او دامریکا په ګټه او دفاع کې یې دومره درواغ وویل چې په بشري تاریخ کې ساری نه لري.

بې بې سې له خپلې لارې امریکایې اهداف او ارادې په داسې بڼه بیرون ته منعکس او انځورولې، چې په اوریدو یې دهرسړي داباور راته چې امریکا به دخپلو راتلو سره ټوله سیمه او وطن سمسور کړي افغانستان به په ترقۍ کې له جاپان هم مخکې شي او دیته ورته د دروغو شنه باغونه او څراغونه یې افغانانو او نړیوالو ته پخپلو خپرونو کې ښودل

په کومه شیبه چې امریکا مستقیماً یرغل شروع کړ، بې بې سې په واز کومي دامریکا یرغل بدرګه کړ او ګام په ګام یې دامریکایانو دوحشیانه عملیاتو په ملاتړ او دهغوی دبریدونو په هدفمنتوب او دقیقتوب یې دنطاقانو خولو ژاولې کړې وې اودطالبانو په تلفاتو او زیانونو کې له حده ډیره او کرکجنه مبالغه کوله

دتیرو شپاړس کلو په اوږدو کې چې دامریکا په مشرۍ دنړیوالو ځواکونو او طالبانو ترمنځ دتاریخ ترټولو اوږده جګړه دوام لری بې بې سې دامریکا او نړیوالو قواوو په ملاتړاو ملتیا ږلاړه ده که نړیوال ځواکونو افغانانو وژل، ځورول، دهغوی کورونه ړنګول او دښځو، ماشومانو او سپین ږیرو په ګډون یې هغوی شهادت رسول بې بې سې دا اهر څه دتروزم په ضد جګړه بلله بې بې سې په من وعن دامریکا وحشتونه او ظلمونه ستایل او دبري لپاره یې هغومره لالهانده وه څومره چې په جګړه کې ښکېل هېوادو نه وو

لنډه داچې بي بي سي په داټوله موده کې نه دنړيوالو ځواکونو ظلمونو او وحشتونو ته ګوته اونيوه او نه يې په اړه واقعيتونه دخلکو سره شريک کړل چې ټول داستان راسپړل جلا وخت غواړي

رازو ديته چې په وروستيو کې دتمې اوتوقع برعکس بي بي سي يو داسې راپور خپور کړ چې زما په څېر ډېر اوريدونکي يې په اووريدو حيران کړل، چې بي بي سي او رښتيا ويل... خو لري خبره ده...؟ بي بي سي راپور ورکړ چې: دافغانستان په سلو کې اويا سلنه خاوره طالبان کنټرولوي!!

دبي بي سي دا څېړنه له دې پلوه حيرانوونکې نده چې بي بي سي پکې له مبالغې کار اخيستی بلکې په دې چې بي بي سي خو رښتيا نه ويل دا څنګه ويلې!! او په دې راپور کې يې څنګه رښتياوو پام شوی؟ خوبيا هم دمجاهدينو او طالبانو لپاره ياد راپور يوښه لاسوند ثابتيدای شي ځکه دا دطالبانو کومې سرچينې ندی ترتيب کړی بلکې هغه چا خپور او جوړ کړی چې هغه په ۱۶ کاله جنګ دامريکا سره قدم په قدم مله ده

بي بي سي وايي: ديوې څېړنې په ترڅ کې يې جوته کړې چې دهېواد په سلو کې په اويا سلنه خاوره طالبان (يعنې اسلامي امارت) څرګندواک او نفوذ لري دبي بي سي په وينا: طالبانو داپرمختګ په داسې وخت کې کړی چې دڅه باندې يوې نيمې لسيزې راهيسې دامريکا په مشرۍ نړيوال ځواکونو دهغوی دماتولو لپاره په ملياردو ډالر لګولي

ياد راپور دتير ۲۰۱۷زکال په پای کې داکست له ۲۳مې دستمبرتر ۲۱مې پورې دافغانستان په ټولو ۳۹۹ ولسواليوکې دبي بي سي خبريالانو لخوا د۱۲سوه سيميزو سرچينو سره دغږيدو وروسته چمتو شوی، يادې مودې کې دبريدونو جاج يې اخيستی او بيا ترلاسه شويو معلوماتو په اړه له دوه وو نه ترشپږو سرچينو څخه تاييد ترلاسه کړی او په ځينو پيښو کې آن دبي بي سي خبريالان دموتړونو هڅو ته هم تللي څو هلته دلرې پرتو ولسواليو او سيمو څخه راغليو خلکو سره دخبرونو سپيناوي په اړه اوغږيږي، داړپور پايلې ښيي چې ۱۵مليونه خلک چې دټول ولس نيمايي جوړوي يا په هغو سيموکې ژوند کوي چې دطالبانو دڅرګند واک لاندې دي او يا په هغو سيمو کې ژوند کوي چې پکې طالبان په ښکاره ګرځي او بريدونه کوي دبي بي سي لخوا ترسره شوې څېړنه ښيي: اوس مهال ۱۴ولسواليو بشپړواک دطالبانو په لاس کې دی چې دهېواد ۴سلنه خاوره کېږي او ۲۶۳ ولسوالۍ چې ۶۶سلنه کېږي داسې دي چې پکې طالبان فعال، څرګند او فيزکي شتون لري چې دا دطالبانو په اړه دپخوانيو پرتلنو په خلاف خورا لوړدی

راپور کې دطالبانو دمالي سرچينو په اړه ويل شوي چې هغوی دخلکو، سوداګرو، او نورو ماليه اخلي او وربانـدې خپلې جنګي اړتياوې پوره کوي

بيشکه پورته راپور ترډيره واقعبينانه دی او پکې دامريکا په مشرۍ دنړيوالو ځواکونو او دکابل رژيم هغو درواغجنو دعوو ته ښه ځواب دی چې دطالبانو دماتې په اړه يې کوي رښتيا هم امريکا او دهغې په مرسته ولاړ حکومت په هېواد کې دشړيدو او نړيدو په حال کې دی په مقابل کې يې مجاهدين په عالي مورال سره ګام په ګام برياوې ترلاسه کوي او په دښمن باندې دژواندانه کړۍ تنګوي او هغه وخت نيږدي چې دبي بي سي په څېر نورې نړيوالې خبرې ادارې هم دواقعيتونو منلو ته غاړه کېږي او په افغانستان کې دروان نامشروع جنګ په اړه حقايق له نړيوالو سره شريک کړي

پای

دسولې نارې

دجګړې تودولو په موخه !!

خليل - عزيز

دکابل رژیم بې توازنه ولسمشر! تېره اونس دسولې شورا له میکرافون څخه وویل چې سوله له هغه چاسره کوي چې دده په فکر اوخیال دوئ ته تسلیم شي او هم سوله په دې معنا نده چې دوئ به هرڅه هیروي، بلکې انتقام اوغچ به خامخا اخلي!!؟

هسې خوهم هر چاته لکه لمر روښانه اوښکاره وه چې داشرف غني او یا د موجوده دوه سري رژیم په انتخاب کې دامریکایانو اهداف دا وو چې دوئ په ماموریت اوچترلاندې به په اسانی وتوانیږي په افغانستان کې دجګړې لمبې پراخې اونوري شغلوري کړي اوپه هغوټولووحشتونواوجنایتونو چې امریکایان یې دخپلو ستراتیژیکو او اوږد مهالو اهدافو دپلي کولوپه نیت دلته ترسره کوي په هغوبه په کراری پرده اچوي

دغه رازبه امریکایان په مشخص ډول داشرف غني له اسلام دښمنه جرات اوسیوري لاندې هڅه کوي ترڅو دیو لړنمایشي اقتصادي پروژو په تبلیغولو سره دافغانانو دینی اوملي غرور وځپي او د افغانانو د جهاد او مقاومت افتخارات دګاونډي هیواد پاکستان په لمن کې وغورځوي په دې معنا چې خدای مکړه افغانان ددې همت اوجذبه نلري چې اشغالګرو اودهغو ګوډاګیانوته غاښ ماتونکی ځواب ورکړي بلکې دا پاکستان دی چې په افغانستان کې دامریکایانو اوسپر پاور په مقابل کې جنګ او مقاومت کوي.

په همدې ډول امریکایانوغوښتل خپل ولس قانع کړي چې په اصطلاح قرباني اوزیانونه یې بې ځایه ندي تللي نو داسې یوڅوک یې دافغانستان دواک په مسندکیناوه چې نوم او عنوان یې دافغان دی خوپه عمل اوزړه کې تردوغوړونو پوري د عیسویت منسوخ دین ته ژمن اووفادار دی اودهمدې وفاداری څرګندثبوت به لدې څخه بل څه وي چې دهغه ولسمشرمیرمن چې دوئ راوستی هغه یوه متحرکه عیسوی ووسي نوکه ولسمشرخاوندیې سل په سله عیسویت ته کارونکړي پنځوس سلنه خوحتما دعیسویت اوکلیساالپاره خپل کړه وړه اوهلې ځلې استخداموي.

دافغانستان په تاریخ کې کومه ښکاره کلیسانه وه ترسترګوشوي؛ خو دا اشرف غني ووچې په ارګ کې یې په ښکاره ډول خپله میرمني ته کلیسا جوړه اوودانه کړه.

نوچې یوڅوک تردومره حده عیسویت اوامریکاپال وي هغه سره به د مظلومو افغانانو د نجات او سوکالی اویاد هغوئ دمقدساتو او ارزښتونوڅه غم اودرد په زړه کې موجود ووسي.

اشرف غني که دخپل هیواد اوولس له سولي اوکراری سره لګه خواخوږي اوعلاقه هم درلودی هغه به هیڅکله له هغه ستیج اومکرافون څخه خپل جانب مقابل ته سپکې سپورې نه وای ویلای اونه به یې اخطارونه ورکړي وچې دهغه ستیج اوبنسټ دنده سوله، روغه اویا تفاهم ده

داشرف غني له ورستیو کړکرو اوخبرو بریښي چې هغه اوباداریې د سولي ادرسونه هم د جګړې دتودلو لپاره کاروي او څوک یې چې هلته کینولي دهغودنده اومکلفیت هم داورپه ګوته کوي چې یواځې به دهغې سولي لټه اوهڅه کوي کومې سولي اوروغې ته چې امریکایان ضرورت لري نه افغانان!!

امریکایان اوهم یې مزدوران بائیدپوه شي چې په افغانستان کې روانه جګړه په زور نه ګټل کیږي او نه دا خبره منطق اوعقل مني چې له زرګونه کیلومتره لریوهیوادددې دلته له زرهاوو اشغالګروپوځیانوسره پروت وي اوهره ورځ دې دخپل جنګي ماشین اوتکنالوجی تمرینات زمونږ په مظلوم ولس ترسره کوي اوبیا دې ددې هیله اوتمه هم ولري چې څوک دي ددوئ په مقابل پاڅون نکوي اوژامي دي نه ورماتوي.

اتاترک (مصطفی کمال پاشا) چې مړ شو...!

#بشیر

مصطفی کمال (اتاترک) د برتانیې او متحدینو په کومک اودهغوی لمسون ترکیه کې د عثماني خلافت پای اعلان کړاو پر واک یې خپله منګلې خښې کړې هو! نه یواځې اسلامي خلافت یې ړنګ کړ بلکې داسلام ریښې یې وویستې! په اسلامي احکامو، دعظیم الشان قرآن په تلاوت، دیني مدرسو کې داسلامي علمو په تدریس او دتصوف پر مرکزو (خانقاوو) یې کلک بندیزونه او قیوادت ولګول

دهغه دواک په موده کې ترکیه کې داسلام یا شریعت پیروي کول مرګ ته دبلنې مرادف عمل و، په ښکاره اوپټه چاته په اسلامي حکمونو دعمل کولو اجازه نه وه، هرڅوک به که ولیدل شو لمونځ کوي او یابل کوم اسلامي حکم باندې عمل کوي سملاسي دپولیسو لخوا نیول کیده او ورته اذیتونه او تعذیبونه یې ورکول تردې چې په مرګ هم محکوم کیدای شو

ترکیه تر شاوخوا اتوپیړیو پورې دګردې اسلامي نړۍ سیاسي قبله وه، اتاترک دکفر او سیکولرزم پلازمینه اوګرځوله، هغه ترکیه چې یو مهال دمسلمانانو ددفاع اوفریاد اوریدو مرکز و، اتاترک دملحدینو په مرکزیت بدله کړه أن هلته په ښکاره داسلام نوم ونشان هم پاتې نشو

دا چې دتل لپاره داسلام ریښې په ترکیه کې زرغون نشي علماء او طالبان یې په نښه کړل او دمختلفو دسیسو په جوړولو یې په لکونو علماء او ملایان په شهادت ورسول یو وار حج او حرمینو شریفینو ته دلیږلو په پلمه یې دهېواد له ګوټ ګوټ په زرګونو علماء راټول کړل، سمندري بیړۍ ته یې پورته کړل، بیړۍ چې څه مهال دسمندرمنځ ته ورسیده، هلته یې اوبو کې ډوبه کړه اوسپاره ټول دیني عالمان یې شهیدان کړل.

په ترکیه کې د بیرته پاتې علماوواومدرسو طالبانو دوژلو په موخه یې دښارونو او کلیو په لارو او کوڅوکې بیړني محاکم جوړکړل او پکې قاضیان یې ددې لپاره ګومارل چې مطلقاً په نوم عالم، ملا او طالب دې ونیول

شي او محکمې ته وړاندي شي او قاضيان دي ورته دځنډ پرته دمرګ سزاوې ورکړې اوپه سزاګانو دي فی الفور عمل او اجرآت اوشي، دي سره قاضيانو په زرګونو علماوو او طالبانو ته دمرګ سزاګانې ورکړې او په شهادت يې ورسول

دسيکولرزم دبقاء او پایښت لپاره يې ټول حکومتي ماشين په کار اچولی و، د رسمي دين په توګه يې د اسلام حيثيت لغوه کړ، په عظيم الشان قرآن او اسلامي زده کړو يې بنديزونه پلي کړل غربيانو به داتاترک داګامونه ليدل ورته يې داد ورکاوه. مډالونه يې ورکول، اروپا کې دترکيې دګډون لالچونه يې ورکول او هغه يې ديو کامياب رهبر په لقب يادکړ ليکن داتاترک ترمرګه دهغه يوه ارزو پوره نشوه نه ترکيه په اروپه کې او منل شوه او نه ترکان يومخ داسلام نه لاس په سرشول، دځه مودې اووخت لپاره مسلمانان مغلوب ضرور شول خو دهغه دمرګ وروسته کار کرار بيا پکې داسلام غيرې ته راغلل او نن دی که سبا پکې داسلام دنشأة ثانيه دور په راتلو دی غربيانو ترکان داسلام نه لرې کړل خو ترکانو داسلام سره خپله رشته قطع نکړه اونه داسلامه بې پروا شول

نو اتاترک داسلام او مسلمانانو سره نه بښونکې دښمني وکړه او په مسلمانانو يې درانه ظلمونه وکړل ليکن الله تعالی هغه په دنيا کې هم رسوا کړ او هم په اخرت کې به (انشاء الله) ورته سخت عذاب اوځکوي

ددنيا رسوايې دا وه چې کله مړ شو، قبر اوکندل شو او جسد ورکوزکړ، دخدای په حکم زمکې ملعون جسد بيرون وغورځاوه! بيا يې ور ښکته کړ زمکې بيا هم ورسره هغسي وکړل، مجبورا يې دزمکې پر مخ دفن کړ نن که څوک ترکيه کې دهغه قبرته ورشي اوبه ويني چې هغه دزمکي په سر ښخ دی داد خدای عذاب و چې په دنيا کې يې دهغه جسد دومره سپک کړچې زمکې هم قبول نکړ

زموږ په هېواد کې دامريکا په مټو داتاترک بې دينه سيکولرلمسيان لګيادي اسلامي شعاير توهينوي، علماء او طالبان په شهادت رسوي او د ژوند په ټولو برخو کې دکفر په پلوی کار کوي، دافغانانو دين، عقيده او مذهب بدلوي او هيڅ قسم شرم او خجالت په دي کارو نه ورځي موږ ورته وايو داتاترک له بد انجامه عبرت واخلئ دکفر په غلامۍ خپله دنيا او اخرت مه خرابوئ اوس دتوبې دروازه خلاصه ده توبه اوباسئ سبا به مو توبه هم نه قبليږي.

پای

دهندي رسنيو په راپور کې ویل شوي: هغه متعصب هندو چې د بابري مسجد شهیدولو پرمهال يې په مسجد له نورو هندوانو ړومبی برید کړی و مسلمان شوی او اوس دخپلې کړې گناه دکفارې په نیت دسلو مسجدونو د جوړولو هوډ يې کړی او دهغو له جملې نه يې د۹۰ څخه زیات مسجدونه جوړکړي او دپاتې نورو دجوړولو اراده لري

ددغه شخص پخوانی نوم بلبي سینګ ښودل شوی او اوس يې اسلامي نوم محمد عامر دی، هغه خپله رسنيو ته ويلي: زه دبابري مسجد شهيدولو په گناه کې شريک او ترټولو ړومبی وم، کله چې مې په مسجد د خپلې کاهی گذار وکړ ورسره مې زړه يو دروند ټکان وکړ اوپوشوم چې زه په يوه گناه کې ښکېل يم، څه موده وروسته زما يو ملگری چې هغه هم دبابري مسجد په شهیدولو کې شریک و لیونی شو، ډاکټرانوته مو بوته خو روغ نشو، زه هم ډارشوم هسې نه زه هم دهغه په څېر شم، شپږم میاشتې وروسته الله تعالی راته دایمان او اسلام ربا نصیب کړه دخپلې مور او میرمنې سره مې اسلام قبول کړ اوس غواړم دخپلې کړې گناه دکفارې اداء کولو په نیت سل مسجدونه جوړکړم چې پکې له نویو څخه زیات مې جوړ کړې او پاتې نور به هم دالله تعالی په توفیق ژر جوړشي

نوموړی وايي: هغه مهال چې هندوانو په بابري مسجد هجوم وروړو زه له ټولو مخکې وم اوپه جنون وم ترنورو بریدگرو ړومبی برید گر زه وم او په مسجد مې دخپلې کاهی گذار وکړ په دې سره زړه کې مې ټکان او نا ارامي پیداشوه

دې حالت او د زړه بدوالي ځورولم، وجدان ملا متولم! اخر پو شوم داسلام راوړو پرته بله چاره نلرم، هغه و چې دخپلې کورنۍ سره یوځای مې اسلام قبول کړ دهندي میډیا په قول: بابري مسجد باندې دبرید کونکو له ډلې ۲۷ تنو نورو هندوانو هم اسلام قبول کړی او پخپل کار يې پښیمانتیاښودلې

بابري مسجد مشهور مغول پاچا ظهیر الدین محمد بابر ته منسوب او دهند په اترپردیش ایالت کې تریو ټولو لوی مسجد و، یاد مسجد د۱۴۸۳ - ۱۵۳۱ ز پورې د ظهیر الدین محمد بابر په حکم داترپردیش ایالت په ایودیا نومي سیمه کې جوړ شوی و، بابري



مسجد دمغولو دوخت د تعمیراتو فن له پلوه یوبیساري شاهکار و، چې په منځ کې یوه لویه گنبذه وه او شاو خواتريې دوه نورې وړې گنبدې وې دا تاريخي او عمراني شاهکار مسجد په کال ۱۹۹۲ زکې دمتعصبو هندوانو له لوري ديو هجوم په ترڅ کې شهيد کړای شو

بابري مسجد شهيد ولو ترشاه دهندوستان اوسنی واکمن گوند بهارتیه جنتا گوند او ددغه گوند يو مشر ايل کی ايډ واني په مشرۍ دمتعصبو هندوانو تنظيمونه وو هغوی له څه مودي راهيسي دبابري مسجد په ځای درام مندرجوړلو لپاره تحريک روان کړی و

د ۱۹۹۲ زکال په ددسمبر په۶مه نيټه د نيږدي دوه لکه هندوانو هجو م په بابري مسجد باندې په داسې وخت کې يرغل وکړ چې تري شاوخوامنيت لپاره دهند پوځيان ولاړ وو او هم پکې داوسني واکمن گوند لوړپوړي مشران دايل کي ايډواني په شمول ترنورو مخکي روان وو، هندوانو بابري مسجد شهيد کړ، او دهغه په ځای رام مندر تعمير کړ، ددې په خلاف دهندوستان دننه او بيرون دمسلمانانوغبر گونونه راوپاريدل دهندوستان په ډيلي او ممبي او نورو ښارو نو کې له دوه زره نه زيات مسلمانان شهيدان کړای شول

دهغه مهال راهيسې بابري مسجد شهيد اوپه ځای يې درام مندر جوړ دی، مسلمانانو يې پرضد دهندوستان سترې محکمې ته قضيه ويوړه، ستره محکمه کې قضيه پرته ده دواړه لوري (مسلمانان او هند وان) ديوبل مقابل دي په ښکاره مسلمانانو شکست اوخوړ او هندوان غالب شول بابري مسجد شهيدشو مسلمانان مغلوب شول خو اسلام چې دفطرت دين دی او دغلبې او بري لپاره راغلی غالب شو، فاتح شو هغه سړي چې بابري مسجد شهيدولو لپاره يې ړومبی بريد کړی و دهغه زړه يې دځان په وراندې مات کړ، اوس هغه دبابري مسجد محافظ او مدافع دی، دهغه باطن ته د ټکانونو په ورکولو يې د خپلو تولو کړو وړو توبه گار کړ، نن مسجدونه جوړوي! اسلام ته خلک رابلي! دا داسلام معجزانه بريا او غلبه ده که دبابري مسجد په جگړه کې مسلمانان مات شول خو اسلام فاتح شو او په هندو ايزم يې بری ترلاسه کړ

مسلمانانو! داسلام بريا مبارک شه!

مکروه! د شریعت په رڼا کې

م: عثمان الدين

شرعـي احكـامو پـه لـړ كـې د [حلال وحرام] سره يوځای [مكروه] لفظ هم زيات راغلی، عامو خلكو تـه مكـروه اصطلاح شرعـي مفهـوم لـه پلـوه (دحـرام و حـلال پشـان) پـوره ښكاره نده، ډېر ځـلي خلـك دمكـروه دحقيقـت، تعريـف او دثبـوت پـه اړه يـې پوښـتنې هـم كـوي لـه ځينـو پوښتنو او خبرو دا سې ځرګند ېږي چې ځيني يې دفقهـاوو ايجاد بـولي نـو ځكـه دلتـه د مكـروه پـه اړه لنـډ وضاحت كولواړتيا بريښي.

پـه اسا سـی توګـه داسـلامي شريعت حكمونـه دوه ډولـه دي ديـو ډول نـوم دی [مـامورات] دبـل دی [منهيات] مامورات هغـو احكـامو تـه ويل كېږي چې پكې ديو دكار پـه اړه دكولـو حكـم شـوی وي او منهيـات هغو احكامو ته ويل كېږي چې پكـې ديوكار پـه اړه د نـه كولـو حكـم شـوی وي، احكامات كه دماموراتو له قبيلې ځخـه دي او كـه دمنهيـاتو لـه ډلـې، دمراتبـو او درجـاتو لـه پلـوه يوشـان نـدي بلكـې پـه مختلفـو مراتبـو او درجـاتو ويشـل شـوي او دا درجـه بندۍ فقهاوو له ځانو نده كړې بلكې لـه نصوصـو ثابتـه ده او د دې درجـه بنـدۍ هـدف دامت لپـاره دعمـل لـه پلـوه اساني او سهولت راولـي، ښكاره ده كـه دشريعـت ټولـو احكـامو يـوه درجـه لرلـی نـو دامـت لپـاره بـه يـې ترسره كول اسان نه و، پـه دې وجـه يې په مختلفو درجو كې ويشلي، ځو د امت لپاره وربانـدې پـه عمـل كـې سهولت او اسـاني وي البتـه لـومړی دعمـل لپـاره دهغـو پيژنـدل ضروري دي او پـه ټـوليزه توګـه دامـت لپـاره ديـادو احكـامو مراتـب او درجـې پيژنـدل يـو ضروري كـاردی، پـه دې وجه فقهاوو نصوصو كې غور او فكر وروسته داحكاموپـه ډولونـو او دهغـو پـه درجـو كـې د هـر ډول او هـرې درجې لپـاره نـوم او اصطلاح ټـاكلي ځو دامت لپاره دهغو په پيژندلو او ور باندې په عمل كولو كې ستونزه نـه وي

پـه دې توګـه فـرض، واجـب، سـنت، مستحب اونـور اصطلاحات فقهـاوو نصوصـو كـې پـه غـور كولـو مختلف اقسام داحكامو پيژندلو لپاره نومولي، دكومو په وجه چې نن امت تـه وربانـدې پوهيدل او وربانـدې عمل اسان دی داحكامو دهـم دغو ډولونـو ځخه يـو ډول هغـه دی چې فقهـاوو دمكروه په نوم نومولی

دروضـــة النـــاضر پـــه شرح [اتحاف ذوی البصائر] كې دي:

قوله (وهو اقسام أيضاً) أقـول: اِن الحكـم الوضـعی ينقسـم د الـی

أقسام كما انقسم الحكم التكليفى الى أقسام وقد سبقت وهى الواجب والمندوب والمباح والمكروه والحرام.... الخ. (اقسام الحكم الوضعى، جلد: ١ص: ٥٤١، ط: مكتبة الرشيد رياض)

دمکروه تعریف:

دلغوي معنی په اعتبار مکروه ناخوښ ته ویل کېږي، دشریعت په اصطلاح کې دمکروه حقیقت او تعریف پیژندلو لپاره لومړی پیژندل پکاردي چې اشیاء دحکم په اعتبار درې ډوله دي:

١.... ځیني ځیزونه هغه دي چې ممانعت یې دقطعي نص نه ښکاره ثابت دی دغسي څېزته حرام ویل کېږي

٢.... ځیني ځیزونه داسې دي چې په قطعي نص سره یې ښکاره جواز ثابت وي یا داچې ممانعت یې له هیڅ نص څخه نه وي ثابت دغسې څېزونوته حلال ویل کېږي

٣.... ځیني څېزونه داسې دي چې د جواز او نه جواز په اړه یې دواړو لوروته دلایل شتون لري چې دهغو په وجه نه ورته پوره حلال ویل کېږي او نه حرام، کوم څېزونه چې له دغه ډول څخه وي فقهااوو هغولپاره دمکروه اصطلاح کارولي.

پورته تفصیل سره سم مکروه هغو ځیزونوته ویل کېږي چې داجازت او ممانعت دواړو په اړه یې دلایل شتون ولري او په همدې وجه په مکمله توګه نه حلال او نه حرام ګرځول کیدای شي، ځکه دغسي-شیان دشریعت له پلوه حرام ندي لیکن ناخوښ ضرور دي په دې وجه فقهاءِ کرامو دمکروهاتُ په نوم نومولي

دمکروه ثبوت:

مکروه په اړه دپورتني تفصیل په رڼاکې اوس لاندې دوه احادیث راوړل کېږي چې دمکروه په باب دنور وضاحت سره له احادیثو هم ثبوت روښان شي:

حدیث شریف دی:

عن النعمان بن بشیررض قال: قال رسول الله ﷺ: الحلال بین والحرام بین وبینهما مشتبهات لا یعلمهن کثیر من الناس.... الحدیث (مشکوة المصابیح، باب الکسب وطلب الحلال ص: ٢٤١، ط: قدیمي)

حضرت نعمان بن بشیر رضي الله عنه راوي دی رسول الله ﷺ فرمایلي: حلال ښکاره دي او حرام هم ښکاره دي او ددواړو ترمنځ مشتبه څېزونه دي چې دهغو په باره کې ډیرخلک نه پوهیږي....

یاد حدیث کې دحکم په اعتبار درې ډوله څېزونه بیان شوي کوم چې وړاندې یادشول دهغونه په دریم ډول څېز کې دجواز او ممانعت دواړو په اړه دلایل شتون لري په دې وجه په حلال یا حرام ویلو کې اشتباه راځي، له امله ورته متشابهات ویل شوي، فقهاءِ کرامو دغه ډول څېزونه په فقهي اصطلاح سره [مکروهات] یادکړي او ددي حدیث نه دمکروه ثبوت په ښکاره جوتیږي. په شرح الطیبي کې دي:

قوله الحلال بین والحرام بین معناه أن الأشیاء ثلاثة: حلال بین واضح لایخفی حله کالخبز والفواکه وغیر ذلک من المطعومات وکذلک الکلام والنظروالنکاح والمشی وغیر ذلک من التصرفات وحرام بین کالخمر والخنزیر والمیتة والدم المسفوح وکذلک الزنا والکذب واالغیبة والنمیمة والنظر الی الأمرد والی الأجنبیة وأشباه ذلک والمتشابه هو الذی یحتمل الأمر فاشبه علی الناظربأیهما ملحق والیه أشار بقوله:

لايعلمهـن كثيـرمن النـاس (شرح الطيبـــى، ج: ٦، ص: ۵۹ط: ادارة القرآن).

درســــول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ ارشاد: حلال ښکاره دي او حرام هم ښکاره دي، ددې مطلب دادی چې څېزونه درې ډوله دي: لومړی ډول: ښکاره حلال، چې دهغو په حلت کې هـيڅ اخفـاء نـه وي لکـه ډوډۍ او میوې او پـه دې عـلاوه دخوړو نـور څېزونـه، هـم داسې خبرې اتـرې، لیـدل، نکـاح کـول، تلـل او نـور... دوهـم ډول: حـرام هـم ښکاره دي: لکـه شراب، خنزیــر، مــرداره، بهیـدونکې وینـه، هـم داسې زنـا، دروغ، غیبت، چغلي، بې ړیرې هلک او اجنبي میرمنې تـه کتـل او داسې نـور اعـمال او دریـم ډول: متشـابه دي، کـوم چــې د دواړو (دحــل او حرمت) احتمال لري څکه په کتونکې باندې اشتباه راځـي او ورتـه يـې پـه لايعلمهـن كثيـر مـن النـاس... تصریـح وکـړه چـې اکثریـت خلـک وربانـدې نه پوهیږي....

دوهم حدیث:

عن ابن عمر أن النبی صلی الله علیه وسلم سئل عن الضب فقال: لا آکله لاأحرمه (ترمذی ج: ۲ص: ۱ط: سعید)

حضـرت ابـن عمـر رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُ نـه روایـــت دی چـــې درســـول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ نه دڅمڅیارې په اړه پوښــتنه اوشـــوه رســـول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ وفرمایـل: زه يـې نـه خورم او نه يې حرامه ګرځوم

صـحابه وو رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُمۡ درسـول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ نه دڅمڅیارې دحل او حرمت پـه اړه پوښتنه وکـړه. رسـول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ پـه ځـواب کـې هغـوی تـه وفرمایـل: زه پخپلـه څمڅیاره نه خورم! او دامت لپاره يې حرامـه ووم هـم نـه، درسـول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ ددې ځـواب نـه د [مکروه] اصطلاح ثبوت په ښه توګه کېږي څکه رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ څمڅیـاره حرامـه نـده ګرځـولې خـو تـرې پخپلـه يـې دخـوړو څخـه ډډه کـړې نوپـه داسې صـورت کـې څمڅیـــاره دنـــورو حلالـــو او پـــاکو څېزونوپشـان پـوره پاکـه او حـلال څېزڅنګـه کیـدای شي بلکـې عقـل پخپله ددې خبرې فیصله کوي چې دحلال او حرام ترمنځ یوه درجه شته او څمڅیاره دهمدغه منځنې درجې څېزدی، همـدا منځنـی درجـې تـه فقهاوو رَحِمَهُمُٱللَّهُ مکروه ویلې هم دا وجه ده چې داحنافو فقهاوو رَحِمَهُمُٱللَّهُ په نـزد څمڅیـاره خـواړل مکـروه دي

څنګه چې علامه انورشاه کشمیري رَحِمَهُٱللَّهُ پـه العـرف الشـذی کـې فرمایلي:

وهـذه مكروهـة عنـدنا وقـال فقهائنا بكراهة تحريمیـة ومحـدثوننا بكراهة تنزيهية

(سنن ترمذی ۲ټوک ۱مخ)

دمکروه ډولونه او دهغو حکم

دفقـې کتـابونو کـې لـه مکـروه سره [تنزیهي یا تحریمي] الفاظ هم ځای په ځای کارول کېږي په اړه يې لاندې وضاحت مناسب دی:

مکروه بـاره کـې څنګـه معلومـه شوه دجوازه او نه جواز دواړو دلایـل شـتون لـري او دواړو سره مشابهت لري په دې وجه فقهاوو مکروه پـه دوه ډولـــو ویشــلی..... تنزیهـــي مکروه..... او تحریمي مکروه

تنزیهي مکروه.... هغه مکروه ته ویل کېږي چې دممانعت په مقابل کې دجواز دلایـل غـالب او قـوي وي په دې وجه دحرامـو پـه نسبت هغـه حلالو ته زیات نیږدې وي

تحریمي مکروه..... تحریمـي مکروه هغه ته ویل کېږي چې ددې بـرعکس وي یعنـې پکـې دممانعت دلایل دجواز په دلایلو غالب او قـوي

وي اوله دې وجې نه حرامو ته ډېر نیږدې وي

دلومړي ډول حکم دادی چې ورنه اجتناب غوره او دجر وثواب باعث دی البته دارتکاب په صورت کې مرتکب يې ګناه ګار ندی او دوهم ډول حکم دادی چې ورنه اجتناب کول ضروري دی او مرتکب يې ګناهګار دی په مجموعة قواعد الفقه الحنفیه کې دي:

الکراهة شرعاً کون الفعل بحیث یکون ترکه أولی مع عدم المنع من ذلک الفعل ویسمی مکروهاً وهونوعان: مکروه کراهة تحریم ومکروه کراهة تنزیه فألاول عند الشیخین ماکان اِلی الحرام أقرب والثانی ماکان اِلی الحل أقرب کذافی کشاف المصطلحات، ومعنی کرهت الشئ اِذالم ترده ولم ترضه (مجموعة قواعد الفقه الحنفیة ۴۴۱-۴۴۲مخ)

په شرعي توګه دکراهت مطلب داسې يوفعل چې پريښودل يې غوره وي سره ددينه چې دهغه فعل نه يومخ منع هم نه وي شوي ددي (فعل) نوم مکروه ايښودل شوی او دا دوه ډوله دی تحريمي مکروه او تنزيهي مکروه، دشيخينو په نزد لومړی هغه دی کوم چې حراموته

ورنيږدې وي او دوهم هغه دی چې حلالو ته نيږدې وي هم داسې په کشاف المصطلحات کې ليکلي:

او کرهتُ الشئ هغه وخت ويل کېږي چې يو څېزنه رد شي او نه خوښ، داخبره په مغرب کې ويل شوي او په ياد مأخذ کې هم داشان ويل شوي:

المکروه ماهو راجح الترک فاِن کان اِلی الحرام أقرب تکون کراهة تحريمية واِن کان اِلی الحل أقرب تکون تنزيهية ومعنی القرب اِلی الحل لايستحق فاعله العتاب، بل يستحق تارکه، أدنی الثواب (ياد مأخذ ۵۰۳مخ،)

مکروه هغه دی چې پريښودل يې راجح وي که هغه حرامو ته ډېر نيږدي وي نو تحريمي مکروه دی او که حلت ته ډېر نيږدي و نو تنزيهي کراهت دی او حلالو ته دنزديکت مطلب دادی چې کونکی يې دملامتيا مستحق نه وي بلکې پريښودونکی يې دلږ ډېر ثواب مستحق کيږي

غرض داچې شرعي احکام دمرتبې له لحاظه يوشان ندي بلکې دقسمونه مختلف دي، مکروه له هغو مختلفو ډولو يو ډول دی، بيا دا چې د حکم دا قسم (ډول) فقهاوو ندی جوړ کړی بلکې له نصوصو ثابت دی او فقهاوو په نصوصو کې دغور او فکر کولو دمکروه اصطلاح ټاکلې څو امت لپاره ورباندې په پوهيدو او ورنه په ځان ساتلو کې اسانيتا او سهولت وي چې دا په امت باندې دهغوی له سترو لورينو او پيرزوينو يوه لويه پيرزوينه ده

پای

دامریکا د کانګریس ماڼۍ کې
د شکست زوږ

شهاب بریالی

څو ورځې وړاندې دامریکا کانګرس ته په یوه لیږلي راپور کې افغانستان کې دامریکا یې قواوو پټه څېره ښودلې او دلته چې دکوم حالت سره مخ دي له هغه نه یې پرده پورته کړې کانګرس ته ویل شوي: افغان دولت یواځې په ۳۰ سلنه خاوره واک لري او په پاتې نوره اویا سلنه طالبان واکمن دي!!

دامریکا سرکاري څارونکې اداري (اسپیشل انسپکټر جنرل فار افغان کنسټرکشن (سیګار) لخوا هم افغانستان کې اوسني حالت په اړه دامریکا ګانګریس نه علاوه دامریکا دفاع وزارت (پنټاګون) ته هم لیک لیږلی چې په کې دامریکایي ځواکونو په شکست اعتراف شوی دی او اندیښنه یې ښودلې چې: د افغانستان واک د دوی (امریکا) له لاسه په وتو دی.

سیګار د راپور سره سم په ۲۰۱۷ز کال کې په بریدونو، چاودنو او جنګونو کې د ۲۰۱۲ زکال په پرتله درې واره زیاتوالی راغلی او په سبب یې افغانستان کې دمیشتو امریکایي عسکرو په مرګ ژوبله کې هم زیاتوالی راغلی په ورته توګه دامریکا په ملاتړ جنګیدونکو افغان عسکرو مرګ ژوبله خوورځینې معمول دی

راپور کې داخبره په صراحت راغلې چې دافغان ولس دګټو او ژوند په خوندي کولو کې افغان دولت ناکام دی او وي نشوای کړای چې دخپلو خلکو دسرونو او مالونو خوندي کولو په غرض یو ښه مدیریت جوړ کړي.

سیګار لخوا په راپور کې راغلي: دتیرکال (۲۰۱۷) اګست کې دنوي امریکایي تګلارې اعلانولو وروسته دامریکا لخوا په هوایي بریدونو کې زیاتوالی راغلی په دې لړ کې امریکا تیر (۲۰۱۷ز) کال په اکتوبر کې ۶۵۳ ځله بمبارد کړی کوم چې د ۲۰۱۲ زکال وروسته ترټولو ډیر دی لیکن ددې باوجود دافغان دولت په واک کې زیاوالی رانغی، بلکې راپور کې خبر ورکړل شوی چې دامریکا لخوا په هوایي بمباردونو کې دملکي خلکو پرمخ زیاتیدونکې مرګ ژوبله دافغان دولت لپاره دخلکو دملاتړ راجلبولو هڅې ټکنۍ کړې او په مقابل کې دطالبانو دملاتړ سلنه ه زیاته شوې په راپور کې دملګرو ملتونو دارپور په استناد ویل شوي چې: د۲۰۱۷ زکال دمارچ نه د سټمبر تر ۳۰مې پورې ۸زره ملکیان وژل شوي په ورته توګه دامریکا په مشرۍ ایتلافي ځواکونو دطالبانو دماتولو لپاره ملیاردونه ډالر ولګول خوبیا هم تراوسه هغوی دهیواد په اویا سلنه خاوره ښکاره واک او څرګند نفوذ لري

که څه هم لاسپوڅي رژیم دسیګار پورته راپور نه مني خوحقیقت دادی چې امریکا او نور په افغانستان کې اوولس کاله نورهم جګړه وکړې او نور په ملیاردو ډالر ولګوي بیا به هم بری ترلاسه نکړي او نه به یې دافغانستان دمستعمره ګرځولو ارمان پوره شي .

داسـمه ده يوشـميرهغه افغانـان چـې ازاد ضـمير او خپلـواک وجـدان ونلري لکه اشرف غنی او نور هغوی تـه دامریکا ګټې لومړيتوب لـری او شپه ورځ دامريکـا دبـري لپـاره هڅـې کـوي ليکن تاريه شاهد دی چې هرهغه قـوم چې دازادۍ سره مينه لري او پـه ځـان دبل بـاداري نـه منـي هغـه دنـړۍ هـيڅ قدرت غلام کړی نـدی او نـه يـې ورتـه شکسـت ورکـړی امريکـا هـم نـن ديوداسې چا سره په جګړه کـې ښـکېل ده چـې هغـه دغيـرت زريـن تـاريخ او حماسي لري هغه نه وړاندې چنګيـز او انګريـز تـه تسليم شـوی او نـه يـې شوروي لښکرو دملي خپلواکي غـرور مات کړی نـن بـه صـليبي امريکـا هغـه ځنګه ماته کړي نو پـه افغانسـتان کـې دامريکـا ټـولې خـوارۍ عبـث دي، دهوايي بمباردونو پـه ډيرولـو بـه دخپـل شکست لـوری بـدل نکـړي نوښـه داده چې امريکا يې چارواکي حقايقو تـه پـه غاړه ايښـودو لـه افغانسـتانه دعسـکرو دويستلو پـر لارو چارو غـور وکـړي پـه وحشيانه بمباردونو دي وخت نه تيروي پـــه دې کـــې دامريکـــا ترخنـــګ د افغانسـتان او ټـولې منطقـې دولسـونو ارامې او خوشالې نغښتې ده!

* * *

مونږ ولې خفه يو؟!

#صفي الله " رائد "

په مادي نړۍ کې دغرقو انسانانو زړونه تنګ وي، دژوند هدف ترې ورک وي. له ځان سره مدام همدا پوښتي چې: مونږ ولې خفه يو؟! ولې مو زړونه تنګ دي؟! ولې رانه لوری ورک دی؟!

مدام ديو کار هڅه کوو! خو هيڅ نشو تر لاسه کولی؟! ولې...؟! او ولې...؟

دا اوديته ورته ځيني نورې پوښتني ښايي نن سبا دنړۍ هر وګړي ته په ذهن کې لا جوابه پرتې وي.

همدا څو پوښتنې دي، چې د هرې يوې ځواب ښايي ډېر وخت ونيسي، خو په عمومي توګه به يې دا آيت هر رنګه ځواب پوره کړی شي، چې: مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً. يعنې: کوم سړی او يا ښځه چې د ايمان په حالت کې نېک عمل وکړي، نو مونږ به خامخا پاک او سپېڅلی ژوند ورکړو.

او همدا رنګه: د الله تعالی دا قول چې فرمايي: وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ. يعنې: هر انسان بايد دا وګوري چې د سبا ورځې لپاره يې څه وړاندې کړي.

يعنې که څوک غواړي چې پاک او سپېڅلی ژوند ولري بايد د الله تعالی احکام عملي کړي او له ځان سره دا محاسبه وکړي چې:

-: آيا کله مو له خپل ځان څخه د تېر ژوند راپور غوښتی ؟! (چې څه مو کړي؟؟؟ څومره ښېګڼې مو کړې او څومره بدی..؟!!).

-: کله مو له خپل ځان څخه د تلاوت پوښتي؟! (چې آيا نن مو د قران عظيم الشان څومره تلاوت کړی؟!!).

-: ايا کله مو له ځان سره د ذکر په باب دا محاسبه کړې؛ چې نن مو څومره الله جل جلاله ياد کړ؟!

-: کله مو خپل ضمير پر دې ملامت کړی؛ چې ولې مو له بې وزلو سره مينه نشته!!! (ولې لاس نيوی نه کوو؟!!).

-: ايا د تېرې ورځې يادونه مو کله له ځان سره کړې؛ چې څو لمنځونه مو پر جماعت سره ادا کړي؟! څو مو په تکبير اولی نيولي او څو رانه قضا شوي او ولې؟!!

او دا چې: آيا کله مو له ځان سره دا فکر کړی، چې د الله تعالی دين، او اسلامي امت څومره شاته پاتې دی؟! او مونږ يې د پرمختګ لپاره څه کړي؟!

که مو پر ځان پور تنيو سوالونو ته ځوابونه وموندل؛ کيدای شي اولينيو پوښتنو ته هم ښه جوابونه پر لاس درشي.

بايد ووايم چې: زمونږ د ټولو مايوسيو او خفګانونو لوی علت همدا دی چې مونږ له خپل رب څخه لرې يو.

که مونږ په حقيقي معنا خپل رب ته ځان نږدې کړو، او په احکامو يې عمل وکړو، هم به مو دا دنيا ښېرازه وي او هم به مو هغه دنيا له خوښيو ډکه وي. ان شاءالله

په عفرين کې د ترکيې فوځي عمليات

او د امريکا ناکامي هڅې

حسن مومند

په ترکې کې دکردانو دپي. کې. کې نومې بيلتون غوښتونکي غورځنګ سره تړاو لرونکې دشام دکردانو د (پي. واي. ډي) او (واي. پي. جي) په نوم دشام نه دازادي غوښتونکو دوه مشهورو اوفعالو حرکتونو دمسلح کولو لړۍ دامريکا له لوري دڅه مودې راهيسې په ډېرۍ تېزۍ روانه ده.

دا چې يادشوي دواړه غورځنګونه دپي. کې. کې شامي څانګه ده او هدف يې يو ياني دشام اوترکې تجزيه اوددواړو پر پوله دکردي دولت رامنځته کول دي نوځکه ددوئ تقويه اومسلح کول ترکيه دخپلوګټوخلاف اوخپل امنيت ته خطربولي.

ترکې څوځله پدې اړه دخپل نارضايت اظهار کړی؛ ښه په جهر يې ويلي دي چې دا کار دترکې لپاره خطراوسراسردترکې دګټوخلاف دی او تمه يې ښکاره کړيده چې امريکا به خپلې دې خطا ته متوجې؛ له دې کارنه به تېر شي او دخپل ۷۰ کلن دوست دمعقولې غوښتنې نه به مخ وانه ړوي.

دترکې دولت وايې چې امريکا دترکې پرپوله دکردانو دترورېست حرکت P. K. K اړوند ددې دوه کردي ډلوله منځه د S. D. G په نوم نوی فوځ جوړول او مسلح کول غواړي؛ ددې فوځ شمېر به ۳۰ زرو ته رسېږي او پدې نوم رامنځته کېږي چې دکردانو دسيمو نه به ساتنه او ددښمن دحملو مخنيوی به کوي.

ترکيه وايې چې دامريکا په لمسون کردان دشام او ترکې پرسرحد دخان لپاره دخپلواک هېواد جوړولو هڅې کوي چې ددې نوې ملېشې رامنځته کول ددې هڅو يوه مهمه برخه ده.

فرانسې ته دروانېدو پرمهال طيب اردګان داتاترک پرهوايې ډګر مطبوعاتي کانفرنس ته دوينا پرمهال دشام په اړه دامريکا په همدې دوه مخې پاليسۍ سخت انتقاد وکړ او دا دوه مخيځتوب يې دامريکا لپاره دنه جبرانېدونکي تاوان سبب وګڼه.

طيب اردګان دامريکا ولسمشر ټرمپ ته اخطار ورکړ چې ددې نوې ملېشې دجوړولو او مسلح کولو نه دې تېر شي ګينې ترکې چې د"فرات ډال"په نوم دکاميابو فوځي عملياتو په نتيجه کې دشام په جبرالوس او ادلب کې خپل دښمن وځپلو همداسې به دامريکا په لاس دا رامنځته کېدونکې ملېشې هم دفوځي اقدام په نتيجه کې له منځه يوسي.

اردګان زياته کړه: دامريکا په طيارو او لويو لاريو کې چې کردانوته کومې وسلې راځي اوس هغه په تور بازار کې خرڅېږي نو امريکا چې کوم ښامار ته پې ورکوي يوه ورځ به همدا ښامار امريکا وچيچي.

خو امریکا نه یواځې دا چې دترکې غوښتنو ته یې التفات ونکړ بلکې په اور یې تیل هغه مهال وپاشل چې کله په شام کې دامریکایې عسکرو مشر اعلان وکړ چې دشام او ترکې سرحدونو سره څېرمه به د S. D. F په نوم دکردانو د ۳۰ زرو نوی سرحدي فوځ ژر تر ژره مسلح او فوخي روزنه به ورکړي.

دترکې دبانديو چارو وزیر مولوچاوش اولو خپل امریکایي سیال ټلرسن سره پدې اړه تلیفوني تماس ونیو؛ له خپلې اندېښنې یې خبر کړ او دداسې کړنې نه یې امریکاته دنه کولو مشوره ورکړه.

ټلرسن خپل ترکې سیال ته داطمینان ورکولو غولونکې هڅه وکړه او ویې ویل چې درسنیو په خبرونو او راپورونو دې یقین نه کېږي؛ امریکا دکومې نوې ملېشې دجوړولو پلان نه لري.

ددې خبرو په خواب کې چې چاوش ټلرسن ته په شام کې دامریکایې قواوو دقوماندان خبرې رامخې ته کړې نو هغه خان پدې خلاص کړ چې ددې خبرو او حالاتو جاج به له سره واخلي.

سره له دې چې امریکا دترکې سره وعده وکړه چې دنوې کردي ملېشې دجوړونې اراده نه لري خو عملاً یې دې نوې ملېشې ته دروزنې او مسلح کولو کار روان وساتلو.

ترکې هم دامریکا په مقابل کې جدي غبرګون ښکاره کړ اوښه په جهر یې وویل: ترکیه په شمالي شام کې دامریکا له لورې دکردانو دنه مسلح کولو په اړه دامریکا دکړو وعدو نه مطمئنه نده.

پدې هیله چې امریکا دخپل شوم پلان نه لاس په سر شي دترکې ولسمشر طیب اردګان دوه اوونۍ په مسلسل ډول داخبره تکرار کړه چې شاید ډېر ژردترکې فوځ په ناڅاپي ډول شام ته دکردانو دخپلو لپاره ورننوځي.

خودترکې دا ګوت څنډنه هم امریکا جدي ونه ګڼله نو همدا وه چې دروان ۲۰۱۸ م کال دلومړۍ میاشتې په ۱۹ مې نېټې دشپې ۷ بجې دترکې فوځ په سرحدي ښار عفرین هوایي برید پیل کړ.

له بریدو وړاندې ولسمشر اردګان دروسې او ایران دحمایت دترلاسه کولو په موخه په مسلسل ډول ددې دواړو هېوادونو سره په رابطه کې و.

روسې دشام پرپولو دترکې دطیارو دمخنیوي لپاره لاله وړاندې ایس ۴۰۰ او ایس ۵۰۰ ډوله توغندي نصب کړیدي.

نو ځکه ترکیه دشام پرکومې سیمې دحملې لپاره دروسې حمایت او اجازې ته اړتیا لري.

ددې هدف لپاره دترکې لوي درستیز جنرال خلوصي اقار او داستخباراتو مشر حقان فدان روسې ته په سفر تللي وو چې هورې یې دوسلوالو فوځونو دمشر او نورو لوړپوړو دولتي مشرانو سره دلیدو کتو نه وروسته دشام په هوایي حدودو کې دورننوتلو او پرعفرین دهوایي حملې کولو اجازه ترلاسه کړه.

ترکیه دشام درژیم دترټولو ستر مرسته کونکي هېواد ایران سره هم پرعفرین دبرید کولو په اړه رابطه ټینګه کړې ده او دهوایي او ځمکنو دواړو بریدونو په اړه یې ورته اړین معلومات ورکړي وو؛ ایران ترکې ته پرعفرین دحملې کولو اجازه ورکړې وه خو ترځنګ یې پدې خپله اندېښنه هم ښکاره کړې وه.

پرعفرین دحملې نه وړاندې ترکې روسې، ایران، امریکا، برتانې، فرانسې چین او دشام سره دلګېدلو هېوادونو سفیران دبانديو چارو وزارت ته راغوښتي او دعفرین دپیل کېدونکي برید په اړه یې ورته معلومات ورکړي وو.

عفرین په شمال غرب کې دحلب نه ۶۳ کیلومتره لرې دشام یوله ستروښارونوڅخه دی؛ داښار له ۳۵۰زرزیات نفوس لري چې زیاتره یې کردان دي؛ ډېرزیات زیتون پکې کېږي چې داوسېدونکودمعاش ذریعه یې هم همدا زیتون دي نوترکې خپل اوسني عملیات هم (دزیتون ښاخ) باندې ونومول؛ دترکې سره په پوله

دکردي تروریستو تنظیمونو ترقبضې لاندې دی.

اردګان زیاته کړه چې په عفرین کې به ډېر ژر دتروریستانو جرړې پرې او دلته به عملیات پای ته ورسېږي؛ چا چې سیمې ته بدامني راوړیده او ویره ترهه خپروي ډېر ژر به ترې سیمه پاکه او ددې ځای اصل اوسېدونکو ته به یې ورسپارو.

تروریست تنظیم دې دا فکر نه کوي چې دامریکا حمایت ورسره دی او ترکیه به ګیني دوئ ته څه ونه شي ویلی؛ موږ یواځې نه یو بلکې دټولو مسلمانانو دعاګانې له موږ سره دي.

دترکې لومړي وزیر بن علي یلدرم په استنبول کې دخبریالانو سره دخبرو پر مهال وویل چې سهار په اتوبجو او پنځه دقیقو دترکې فوځونه عفرین ته ورننوتل هغه زیاته کړه چې ۳۰ کیلومتره لرې دتروریستانوښرل ددې عملیاتو یو مهم هدف دی ترڅو ددواړو هېوادونو ترمنځه دامنیتي سیمې رامنځته کېدل حتمي شي.

دعملیاتو دپیل کېدو نه پس دترکې دوسله والو ځواکونو مشر جنرال خلوصي اقار دامریکا دوسله والو ځواکونو مشر جنرال ډنفورډ او دروسې دوسلوالو قواوو مشر جنرال میلری ګراسیموف سره تلیفوني رابطه ونیوله او دعملیاتو په اړه یې دواړوته معلومات ورکړل.

دملګرو ملتونو اداري داصولو له مخې ترکې ته دور کړل شویو حقوقو په رڼا کې دروانو عملیاتو په اړه ترکې دې اداري ته هم معلومات ورکړل.

ترکې پدې حملې کې ټول خپل عسکري وسایل وکارول ترڅو دبهرنو وسایلو دکارولو له امله دبندیزونو سره مخامخ نه شي.

دهوایي بریدونو نه پس چې دترکې ځمکني فوځونه دجنوری په ۲۱ مې نېټې دباب الهوی دروازې دشام اعزاز نومې سیمې ته ورداخل او ځمکنئ حملې یې پیل کړې نو په ړومبو درې ورځو کې یې دپام وړ بریالیتوب ترلاسه او دکردانو د ۱۵۳ فوځي مرکزونو په نیولو وتوانېدل.

دیادولو وړ ده چې دبشارالاسد د رژیم هغه مخالفه وسله واله ډله چې دفرې سیرین آرمي (ازاد شامي فوځ) په نوم یادېږي او شمېر یې ۲۵ زرو ته رسېږي او ترکیه یې حمایت کوي اوس دکردانو پرضد دترکې دفوځ سره اوږه په اوږه جنګېږي چې دحلب په مارع سیمه کې همدې فوځ ته دکردانو یوې وسله والې ډلې وسلې په ځمکه کېښودې.

څومره ګومان چې کېدلو کردانو دترکې دځمکني فوځ په مقابل هغسې مقاومت ونشو کړای او دترکې فوځ په ډېرې تېزی سره پرمخ ولاړ چې امریکایې دسختې ورخطایی سره مخامخ کړه او ولسمشر ټرمپ دترکې ولسمشر طیب اردګان سره

پروت دشام پردې ښار په ۲۰۱۴ م کال کې دکردانو پي. وای. ډي او وای. پي. جي نومې تروریستو غورځنګونو دامریکا په مرسته قبضه کړې وه چې ترننه دا قبضه قائمه وه.

ترکې دا خطر محسوسولو چې شاید دپي. کې. کې دشام دا څانګه دتورس پرغرونو دقبضې راوستلو او دلته دځان مضبوطولو له لارې دترکې دروم بحیرې ساحلي سیمې په نښه او پکې سخته نا امني خپره کړي.

دترکې ددولت په وینا دعفرین کردانو تر اوسه دترکې پر سرحدي سیمو له ۷ سوه نه زیات بریدونه کړیدي چې پکې یې ترکانوته زیات مالي اوځاني تاوانونه هم اړولي دي.

داچې دلته دنوي ملېشې دمسلح کېدو په صورت کې ددې قبضې دپراخېدلو قوي اندېښنه وه نو ځکه پرې ترکیه ورړومبی شوه.

طیب اردګان وویل چې په عفرین کې فوځي عملیات دوام لري او ددې پسې وار دمنبج دی؛ منبج دعفرین نه ختیځ لورته پروت دشام یو بل سرحدي ښار دی چې هغه هم دترکې په وینا

تیلیفوني رابطه ټینګه کړه او ورنه یې وغوښتل چې په عفرین کې دې فوځي عملیات چې څومره ژر کېدای شي پای ته ورسېږي؛ طیب اردګان د ټرمپ دا غوښتنه رد کړه او دخپل ګوند په مرکزي دفتر کې دوینا پرمهال یې وویل چې خپلو موخو ته درسېدو او دتروریستانو دله منځه وړلو پرته موږ دعملیاتو دودرولو هېڅ اراده نه لرو؛ دفوځي عملیاتو څو ایله څو ورځې تېرې شویدي؛ زموږ هیڅ تادي نشته.

زه غواړم دولسمشر ټرمپ نه وپوښتم چې تاسې چې په افغانستان کې فوځي عملیات پیل کړل نو څومره ژر مو پای ته ورسول؟

په افغانستان کې مو د ۱۷ او په عراق کې مو د ۱۵ کلونو راهیسې فوځي عملیات روان دي او پای ته نه رسېږي هلته هېڅ ریاضي نه چلېږي؛ موږ ستاسې نه

پوښتوچې په عراق اوافغانستان کې به موعملیات کله پای ته رسېږي؟

خو چې ترکیه دخپلو سرحدونو دساتنې په موخه فوځي عملیات پیل کړي چې ایله یې څو ورځې دوام کړی نو ورنه غوښتنه کېږي چې ژر ترژره دې دا عملیات پای ته ورسوي؟!

دکردانو پرضد دترکې له لورې په پیل شویو عملیاتو کې دترکې دپرمختګ دمخنیوي په موخه امریکا دکردانو تروریستي ډلو وای. پيي. جي او پيي. واي. ډې ته دنورو وسلو دنه ورکولو هوډښکاره کړ؛ پدې لړ کې دامریکا دملي امنیت سلاکار اچ ارمیک ماستر دترکې دولسمشر ویاند ابراهیم قالن سره په تلیفوني تماس کې دخبرو په ترځ کې وویل چې امریکا به په سیمه کې جنګېدونکو کردي تروریستانو ته نور ې وسلې ورنکړي خو ترکې بیا هم خپله مدعی امریکا ته روښانه کړه او ویې ویل چې ترڅو له سیمې نه ټول تروریستان له منځه نه وي تللي ترهغې به زموږ فوځي عملیات همداسې روان وي.

ترکې دزیتون ښاخ په نوم په اوسنو پیل شویو فوځي عملیاتو کې تر اوسه ۷ سوه وسلوال کردان وژلي دي.

دشام رژیم دترکې ددې عملیاتو عندنه کړیده او ترځنګ یې د حلب له منځنیو سیمو نه عفرین ته تللې لارې هم پرانستې دي ترڅو دترکې دفوځیانو پرضد جنګ کې دحلب نه دعفرین دکردانو مرسته وکړای شي.

دترکې دفوځ له لورې په خپرې شوې اعلامې کې راغلي دي چې دا عملیات دنړیوالو اصولو سره برابر دي؛ دشام خپلواکۍ او سالمیت به په خطرکې نه پرېوځي او هڅه به وشي چې یوولسي وګړي ته هم تاوان ونه رسېږي؛ زموږ هدف دتروریست تنظیم پيي. کی. کی دشام څانګې پيي. واي. جي پرضد عملیات دي کومو چې د ۲۰۱۴ م راهیسې پرسیمې قبضه کړیده او دسیمې امن یې دلوي خطر سره مخامخ کړیدی.

دترکې دکردانو باغي تنظیم پيي. کی. کی دشام او ترکې پرړپوله دخپلواک کردي دولت رامنځته کول غواړي چې ددې لپاره یې دترکې ددولت پرضد وسلواله مبارزه پیل کړیده او دهېواد په جنوبي برخې کې یې ډېر بمې بریدونه او پرامنیتي ځواکونو حملې کړیدي چې دولت هم ددوئ دخپلو په موخه ددوئ پرضد ګڼ فوځي عملیات ترسره کړي او ستره مرګ ژوبله یې وراړولې ده.

امریکایي ولس ته

داسلامي امارت لیک

امریکایي ولس، د ولسي خپلواکو سازمانونو غیر دولتي چارواکو او د کانګریس سوله خوښو استازیو!

هیله مند یو چې دا لیک به په غور ولولئ او په هغه کې د لیکل شویو واقعیتونو په رڼا کې به په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو راتلونکی او خپلې ګټې او تاوانونه وسنجوئ!

امریکایي ولسه! تاسو پوهیږئ چې ستاسو سیاسي مشرانو ۱۷ کاله وړاندې زمونږ پر هیواد پوځي یرغل وکړ. دا یرغل چې هم زمونږ د خپلواک هیواد د شرعي او ملي قوانینو او هم د نړیوالو مقرراتو خلاف عمل و د توجیه لپاره یې ستاسي چارواکو د نورو په نسبت دغه درې شیان په ځرګنده توګه د قانوني مجوز په حیث ارائه کول:

۱ـ په افغانستان کې په اصطلاح د تروریستانو په له منځه وړلو سره د امنیت ټینګول.

۲ـ د یوه قانوني حکومت په ایجاد سره د قانون پلي کول.

۳ـ د نشه یي توکو له منځه وړل.

خو راځئ وګورو چې په دې ناروا جګړې کې ستاسي جنګ غوښتونکو مشرانو هغه خپل درې ګونې شعارونه څومره عملي کړای شول؟

د نا امني او جګړو زیاتوالی:

په ۲۰۰۱ م کال کې چې کله ستاسي پخواني ولسمشر جورج ډبلیو بوش پرافغانستان د یرغل قومنده ورکوله نو د یرغل د تبریر لپاره یې دلته یواځې د طالبانو (اسلامي امارت) او القاعده شتون او د هغوی له منځه وړل پلمه کول.

خو ۱۷کاله د دې خونړۍ جګړې تر جاري ساتلو او په هغې کې د ملا ماتوونکو ځاني او مالي تلفاتو ترمنلو وروسته ستاسي اوسني ولسمشر ډونلډ ټرمپ په افغانستان کې د هماغې ۱۷کلنې ناروا جګړې د تداوم لپاره د یوه اسلامي امارت (طالبانو) په ځای د لا پراخې ناامنۍ اونورو ډلو په راپیدا کیدو اعتراف وکړ.

ټرمپ دغه ادعاء او اعتراف د تیر اګست د میاشتې په ۲۳مه د افغانستان او جنوبي آسیا لپاره د خپلې جنګي ستراتیژي د اعلانولو په مهال اعلان او ۱۷ کاله وروسته یې یوځل بیا د افغان ولس پر خلاف د ناروا اشغال او جګړې د تداوم امر ورکړ. دا چې ستاسو خپل چارواکي په افغانستان کې د ګڼو جنګي سازمانونو شتون مني، زمونږ دا خبره ثابتوي چې امریکایانو په افغانستان باندې د یرغل

او د طالبانو د متحد او مسؤل حکومت په نړولو سره یوازې د انارشۍ زیاتیدو ته لاره هواره کړې.

ستاسي نا مصلحت اندیشه چارواکي که د افغانستان جګړه هر ډول توجیه کوي او هر عنوان ورته ټاکي خو واقعیت دادی چې په ترڅ کې یې ستاسو پوځ د ښځو او ماشومانو په ګډون لسګونه زره بیوزله افغانان شهیدان کړل، په لکونو یې ژوبل کړل او په زرګونو نور یې په ګوانتنامو، بګرام او نورو سري زندانونو کې واچول او له هغوی سره یې داسې ناوړه چلند وکړ چې بشریت تري شرمیږي او د امریکایي تمدن او تهذیب له دعوا سره هیڅ اړخ نه لګوي.

په دې نا انډوله جګړه کې ستاسي د پوځي چارواکو په رسمي اعتراف (۳۵۴۶) امریکایي او نوربهرني پوځیان مړه، تر ۲۰۰۰۰ زیات امریکایي سرتیري ژوبل او په لسګونو زره نور په عصبي ناروغیو اخته شول، اګر که په واقعي ډول ستاسو د تلفاتو شمیر له دینه په مراتبو ډیر دی چې ستاسې مشرانو له تاسې څخه پټ کړی دی. همدا راز په دې جګړه کې ستاسي د هیواد په تریلونو ډالره مالي لګښت وشو چې له امله یې دا جګړه ستاسي د هیواد په تاریخ کې تر ټولو خونړۍ، اوږده او له اقتصادي پلوه ملا ماتوونکې جګړه وبلل شوه.

لاقانونیت او په نړیواله کچه فاسد ترین نظام:

اګرکه په نورو هیوادونو کې د قوانینو خبره او د هغو لپاره د نظامونو جوړول د امریکا دنده نه ده، خو د جورج ډبلیو بوش لپاره د افغانستان د اشغال دوهمه پلمه دلته په اصطلاح د یوه قانوني حکومت رامنځته کول و. په دې برخه کې هم تر ۱۷ کلنې امریکایي جګړې او په هغه کې د امریکا جنګي ټلوالې د لسګونو زره امریکایي عسکرو تر مرګ ژوبلې او د هغوی د ملیاردونو ډالرو تر مصرفیدو وروسته په افغانستان کې داسې یو نظام حاکم شو چې په اداري، قانوني، پوځي او سیاسي برخو کې لاندې ریکارډونه لري:

په اداري او مالي فساد کې په نړیواله کچه لومړی مقام

د بشري حقونو په نقضولو کې په نړیواله کچه لومړی مقام

د ځمکو په غصب او نړیوالو مرستو د اختلاس په برخه کې په نړیواله کچه لومړی مقام

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي په اړه په نړیواله کچه لومړی مقام او...

د امریکایي یرغل په پایله کې د منځته راغلی فاسد رژیم وروستی بیلګه د افغانستان هغه دوه سری نظام دی چې د حکومت جوړولو په مروجه قوانینو کې یې د نړۍ په هیڅ ګوټ کې هیڅ نمونه نه لیدل کیږي.

د مخدره توکو تولید او پراختیا:

پر افغانستان د ډبیلوبوش د یرغل دریم دلیل په افغانستان کې د نشه یي توکو مخنیوی او له منځه وړل و، راځې وګورو چې تر ۱۷ کلنې جګړې وروسته اوس په افغانستان کې د مخدره توکو د تولید کچه کوم حد ته لوړه شوې؟

له نشه یي توکوسره د ملګرو ملتونو د مبارزې سازمان (UNODC) د ورکړل شویو معلوماتو پر اساس په افغانستان باندې تر امریکایي برید وړاندې په ټول

افغانستان کې یواځې پر ۱۸۵ هکتاره ځمکه باندې کوکنار کرل کیدل چې هغه هم په هغو ساحو کې و چې د طالبانو د مخالفینو تر واک لاندې وي او د افغانانو په منځ کې پر هیروینو د اعتیاد کچه بلکل د نشت په حساب وه. خو په افغانستان تر امریکایي یرغل وروسته د کوکنارو د کرل شوي ځمکې مساحت له ۱۸۵ هکتاره څخه ۳۲۸ زره هکتاره ځمکې ته لوړ او د ۱۷ کلن اشغال تر سیوري لاندې اوس په افغانستان کې د معتادینو شمیر ۳ ملیونو ته رسیدلی دی.

د ۲۰۱۷ م کال د دسمبر د میاشتې په ۲۱ نیټه د ملگرو ملتونو له نشه یې توکو سره د مبارزې سازمان راپور ورکړ چې په ۲۰۱۷ کال کې د نشه یي توکو تولید ۸۷ سلنه او کښت یې ۶۳ سلنه لوړ شوی دی چې له مخې یې د تولید شویو نشه یي توکو پیمانه ۹۰۰۰ میټریک ټنو ته لوړه شوې ده.

امریکایي ولسه! تاسو چې په نړۍ کې د یوه پرمختللي او متمدن ولس دعوه لرئ، دا چې په افغانستان تپل شوی حکومت ستاسو لخوا رامنځته شوی مونږ یې په اړه قضاوت هم تاسو ته پریږدو، چې تاسو د خپل منطق او ضمیر له مخې دغه نظام او په هغه پوري تړلي تغیرات، نا امني، لا قانونیت او د مخدره توکو په تولید کې ۸۷ سلنه زیاتوالی اصلاحات بولئ او که د بشر ضد جنایات؟

ستاسو حکومتي چارواکي ادعاء لري چې دوی په افغانستان کې په لسگونه ملیاردونه ډالره د بیارغونې په مختلفو برخو کې لگولي دي. طبعا دا لسگونه ملیارده ډالر ستاسي هغه پیسي دي چې د دولتي ټیکس او مالیې په نوم لتاسو څخه اخیستل شوي او دلته د غلو او قاتلانو جیبونو ته تللي دي.

ایا تاسو په دې راضي یاستئ چې ستاسي په زحمت گټل شوي پیسې په افغانستان کې پر یوه داسې فاسد نظام ولگول شي چې دولتي مفسدین یې په یوې جرمې پیښه کې ۹۰۰ ملیونه ډالره له کابل بانک څخه غلا کوي؟

آیا ستاسي په امریکایي فرهنگ او قاموس کې قانون پلي کول دیته وایي چې د نظام لوړې مرستیال داسې څوک وي چې په سلگونو نورو جنایتو سر بیره پر۷۰ کلن سپین ږیري باندې د جنسي تیري په جرم کې ښکیل وي؟

ایا همدا هغه تمدن، ترقي او قانونیت دی چې تاسي یې په نړۍ کې د علمبرداري دعوه لرئ؟

ایا ستاسي ۳۵۴۶ پوځیان د همداسې قانونیت د واکمنۍ لپاره په افغانستان کې ووژل شول؟

ایا ستاسي د ولس پوهان، دانشمندان او منصف محللین زمونږ د غو پوښتنو ته څه ځواب لرلای شي؟

په دې باید پوه شئ، چې زموږ ولس دغه ټولې ناخوالې په سترگو ویني او په ډیر دقت یې څاري نو ځکه خو ستاسو د پوځي ملاتړ تر سیوري لاندې دغه رژیم او په هغه کې راټول شویو مفسدو غلو ته د حکومت په نظر نه؛ بلکې د غاصبینو، غلو، مافیایي عناصرو او د نشه یي توکو د ککړو کاروباریانو دیوه باند په سترگه گوري او په وړاندې یې مبارزه او مقاومت خپله شرعي، اخلاقي او ملي فریضه بولي. کوم کسان چې د همدې نظام د پلی کیدو لپاره ستاسي ترڅنگ ولاړ دي هغه د افغانانو په نظر د اولس او ملي گټو غداران دي. بالمقابل څوک چې ستاسو

د دې فاسد رژیم په مقابل کې وسلواله مبارزه کوي، هغوی د خپل هیواد، خپلو ملي ګټو او خپل ملي استقلال او عزت د ترلاسه کولو او دفاع د لارې مبارزین دي چې د عام افغان اولس په زړونو کې د اتلانو په حیث ځای لري دا چې امریکایي میډیا د افغانانو د مقاومت په اړه پروپاګند کوي، چې دلته جنګیدونکي وسله وال افغانان نه، بلکې له بهره راغلي په اصطلاح تروریستان دي دا هغه نامعقول تبلیغات دي چې دوي یې د خپل شکست د پټولو لپاره کوي. د دغې پروپاګنډې د ابطال لپاره مونږ فقط دا خبره کوو چې که په افغانستان کې بهرنی حمایت د کامیابي چانس لرلای نو حتما به دلته امریکایي اشغال او د هغوي حمایتي ایتلافیان کامیابه شوي وای چې هم د امریکا د متحده ایالاتو غونډي د ځواکمن نظام سیاسي او اقتصادي حمایت تر شا لري او هم د ناټو تړون غونډي مجهز پوځي ملاتړ.

امریکایي ولسه!

غواړو د لیک پدې برخه کې تاسي امریکایي ولس ته خپل پیغام داسې مختصر کړو:

افغانان چې نن ستاسي د عسکرو او بل هر تیري کوونکي په مقابل کې جنګیږي، دا د هغوي شرعي، عقیدوي او د خپل وطن ساتلو ملي مکلفیت دی. په دې مقاومت کې که ستاسي پوځیان هرځومره زورور او مجهز شي، که د ټولې نړۍ پوځونه یې هم حمایت وکړي خو افغانان به بیا هم همدا خپل دیني، شرعي او ملي مکلفیت تر سره کوي، ځکه دغه مقاومت ته افغانان د مقدساتو او د خپل هیواد د دفاع د مقدس مکلفیت په سترګه ګوري، له دې مکلفیت څخه تنازل کول هغوی له خپل اسلام او ټولو انساني ارزښتونو څخه د تیریدو په معنا بولي چې هیڅ مسلمان غیرتي افغان د دغه ذلت منلو ته نه دی تیار.

افغانان له تیرو څلورو لسیزو راهیسي- د تحمیلي جګړو په اور کې سوځي، هغوی سولې او عادلانه نظام ته تږي دي، خو ستاسي د جګړه خوښونکي حکومت د یرغلګرو ځواکونو په مقابل کې له شرعي، دیني، دفاعي اوملي مقاومت څخه کله هم نه سترې کیږي، ځکه هغوی په خپل نني او پروني تاریخ ټولې قربانۍ د خپلو دیني ارزښتونو او استقلال د ساتنې لپاره ورکړي دي، اوس که د خپل استقلال په سر سودا کوي نو دا به یې له خپل ویاړمن تاریخ او اسلافو سره لویه جفا وي.

افغانستان هغه هیواد دی چې دخپل ځو زره کلن تاریخ په اوږدو کې همیشه خپلواک اوسیدلی، حتی د ۱۹ او ۲۰ میلادي پیړۍ په مرحله کې چې د اسلامي نړۍ ډیر هیوادونه د اروپایي استعمارګرو لخوا اشغال شوي و افغانستان د خپل ګاونډ په کچه یوازینی هیواد و چې خپله خپلواکي یې وساتله او انګریزان ونه توانیدل چې د ۸۰ کاله استعماري هڅو سره سره خپل اشغال ورباندې ومني. د افغانانو په زړه او دماغ کې د خپلواکۍ همدا فطري جذبه او تاریخي تسلسل دی چې نن سبا دغه تش لاسي

ملت ته ستاسو د اشغالګرو پوځیانو په مقابل کې د تر ټولو اوږده مقاومت حوصله ورکوي. دا کومه مبالغه نه بلکې واقعیت دی چې همدا اوس ستاسې او په یرغلګرو عسکرو باندې د فدایي بریدونو په ترسره کولو باندې غیرتي افغان استشهادیان یو له بله سره سیالي کوي.

د افغانانو دغه دیني ملي مقاومت کومه بې حاصله جګړه نه ده بلکې هره ورځ پرمختګونه کوي او د خپل هیواد سیمې ازادوي. همدا اوس د افغانستان سره د مرستو په برخه کې د امریکا د ځانګړې څارونکې ادارې (سیګار) مشر پر دې اعتراف لري چې د افغانستان ٦٠ سلنه خاوره د طالبانو (اسلامي امارت) تر کنټرول لاندې ده.

په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان د امریکایي یرغل په مهال د نړۍ یوشمیر هیوادونه ستاسو د هغه مهال چارواکو د جنګي تبلیغاتو تر اثر لاندې راغلي او د ولسمشر بوش د جنګي ستراتیژۍ ملاتړې وه. خو اوس مونږ عملا وینو چې ستاسي حکومت هغه نړیوال حمایت له لاسه ورکړی، حتی ستاسي په جنګي ایتلاف کې داخل ډیری هیوادونو د حقائقو په درک سره زموږ له هیواده خپل عسکر ایستلي او د سیاسي تفاهم په لټه کې دي. نړیواله ټولنه اوس د امریکا د ناروا اشغال په مقابل کې زمونږ د اولس د برحقې داعیې ملاتړ کوي. که ستاسي حکومت نورهم د خود ساخته پلمو په تراشلو سره په افغانستان کې د جګړې پرغځولو ټینګار کوي دا به نورهم د امریکا نړیوال وجاهت ته صدمه ورسوي.

امریکایي ولسه! په امریکایي غوندې ټولنې کې چې د قدرت اصلي واک له ولس سره وي او حاکم چارواکي د ولسي رایو پر اساس ټاکل کیږي، نو د افغانستان اسلامي امارت د افغان ولس د ارادې د ممثل په توګه له تاسي امریکایي ولس او په کانګریس کې د ولس له سوله خوښوونکو استازیو څخه دا غواړي چې پر خپل قیادت باندې فشار را وستلو سره له هغوی څخه وغواړي چې نور د افغانستان اشغال ته د پای ټکی کیږدي. ځکه په افغانستان کې د جګړې په غځولو ټینګار او دلته د کابل د اوسني فاسد او بیواکه نظام غوندې د بې ارادې حکومت شتون نور د ټولې سیمې او په مجموع کې د امریکا د ثبات لپاره خطرناکې پایلې لري.

افغانان په دې متأسف دي چې ولې ټول امریکایي ولس د هغوي د څو محدودو جګړه مارو چارواکو د جګړه ییزسیاست قرباني دی او ورځ تر بلې په نړۍ کې منفوریږي؟

تاسي ولسي پوهان، د امریکا په کانګریس کې سوله خوښې استازي او د ولسي سازمانونو خپلواک مسؤلین باید د خپل حکومت له چارواکو د دې لامل وپوښتئ چې ولې امریکایي ولس له خپل ټول نړیوال وجاهت سره سره په خپل کور او بهرکې غیر محفوظ او منفور دي؟

ترڅو به ستاسي مترقي هیواد او ستاسي اولادونه ستاسي د جګړه خوښو چارواکو د جګړه ییزو سیاستونو قرباني وي؟

آخیر! دا د جګړې خوښوونې سیاست ستاسي د هیواد لپاره څه ګټه لري؟

امریکایي ولسه! ستاسي ولسمشر او د هغه پر جګړه ییز خط روان پوځي او سیاسي چارواکي اوس هم په افغانستان کې د وسلې په ژبه خبرې کوي، حتی دجګړې

په اړه دځان په گټه په دروغو ناسم ارقام خپروي ستاسي اوټولي نړۍ ستر‌گوته خاوري شيندي حال دا چې په معاصر سياست کې اوس د زور او وسلې ځای، سوله ييز تفاهم نيولی اوجگړې په دروغو نه گټل کيږي.

يوازې په تيرسپتمبر مياشت کې دټرمپ دنوي ستراتيژۍ له مخي امريکايي ځواکونو په افغانستان کي له خپل نورټول زور کارولو سره سره د دوی په اعتراف ۷۵۱ هوايي بريدونه وکړل تاسو له خپلو جنرالانو پوښتنه وکړئ چي ايا په ټول افغانستان کي مو له دومره زيات زور کارولو سره سره چيرته يوفتح مخکه له طالبانو ونيوله او که طالبان نور هم قوي شول.

تاسي امريکايي ولس ته که د خپل ولسمشر- ټرمپ او د هغه د جگړه مارو سلاکارانو بي تجربي سياست نه معلوميږي نو يې بيت المقدس ته د امريکايي سفارت د نقلولو نامعقولې پريکړې ته وگورئ چې امريکا يې د نړۍ د (۱۲۸) هيوادونو په مقابل کې ودروله.

يقينا چې د امريکا غونډي مترقي ولس لپاره له داسي قاطع نړيوال غبرگون سره مخ کېدل د شرم خبره ده چې په خپلې جگړه ييزې پريکړې سره يې د ټولې نړۍ د قاطع اکثريت هيوادونو په ښکاره مخالفت کې ځان واقع او لا هم پر هغه جنوني سياست ټينگار کوي.

اسلامي امارت له هغه اول پيل ځخه امريکا ته ويلي وو چې خپلې ستونزې له اسلامي امارت سره دخبرو او ديالوگ له لارې حل کړي، زور ازمويل بدې پايلي لري او تاسو به پر افغانستان د امريکا د تجاوز بدې پايلي ممکن اوس درک کړي وي، که سل کاله نور هم د زور کارول تجربه کړئ او سل نوري نوي ستراتيژۍ تجربه کړئ نتيجه به يې بيا هم همدا وي لکه تاسي چي د ټرمپ د نوي ستراتيژي تيري شپږ مياشتي وليدي.

زموږ په نظر اوس هم وخت شته، بايد امريکايي ولس درک کړي چې اسلامي امارت د خپل ولس په استازيتوب کولای شي له هر متنازع جهت سره خپل مشکل د سالم سياست او ديالوگ له لارې حل کړي، بې ځايه زور وهل مسئله لا پيچلي کوي، مسئلې ته ابعاد ورکوي چې بيا د کنترول له ساحې ځخه بهر کيږي، اسلامي امارت په سيمه کې هغه ځواک دی چې د زور له لارې نه زوب کيږي، پخې ريښې لري، البته د ديالوگ چانسونه شته، امريکايي ولس بايد دا ځای درک کړي چې

اسلامي امارت د مسائلو د سالم حل په لاره کې خپل مسئولیت درک کولای او ادا کولای شي، البته دا کله هم په دې معنا نه دی چې موږ سترې شوي یو یا مو اراده کمزورې شوې، بلکې زموږ دریځ دادی چې له جگړې څخه وړاندې باید منطق وکارول شي، کوم څه چې په منطق تر لاسه کیږي، د زور د استعمال له لارې باید له لاسه ونه وځي اسلامي امارت دایو مسئولیت باله چې تاسي امریکایي ولس په دې حقایقوخبر اوپوه کړي.

باید ووایو چې د افغانستان اسلامي امارت د خپل هیواد د خپلواکی لپاره مشروع هلې ځلې کوي. له اشغال پرته خپلواک هیواد درلودل زموږ طبیعي او انساني حق دی. د خپل هیواد آزادي غوښتل او هلته د خپل ولس د عقیدې مطابق اسلامي نظام جوړول په هیڅ قانون کې ترهگري نشي گڼل کیدای. د یادونې وړ ده چې موږ په نورو هیوادونو کې د تخریبي اعمالو اجندا نه لرو او په تیرو اوولسو کلونو کې مو دا عملاً ثابته کړې چې په نورو هیوادونو کې مو هیڅ ډول لاسوهنه نه ده کړې.

همداراز، بل چاته هم اجازه نه ورکوو چې د افغانستان خاوره د نورو هیوادونو په خلاف استعمال کړي. جگړه په موږ تپل شوی، زموږ انتخاب نه دی. زموږ ترجیح دا ده چې د افغانستان مسئله له سولیزي لارې حل کړو. امریکا باید اشغال ختم کړي او د افغانستان ولس ته د خپلې عقیدې سره سم د حکومت جوړونې په گډون د هغوی په مشروع حقوقوقائل شي.

له خپلواکی وروسته، موږ غواړو د گاونډیانو په گډون د نړۍ له هیوادونو سره مثبت او تعمیري اړیکې ولرو او د هیواد په بیارغونه او پرمختگ کې د هغوی مرستو ته هرکلی وایو او غواړو د سیمې او نړۍ په ثبات او سوله کې رغنده رول ولوبوو.

خپل ولس ته داعلی معیاري تعلیم اوروزگارزمینه مساعده کړو، ښځې اونر، ماشومان او لویان مو له خپلو بشري او شرعي حقوقوبرخمن شي.

ځوانان مو له نشو او اخلاقی فساد نه وژغورل شي، هرچا ته په خپل هیواد کې دروزگار داسې شرایط برابر شي چې نور مو هیواد وال دخپل وطن پریښودو اونورو هیوادو ته دفرار له حالت سره مخ نشي.

خلاصه دا چې په افغانستان کې د جگړې پرغزولو ټینگاراو دلته د امریکایي پوځیانو پاتې کول د امریکا په شمول د هیچا په گټه نه بلکې د ټولې نړۍ ثبات له خطر سره مخ کوي، دا هغه واضح حقیقت دی چې یوازې همدا ستاسې مغرور چارواکي یې له منلو انکار کوي، که تاسې له افغانانو او په مجموع کې له نړیوالو سره د سوله ییز تفاهم غوښتونکي یاست نو مو خپل ولسمشر او د کانگریس او پنټاگون جگړمار چارواکي پر دې حقیقت پوه او هغوئ د افغانستان په اړه د سالم منطقي سیاست غوره کولو ته اړباسئ!

دا هم خپله ستاسې هم د افغانانو او هم د ټولې نړۍ د ثبات لپاره ترټولو یوغوره اقدام دی.

وما علینا الا البلاغ.

د افغانستان اسلامي امارت

۱۴۳۹/۵/۲۸هـ ق

۱۳۹٦/۱۱/۲۵هـ ش ۲۰۱۸/۲/۱٤م

ګلورینې پاڼې

پاکه مینه

اکرام الدین مفتون

که دې مینه کې بیمار شم بیمار نه یم
که هجران کې دې ازار شم ازار نه یم

چې یو ځل دې اغیاران په دار محکوم کړم
که بیا سل ځله په دار شم په دار نه یم

که زر واره د جهاد په حقه لار کې
ګرنګونو نه ګزار شم ګزار نه یم

چې د پاک حرم خادم او خاکروب نه شم
که د درست جهان سردار شم سردار نه یم

که (مفتون) ددې فاني ژوند طلبګار شم
که زه دغه شان هوښیار شم هوښیار نه یم

#خلیل همراز

یو ګلی پرې ودان ده او بل غرونه ښایسته
همدا دي زمونږ هیلې ارمانونه ښایسته

د دې ماتو راماتو مړاوو هیلو غوټۍ ګوره
چې وسپړي نازک ګلونه ښایسته

د حسن په جهان کې یې لوړی مقام ګټلی
سنګر کې د طالب د ځنو ولونه ښایسته

یاري د طالب وکړئ ګټه ستاسي زیان زما کړئ
ربنتیا که خلکو غواړئ ټول وختونه ښایسته

د وینې احساس زلمي ګوره نن بیا سره راټول دي
کوي به په مغرور دښمن بریدونه ښایسته

که خدای کول رسیږي به هدف ته خامخا
سپېڅلو عقیدو سره نیتونه ښایسته

د روڼ سهار په تمه یې روان دي ځلیدا ته
له ستورو څخه اخلي الهامونه ښایسته

خلیل همراز یې څکه ملګرتیا ته دومره ژمن دی
یو ګل شانته څهرې لري، بل زړونه ښایسته

بیا طالب ته ضرورت دی

#قاري سعید

د فتنو باران وریږي
د نفاق سیلۍ چلیږي
د وطن زړگی خوږیږي
بیا طالب ته ضرورت دی

چاله بلخه جنډه پورته
څوک له ارگه پوکي اور ته
د نفاق د لمبو شور ته
تور لاسونه دي تودیږي
بیاطالب ته ضرورت دی

د فساد لښکر بلا کړي
غواړي ټول وطن اغوا کړي
نه له خدای څخه حیا کړي
نه له خلکو نه شرمیږي
بیا طالب ته ضرورت دی

غواړي دا اولس یتیم کړي
متحد کور یې تقسیم کړي
په شمال جنوب یې نیم کړي
ځیني دې ته هوسیږي
بیا طالب ته ضرورت دی

هاغه آش هغه کاسه ده
کوڅه واکه اداره ده
د چونگښو پیمانه ده
توپکیزم تکراریږي
بیا طالب ته ضرورت دی

یو وار لوټ بیا یې برباد کړ
په غریبانو یې بیداد کړ
ښاد وطن یې را ناښاد کړ
لا هم نه ورته درېږي
بیا طالب ته ضرورت دی

کلي لوټ، ښارونه غصب
غر، غونډۍ ډاگونه غصب
هدیرې قبرونه غصب
هیڅ په خاورو نه مړیږي
بیا طالب ته ضرورت دی

سیکولر که لنډغر دي
یو له بل څخه بدتر دي
دواړه دي اوس ته شر دي
په فساد باندې پایېږي
بیا طالب ته ضرورت دی

شر فساد چې بیا جارو کړي
د نفاق لړې پارو کړي
د وطن زخم دارو کړي
تل مې زړه باندې وریږي
بیا طالب ته ضرورت دی

* * *

مین شه

اول پاک غني سبحان باندې مئین شه
بیا نبي اخر زمان باندې مئین شه

بیا د ژوند د تېرولو قانون زده کړه
په قرآن عظیم الشان باندې مئین شه

چې د خدای او د رسول فرمانبردار وې
پس له هغې په انسان باندې مئین شه

کافرانو نه نفرت او کرکه وکړه
مسلمانه مسلمان باندې مئین شه

شیطانان د استغفار په غشو وله
زړه کې ساته په ایمان باندې مئین شه

مجاهد شه خپلې وینې نذرانه کړه
د الله په هر فرمان باندې مئین شه

په جامه د شهادت یې ور سینگار کړه
حقیقت کې په خپل ځان باندې مئین شه

ایا حکمتیار ریښتیا هم پر استشهاد باور لري؟!

■ شاهد (غزنیوال)

په دې وروستیو کې ښاغلی حکمتیار له طلوع نیوز سره یوه تفصیلي مرکه کړې چې په هغې کې یې د استشهادي عملیاتو په اړه هم څرګندونې لرلې.

نوموړي په یاده مرکه کې استشهادي عملیات په یولړ ځانګړیو شرائطو پورې محدود تائید کړي او هغه یې یو غوره عمل ګڼلی دی.

د حکمتیار صیب لخوا د استشهادي عملیاتو تائید یوه ښه خبره او مورد تائید عمل دی خو دا چې د نوموړي اوسني موقف او عمل د ده له خبرو سره تناقض لري نو سړی یې په یاد تائید هم شکمن شي.

ځکه په مرکه کې چې کله خبریال تري د استشهادي عملیاتو د اهدافو په اړه پوښتنه کوي چې هغه څه وخت او د کومو اهدافو لپاره ترسره کیدای شي ؟ دی په ځواب کې ورته داسې وایي:

((وقتي کشورت اشغال شده ، وقتي استقلال وآزدي کشورت پامال شده، دشمني آمده که باتو میجنګه ، ملت تو ره میکُشه ، افراد ملت ته هروز میکُشه))

د استشهادي عملیاتو د تر سره کولو د لاملونو په اړه د حکمتیارصیب پورتنۍ تشریح او د اشغالګرو په وړاندې د هغه له فعلي موقفه دا نتیجه ګیري کیدای شي چې یا خو نوموړی پر خپلو خبرو باور نه لري .

او یا که واقعا هم د استشهادي عملیاتو په تائید او د هغو د اهدافو په اړه پرخپلو تشریحي خبرو باور لري نو بیا خو یې یقینا چې اوسنی موقف د هغو غیرتي استشهادیانو کومو چې پر بهرنیو یرغلګرو باندې په برید کولو سره یې خپل ځانونه ټوټه ټوټه کړي، د هغوی له سپیڅلیو وینو سره ستره جفا او خیانت دی.

ځکه د اشغالګرو لخوا د هیواد اشغال او د هغوی لخوا پر افغانانو تر سره کیدونکي مظالم او وحشتونه دا ایجابوي چې له اشغالګرو سره مقابله وکړای شي ، نه دا چې په خړسترګي سره د هغوی ترسیوري لاندې د ذلت ژوند غوره کړل شي.

حکمتیار صیب چې د کومو وجوهاتو له امله د شوروي اشغالګرو خلاف جهاد پیل کړی و اوس د امریکایي اشغال په مهال هغه ټول وجوهات عملاموجود دي. ځکه د امریکایي اشغال په مهال مو د کارمل او نجیب تر وخت زیات بهرني اشغالګر پر هیواد مسلط او د مظلومو افغانانو په خلاف د امریکایانو مظالم تر هغو وحشیانه مظالمو ډیر زیات دي کوم چې شوروي ځواکونو د افغانانو خلاف تر سره کول.

پر یادو وجوهاتو سربیره د حکومت په سر کې د اشرف غني غوندي بیواکه بې ضمیره او بې شخصیته مزدور کرکتر شتون د افغانستان روان وضعیت تر هغه ډیر له خطر سره مخ کړی له کوم سره چې د شوروي اشغال په مهال افغانستان مخامخ و.

هغه وخت یواځې شوروي ځواکونه وو چې د افغانستان حریم یې اشغال کړی مګر اوس د امریکا په مشري د ۴۸ هیوادونو یرغلګرو د افغانستان ځمکه او فضا ټوله تر خپل اشغال لاندې راوستې .

خو هغه مهال حکمتیار صیب د شوروي اشغالګرو او د هغوي د مزدورانو خلاف د جهاد او مقاومت په سنګر کې ناست و مګر نن یې له بده مرغه د هغه برعکس له همدې په درځنونو یرغلګرو سره د مقاومت په ځای له هغوي سره د مسالمت لاره غوره کړې.

ښایي دا مسالمت او استسلام ښاغلی حکمتیار صیب د خپلو عندي توجیهاتو په رڼاکې په کوم ورځني مصلحت تعبیر او توجیه کړي ، هو هغه تعبیر او توجیه به یواځې د ده عقل او منطق ته د منلو وړ وي ، له شرعي او علمي لحاظه دغه ډول ناسالم توجیهات په هیڅ ډول هیچا ته هم د منلو وړ نه دي ...

#عابد

د دلوې (۲٦) مه بیا تکرایږي!

د(۱۹۷۹)م کال د دسمبر په (۲۴)مه دسترشوروي دواکمن " برژنیف" په امر زمونږ په گران هیواد مخامخ یرغل وشو او افغانستان ته سل زره شوروي فوځیان راننوتل، لس کاله دخپل هیود دعلیامصالحو دتحقق په لارکې وجنگېدل، خوپه مقابل کې یې افغان مجاهد ولس هم دستخو کړاوونو په زغملو خپل مقاومت ته دوام ورکړ او دوخت دغه ستر زبرځواک ونه توانیده چې افغانان په مرگ او وژنو مات کړي، ترڅو دنیا له دوه قطبیتوبه وباسي او په ټوله نړۍ خپله باداري ثابته کړي، په افغانستان کې له لس کاله وحشت او یرغل وروسته یې فوځي او اقتصادي ملا ماته شوه او د (۱۳٦۸) هش کال د دلوې په (۲٦)مه له هیواد ووتل .

لکه څرنگه چې دانقلاب په دې ټولو غمیزو کې همدا یوه ورځ ډېره کره اوثابته ده، همدا راز داحقیقت هم همداسې کره او ثابت دی چې اسلامي انقلاب برۍ وموند او د دلوې (۲٦)مه هم داسلامي انقلاب دبري ورځ شوه . دشوروي اتحاد کمونستي بریځې (خلقیان او پرچمیان) هیڅکله نه شي کولای دجهاد بریا دهغو ناخوالو له امله چې ربېنه او باعث یې دوی و، په بل ډول توجیه کړي او دناکامۍ نسبت ورته وکړي .

ددې انقلاب په څلوېښتم کال ور داخل شوو، خو دا ورځ هېره نه ده اونه باید هېره شي، ځکه هغه قرباني چې افغان ولس ددې خاورې دخپلواکي لپاره ورکړه نه هېرېدونکې قرباني ده .

داچې مونږ په دغو څلوېښتو کلونوکې ډېره کمه موده مودامن اواسلامي نظام ترسیوري لاندې تېره کړه او نن هم لا له هماغه ډول حالت سره مخ یو، له نن سره ددې ورځې ارزونه او یادونه دوه خبرې ډېرې کره او عمده ثابتوي: چې یوه داستعمار او یرغلگر دښمن ماته او بله دهغوی په خدمت اوچوپړکې دبوختو افغاني مزدورانو مختوري او ذلت دی. (دا حقیقت افغان انگلیس جگړې لانبه ثابتوي).

هغه ځواک، غرور، نشه او دنوې تیکنالوژۍ مستي چې امریکا پرې مسته ده اوله مخې یې زمونږ پرهیواد یرغل ته بهانې ولټولې، دوخت شوروي هم ترې بې برخې نه و اودهمدې اسبابو له مخې یې پرمونږ چپاو راووړ ،

ددې هیواد هضمول يې هم داسې بللي وو لکه دمرکزي اسیامسلمان هیوادونه، هغه وخت ویل کېدل چې دسره قصر فوځ ماته نه پېژني اوپه هرلوري چې ولاړشي په ماته نه راګرځي. بېرته بیا ځینې نور اسباب او عوامل وو چې لکه څرنګه يې دسترې برطانيې استعمار مات کړ، د وخت سترشوروي هم پرې مات او درې وړې شو.

دلتـه مادیـات او نظـامي ځـواک دا اسـباب نـه تشکیلوي، بلکې یـواځې عقیده او ددې عقیدې په بنیاد دخپلې خاورې خپلواکۍ ته تعهد دی، چې دنن زبرځـواک يې هم په ګونډو کړی ، که په ماسکوکې دافغانستان دتسخیر ارمان " برژنیف" "چرنینکوپ" او " اندروفوپ" له ځان سره یووړ، په واشنټن کې "کلنټن"" بوش" او" اوباما" هم په همدې ارمان له سپینې ماڼۍ ووتل او دادی " ټرمپ" به د" ګورباچوپ" په قدم، قدم ږدي، هغه دا دځان لپاره افتخار ګڼه چې خپل هیواد يې دافغانستان له جنجاله خلاص کړ، دنن له هغو ننبو ننبانو اوګونګسیو چې په امریکايي ولس کې راپورته شوي، ښکاري چې دی به هـم دا افتخارخامخا خپلوي اوله دې جنجالـه بـه خپـل هیواد، اقتصاد او ځان خلاصوي .

نن چې د روسانو تـالي څټـي (خلقیـان اوپرچمیـان) زمونږ په ټولنه کې څومره منفور او شرمنده دي، همداسې به دامریکا په غوړو مست دامریکـا غلامان او لاسپوڅي هم سبا په دې ولس کې ځای نه لري اوتاریخ به يې راتلونکو نسلونوته د " لاټیانو" په نامه ور پېژني انجام به يې هم دافغاني کمونستانو په څېروي چې په خپلوکړو پښېمانه او خپلوخلکو کې ځای نه لري .

دا د تاریخ ټول هغه نه انکارېدونکي واقعیتونه دي چې زمونږ په هیواد کې څو څو واره ترسره شوي او مونږ په دې باوري کوي چې د دلوې (۲۶) مه به بیا تکرارېږي او غربي استکباربه هم افغاني اسلامي غرورته سرټیټوي . ان شاءالله

نصیحت

حفیظ الدین پیرزاده

کامیـــابي دې پــه تقــوی پــورې تــړلــې
پـام چــې سپینې جـامې تـورې در نـه، نـه شي

پـــه کفـــارو دې حملـــې مـــنم زمریــــه!
خــو د وطــن پیغلــې سرتــورې در نــه، نــه شي

د خپـل پـلار نیکـه د ویـاړ شـملې دې سـاته!
ګــوډاګی نــه شــې، نسکورې در نــه، نــه شي

ســتا دریـغ چــې پــه اسـلام بانــدې ولاړ دی
پــه تطمیـع کــې پــه بـل لـوري در نـه، نـه شي

پـه غیـرت مـو چــې مـور ګـانې افتخـار کـړي
د وطــن مینــدې کــوز ګــورې در نــه، نــه شي

هیـــواد مشرــــه! د وړو خویونــــه پریـــــږده
تــه ماشـوم نــه یــې، خـاپوړې در نـه، نـه شي

ارګبکیـــانو لاړ شـــئ! نـــوې ټـــاپې راوړئ!
پـــه دلیـــل خـــبرې نـــورې در نـــه، نـــه شي



هلته ! چې

د غیرت او اخلاقو جنازې وتلې...!

اسلم امید

ډونلډ ټرمپ د امریکا ولسمشر دی، ولسمشر غوره کیدو وړاندې یې له یوه امریکايي تلويزون سره په مرکه کې دخپلې لور د حسن و جمال زيات تعريف وکړ او هغې ته په اشاره کولو يې وويل: که زما لور نه وه، ضرور به مې ورسره جنسي اړيکي نيول!!! د دې په اوريدو دهغه بيحيا لور او نورې ناستې بې حيا ښځې لاسونه ووهل او ټرمپ ته په ددې شرمونکې سوچ اوفکر داد ورکړي...

افغان سيکولران چې په امريکا عاشقان دي، دامريکا نظام او کلتور ورته خوښ دی او د څو ډالرو ترلاسه کولو لپاره دامريکا ملاتړ ته اړدي او ددې لپاره تر اوږدي مودې افغانستان کې دامريکا پوځي شتون غواړي او په هره کچه دامريکا يانو دکړنو نقالي کړي، هغوی دداسې بې حيا او بې غيرته هېواد دخلکو او ولسمشر په باب څه فکر کوي؟ ايا دوی له ځان سره افغانستان لپاره د داسې بې حيا ټولنې راوستو ارمغان لري؟ که داسې انګيري نو دخدای لعنت دې په دوی وي!! داشرف غني کرکټر ته په کتو هيڅکله دټرمپ او دهغه ترمنځ توپير نه ښکاري يواځې دومره چې ټرمپ بادار او غني غلام دی! نور په خوی، بوی، کړو وړو کې اشرف غني همغومره بې دينه او بې حيا دی څومره چې ټرمپ دی داشرف غني لور هم هغومره بې حيا ده څومره چې دټرمپ لور ده.

داشرف غني لور په هم هغه ټولنه او هېواد کې ژوند کوي چيرې چې د دنيشنل وائنلس په نامه خبرونکې اداري په يو راپور: امريکا کې دهرو شپږو ميرمنو له منځه يوه او دهرو ۳۳ نارينه وو له منځه يو نارينه دجنسي تيري ښکار ګرځي او په دې لړ کې رسماً درج شوې قضيې دټولو ۱۶ سلنه جوړوي.

جنوبي افريقا هم دامريکا وروسته نده تردې چې جنوبي افريقا ته دجنسي تيريو پلازمينه ويل کېږي په ۲۰۱۲ زکال کې د۶۵ زره نه زياتې قضيې دجنسي تيريو له امله درج شوې وې يوې خېړنې له مخې: نړۍ کې په ماشومانو تر ټولو ډير جنسي تيري جنوبي افريقا کې ترسره کېږي.

سويډن... سويډن چې داروپا مهم هېواد او له هر ډول عياشيو مالامال دی يکې هره څلورمه ميرمن دجنسي ځورونې سره مخ کېږي په کال ۲۰۰۹ ز کې د۱۵ زره نه زياتې ميرمنې دجنسي ځورونو له امله محکمې ته عارض شوې وې

او پـه تـيرو لسـو کالو کـې سـويډن کـې جنسي ځورونـو کـې



۵۸سلنه زياتوالی راغلی.

هندوستان... زموږ ځيني خلک دهندوانو په دوستۍ فخر کوي او پـه صـفتو يې نـه مړيږي هلتـه هـر ۲۲ دقيقې وروسته يوه ميرمن دجنسي تيري دځور سره مخ کېږي او زياتره جنسي تيري کونکي دميرمنو، پلرونه، ورونه ترونه او نور خپلوان ښودل شوي په ۲۰۱۲ز کال کې له ۳۲ زره نه ډېرو ميرمنو دجنسي ځورونو له امله محکمو ته عريضې وړاندې کړې او هغه شميرې لاندې ښکاره چې په دغه کال په ميرمنو جنسي تيري شوي خو پـه اړه محاکمو تـه عريضې نـدي ورکړي.

برتانيا:

جنسي ځورونو کې برتانيا هـم ډيـر بـد ريکارډ لـري يوازې په ۲۰۱۳ز کال کې ۸۵ زره ميرمنې دجنسي ځورونـو ښکار ګرځيدلې ديـوې څېړنـې لـه مخې: پـه برتانيا کې پـه هـرو پنځو ميرمنو کې يوه خپل عفت او حيا له لاسه ورکوي داچې په لويديځ کې په ميرمنو نورڅه تيريږي؟ ددې لپاره دا يوان ريډلې کتاب لوستل کفايت کوي فرانساه کې هر کال له ۷۵ زره نه زياتې ميرمنې په جبر سره دجنسي ځورونو سره مخ کېږي.

داچې نن ورځ زموږ په خاوره کې په يونـه يوشکل دغه پورتـه يـا دهېوادونـــه پـــوځي، سياســـي، اقتصـادي او ډيپلوماتيک حضـور لـري او پـه خـاص ډول امريکا خـو زموږ په ځمکه او فضاء دواړو سـلطه لري او يولوی شـمير پرديپال او پـردي چوپړتـه لوی شوي افغانان کوښښ کـوي زموږ وطـن تـه د ديمکراسۍ، ازادۍ او جمهوريت شعارلاندې هم دغه بې حيا، بيغيرتـه او بربنډ کلتور راوړي نن زموږ لوستي ځوانان دامريکا او لويديځ دفحشاوو او بداخلاقيو ته ژور ډنډ ته لويدلي هندوستان په ټوله نړۍ کې ترټولو بدنام، بې حيا او بيغيرته فلمي صنعت لري او لـه لارې يې ډول ډول بداخلاقي او بې لارې فلمونـه نړۍ ته وړاندې کوي، ددې لپاره دنـوې مارکيټ منـدلو پـه هدف يې زموږ په هېواد سترګې خښې کړې او لګيادی خپل پليت او بدنام کلتور زموږ هېوادتـه ليږدوي څو زموږ پـه ټولنـه کې هغـه ناسور خورونکي ميکروبونـو تـه وده ورکـړي دکومو له امله يې چې پخپل کور او خلک دالامان نارې وهې او مختلفې بدمرغۍ زيږولې بايد افغانان متوجه اووسي دکفارو لخوا فکري او عقيدوي يرغل تـه ځير اووسي کنه خـدای مکـړه سـبا بـه د دوی اولادونـه او ځوانـان يـو مخ دافغانيت او اسلاميت لاس په سر شي او بيا دخدای عذاب راتلل يقيني دی چې هغه تـه هيڅوک دتـم کيدو تـاب نـه لري.

د مرحوم انجنير عبدالله ګل ريان ژوند ته کتنه

■ قاري سعيد زرمتی

لکه څنګه چې د الله تعالی مخلوقات متنوع او رنګارنګ دي همداسې الله تعالی د دې پراخې دنيا د چارو د سمبالولو لپاره بيلابيل ذوقونه، استعدادونه، صلاحيتونه او اشخاص هم پيدا کړي دي. چا ته يې د سنګر او وسلې شوق په زړه کې ور اچولی تر څو د دين له سنګره په ميړانه دفاع وکړي او د شيطان لارويان په نښه کړي. د چا په زړه کې يې د سرمايې او مال د ډيرولو شوق ايښی تر څو د ټولنې په اقتصادي وده کې رول اداء کړي. څوک د سياست شوقمن او څوک د شهرت، رهبری، مرتبې، دنيايي هوسونو او نورو مختلفو شيانو.

اما الله تعالی بيا ځينې خلک د دې لپاره خاص کړي وي چې ټول عمر د قلم او کتاب رښا ته ژوند وکړي. د علم زده کړه، نورو ته ښوول، د قلم په توسط د دين خدمت، د قلمي جهاد سنګر پالل او د کتابونو په ليکلو او خپرولو سره د اولس په فرهنګي انکشاف او مدنيت کې برخه واخلي.

انجنير عبدالله ګل ريان صاحب چې مې پيژاند د دې زمانې همداسې شخص تر نظر راغلی و، د هغه ژوند له تعلم څخه پيل او په تعليم پای ته ورسيد. د ژوند لومړنی مشغولا يې ښوونځي ته تلل او د علم زده کړه وه، اما د ژوند وروستی بوختيا يې هم د ماشومانو د مدرسې جوړول او د مسلمان اولس بچيان له قلم او کتاب سره شناخته کول و.

مرحوم انجنير ريان صاحب يو فراګير شخصيت و، چې شخصيت يې له علمي او فرهنګي تشخص ورهاخوا ګڼ اجتماعي، فلسفي او تصوفي اړخونه هم درلودل. د نوموړي پوره پيژندل او د شخصيت ارزونه يې شايد د دې ليکنې تر وس تېره خبره وي. خو بيا به هم د نوموړي د ياد تازه کولو په موخه په لنډو د هغه متمايز شخصيت پر ژوند مختصره رڼا واچوو.

له ښوونځي تر پوهنتونه

مرحوم استاد ريان صاحب د غزني ولايت د قرباغ ولسوالی په محمد نعيم کلا کې په ۱۳۳۲ هـ ش کال کې دنيا ته راغلی. د پلار نوم يې عبدالظاهر و چې دی يې مشر زوی و، د اتو کلونو په عمر و چې په قره باغ کې د سلطان ابراهيم ابتدائيه مکتب ته داخل شو او په همدې کال يې پلار وفات او د يتيمتوب پيټی هم ورپه غاړه شو. استاد ريان چې له کوچنيوالي د ستر عزم او صبر څښتن و د غربت، بې کسی او فقر له ستونزو سره سره يې زده کړو ته دوام ورکړ او د ستونزو په وړاندې تسليم نه شو.

په ۱۳۴۵ لمریزکال کې د سلطان ابراهيم لومړني ښوونځي له شپږم صنف څخه اول نمره فارغ او د سلطان محمود ليسې ته لاړ چې بیا تر ۱۳۵۱ لمریز کال پورې يې په دې ليسه کې زده کړو ته دوام ورکړ تر دې چې په همدې کال د يادې ليسې له دوولسم صنف څخه په اول لمبر فارغ او د لوړو زده کړو لپاره کابل ته لاړ.

استاد ريان صاحب چې درست ژوند يې له ازمونونو او د ستونزو په وړاندې له مقاومت او مبارزې څخه جوړ و د ماشومتوب او نوي ځوانۍ کلونه يې هم له دې څخه مستثنا نه وو. نوموړي په خپلو يادا‌ښتونو کې ليکلي چې له زده کړو سره هم مهال يې د حلال رزق موندلو لپاره خواري او مزدوري هم کوله. نوموړي ليکي (د زده کړې په وخت کې مې د مزدورۍ په بدل کې د نورو د ختو کارونه کړي او كاريز مې كار كړی دی. خپل ملک او پټي مو ګرو ؤ، خو بزګري يې موږ کوله. د بزګرۍ ټول وسايل په سوال پوره کېدل. اقتصادي خبرې اوس راته وړې دي، له همدې امله يې د ستونزو نمونې نه ليکم)

له عصري زده کړو سره سره خواريکښ او د علم تږي استاد ريان د ديني زده کړو حصول هم نه و پرې ايښی. کله به چې د نوموړي درسي کال د قوس په مياشت کې پای ته ورسيد، نو د ژمي درې مياشتې رخصتۍ به يې د ديني زده کړو په تعلم تېرولې. د ديني زده کړو لپاره نوموړي ډېر وخت له خپل يو تن قريب او مرشد ديني عالم خليفه صاحب مولوي عبدالحکيم (مشهور په بشير خليفه صاحب) سره په بيلابيلو کليوالو مدرسو کې تيرولي او د هغه به چې هر ځای امامت او تدريس و استاد ريان به هم ورسره هماللته ژمی تيراوه. نوموړي ليکلي چې د ۴۷ کال ژمی يې په اورګون او د ۱۳۵۰ لمريز کال ژمی يې د پغمان په محمدخيلو کې له خپل استاد خليفه صاحب سره تير کړ چې د ديني زده کړو د دې مرحلې په اړه انجنير ريان صاحب په خپلو يادا‌ښتونو کې ليکلي (د ليسې په دوره کې مې د‌ښوونځی له پروګرام سره نوره مطالعه هم کوله او ژمی خو به مې د کلي له امام څخه او يا بل ځای ديني زده کړه کوله. په دې توګه مې د درې ژبې د نظم کتابونه: پنج کتاب، ګلستان، بوستان او يوسف زليخا، د فقهي كتابونه: خلاصه، قدوري، مستخلص، کنز (صلاة او نكاح) او لومړی ټوک هدايه. په عقايدوکې: نور ظلم، ابو المنتهی او د امالي قصيده. د قرآن کريم د پنځو سيپارو ژباړه او د مشکوة شريف څه برخه، ولوستل)

استاد ريان صاحب په ۱۳۵۱ لمريز کال کې له ليسې څخه له فراغت وروسته د کانکور امتحان ورکړ چې نوموړی په کې د غزني ولايت د ټولو ليسو په سطحه اول نمره کامياب شو او په ۱۳۵۲ لمريز کال کې يې د کابل پوهنتون کې د خپل خوښې (انجنيري پوهنځي) کې زده کړې پيل کړې. خو د هيواد ځپځپاند سياسي وضعيت او انقلابي ضرورتونو پرې نښود چې خپله دغه د زده کړو سلسله پای ته ورسوي.

دکمونيزم خلاف مبارزه

استاد ريان د تحريکي افکارو د خپلولو او مبارزاتي ژوند د پيل په اړه ليکلي (د ليسې په دوره کې مې د کمونيست جريانونو په مقابل کې تکړه ملګري درلودل، آن دا چې ليکلي تعهدونه مو سره کړي وو.)

استاد ريان چې کابل ته لاړ نو ايله يې د هيواد په کچه د اسلام او کمونيزم تر منځ د روان پټ جنګ ټکانونه احساس کړل. دا وخت چې افغان کمونيستان تر بل هر وخت په زور او شور کې و، په وړاندې يې د اسلامپالو دوه ځوابي خوځښتونه راپنځيدلي وو. يو هغه پوهنتوني مبارزين وو چې دمصر-له اخوان المسلمين نه په الهام يې لومړی زړی څو لسيزې وړاندې مرحوم غلام محمد نيازي ايښی و او دا وخت يې د هيواد په تعليمي ادارو کې ژورې ريښې او پراخ فعاليت درلود. بل هم د ديني عالمانو او صوفيانو خدام

الفرقان تنظيم و، چې بنياد يې د کابل د قلعه جواد د حضرت صاحبانو لخوا ايښودل شوی. انجنير صاحب کابل ته په تګ سره په ۱۳۵۱ لمريز کال کې لومړی د حضرت نورالمشائخ په عرس کې ګډون وکړ چې د خدام الفرقان تنظيم لخوا يې پروګرام جوړ شوی و. د خدام الفرقان له مبارزينو سره شناخت او تعارف ورته د مبارزې او سياسي فعاليت روحيه ورکړه او د ده راتلونکی تګلوری يې وټاکه.

په پوهنتون کې د زده کړو په مرحله کې يې قلعه جواد ته مسلسل تګ راتګ درلود، د حضرت ضياء المشائخ محمد ابراهيم مجددي او د خدام الفرقان د مشر حضرت محمد اسمعيل مجددي رحمهماالله سره يې هميشنۍ ناسته پاسته درلوده، چې هم ورسره د تصوف او سلوک په رشته تړلی و او هم يې د کمونيزم ضد سياسي او دعوتي فعاليت کې د ده لارښوونه کوله.

په ۱۳۵۲ لمريز کال کې استاد ريان په کابل کې له چاپيدونکې نداى حق جريدې سره اشنايي پيدا او همکاري پيل کړه. په همدې کال يې د اسلامپالو محصلينو په هغه مظاهره کې ګډون درلود چې دبنګله ديش د بيلتون په اعتراض د کابل له پوهنتونه پيل شوه. د کابل پوهنتون د انجنيرۍ پوهنځي د اسلامپالو مبارزينو مهم پنډځای و، د دې پوهنځي زياتره محصلين په فکري لحاظ له اسلامي نهضت سره تړلي وو او چې وروسته يې په جهادي دوره کې مهم کردارونه ادا کړل.

په دې کلونو کې پوهنتون چې اصلا د تعلم مرکز و له خپل اصلي مسير څخه اوښتی او د سياسي تشنج، مظاهرو، مقابلو او مناظرو په ډګر بدل شوی و، دا چې د کمونيزم خطر حساس حد ته پورته شوی و او د استاد ريان په شمول ډيری اسلامپالو د خپلو زده کړو په نسبت تحريکي کار ته ډيره توجه درلوده. شايد همدا لامل به و چې استاد ريان په پوهنتون کې له دوه کاله درس لوستلو وروسته د زده کړو سلسله پرې شوده. په ۱۳۵۴ لمريز کال کې يې د سفرونو سلسله پيل کړه، لومړی سفر يې هلمند او تر هراته و. وروسته له کابل څخه د ګرديز او خوست په لاره پاکستان ته واوښت، له ميرانشاه د بنو په لارتر لاهوره ورسيد او بيا په کوټه بانديې بيرته افغانستان ته راغبرګ شو، دغه راز يې هلمند ته دوهم سفر او ننګرهار ته هم لاړ. انجنير ريان صاحب وايي په دې کلونو کې چې دا داودخان زمانه وه او کمونيستانو بشپړ قوت درلود، حالات سخت و چې زما په شمول يې ډير کسان مضطرب کړي وو. يو وخت مې په کابل کې خپل مرشد حضرت محمد ابراهيم مجددي صاحب ته د خپل اضطراب په اړه وويل. هغه راته وويل چې دا ذکر له هر فرض لمانځه وروسته ۱۹ ځله وايه (االنجاة يا سيدالکريم، نجنا و خلصنا بحق بسم الله الرحمن الرحيم)

انجنير ريان صاحب وروسته ايران ته لنډ سفر درلود چې غرض يې تعليم او خواري يا کار کول و، خو له ايران زر راغبرګ شو. د ۱۳۵۶ لمريز کال په وروستيو کې يې د عسکري خدمت موده راورسيده او د پکتيا ولايت په مرکز ګرديز کې يې عسکري وظيفه پيل کړه.

د ثور کودتا او دوه ځله بندي کيدل

د ۱۳۵۷ لمريز کال په ثور مياشت د کمونيستي انقلاب په مهال استاد ريان صاحب په ګرديز کې د افغانستان د پوځ په ليکو کې دنده اجراء کوله. څرنګه چې دافغانستان اردو کې هم اسلامپال مبارزين فعال وو له کمونيستي کودتا وروسته چې اسلامپالو پوځيانو د ځوابي کودتا پلان طرح کړل. دغه پلان چې استاد ريان هم په کې همراز و له تطبيق وړاندې افشا او د استاد ريان په شمول ډير طراحان يې ونيول شول. نوموړی چې د ۱۳۵۷ کال د سرطان په نهمه نيول شوی ولومړی په ګرديز کې بندي و او وروسته د کابل پلچرخي زندان ته انتقال خو دا چې نوموړی د

مظنون په عنوان بندي و او کوم کره شواهد ورباندې ونه موندل شول د همدې کال د عقرب په دوهمه نیټه راخلاص شو.

له راخلاصیدو وروسته یې خپلو جهادي مخفي فعالیتونو ته دوام ورکړ او په دې مرحله کې یې همیشه د قلعه جواد له حضراتو کرامو سره لیده کاته کول. کله چې خطرات زیات شول د هغوی په امر یې پاکستان ته مخه ونیوه تر څو په پاړه چنار کې دخدام الفرقان له مهمو غړو او اوسنیو مجاهدینو (مولوي نصر الله منصور او مولوي عبدالستار صدیقي) سره یوځای شي. د دې سفر خاطره ریان صاحب په خپل تاند رسا او روان قلم ډیره جالبه لیکلې چې یوه برخه یې درسره شریکوو.

(بله ورځ مولوي جانان، ملا لعل محمد او زه درې واړه د ګردیز په لاره د پاکستان په لور وخوځیدو. شپه مو په مشکه کې شوه چې تر څمکنیو را مخته یو علاقه داري وه. هلته داسي ښکاره کېدله چې بازار نه وي، خو د لرګیو یوه اډه وه. د بیګا ډوډۍ مو د کلي د ملاامام کره وخوړه او دا شپه مو د ملا لعل محمد په بلدتیا کې تیره کړه. شپه بده نه وه. د پکتیا ونډکې مې په هغه کور کې ولیدې او وخوړې چې له و ریجو څخه تیار شوی خوراک ؤ او په منځ کې یې د غوړو ونډۍ.

سبا له مشکې څخه په یوه لارۍ موټر کې روان شوو، تر یوه ځایه ورسیدو، دڅمکنیو بازار شاته پاته شو او په سرحد باندې له اوښانو سره تیر شوو. مازدیګر توتکي او ماخستن پاړه چنار ته ورسیدو. مولوي جانان ته د مجاهدینو حویلۍ معلومه وه. هغه لوري ته لاړو، په نورو سرایونو کې برق ؤ، خو دیوې دروازې په سر الکین ایښي ؤ، یوه شوم چې دا د خواري برخه د مجاهدینو ده.)

استاد ریان په پاړه چنار، پیښور، وانه او میرانشاه کې له مجاهدینو له لیدو او مشورو وروسته د چریکي عملیاتو لپاره بیرته کابل ته راغبرګ شو. خودا ځل ورباندې حکومتي استخباراتو خبر او د ۱۳۵۸ لمریز کال د جوزا په څلورمه په کابل کې داګسا لخوا ونیول شو او پلچرخي ته لاړ. د حفیظ الله امین په دور کې چې مجاهدین یې ژوندي نه پرېښودل په استاد ریان د اعدام فیصله ووته او سر ته یې حتمي خطر متوجه شو، خو په دې میان کې کارمل له شورویانو سره په ګډه د امین تخته چپه کړه او د کار مل دحکومت د عمومي عفوې په پایله کې استاد ریان هم د همدې کال د جدي په ۲۱ مه نیټه له زندان څخه ازاد او له خپلې کورنۍ سره یې پیښور ته هجرت وکړ.

قلمي جهاد او بیلابیل جهادي وظائف

د روس ضد جهاد په دور کې استاد ریان په پیښور کې (چې هغه مهال د جهادي تنظیمونو مرکز و) اوسیده. دلته یې له تصنیف او لیکوالۍ واخله، تر فرهنګي، اداري او تعلیمي خدمتونو بیلابیل وظائف ترسره کړل څو ځله خو هیواد ته هم لاړ او په عین حال کې د خپل کور او اولاد د پاللو مسؤلیت یې هم په غاړه وه.

په جهادي تنظیمونو کې یې لومړنۍ وظیفه د متحدحرکت تنظیم د دعوت او ارشاد دفتر د منشي په حیث پیل کړه، وروسته د حرکت فرهنګي برخې ته لاړ او د هدایت الاسلام جریدې مسؤل شو. همدلته یې ترفیع وکړه او د متحد حرکت دفرهنګي کمیټې مرستیال تعین شو. کله چې د حرکت تنظیم پرلپسې انشعابونه وکړل په دې لړ کې نوموړی دمولوي محمد نبي محمدي صاحب له حرکت نه بیل او د پخوانۍ ملګرتیا په پاس د مولوي نصر الله منصور سره ملګری شو.

په ۱۳۶۰ لمریز کال کې چې تنظیمونه د اتحاد اسلامي په تڼره سره رایوځای شول، استاد ریان په دې اتحاد کې د فرهنګي شورۍ غړی و او وروسته د مطبعې آمر وټاکل شو. د اتحاد له ړنګیدو وروسته نوموړی

بیاله شهید مولوي منصور صاحب سره پاته شو. خو دا چې د هغه تنظیم له پاکستان او امریکا سره رسمي نه و او دومره امکانات ورته نه رسیدل چې خپل مجاهدین اکمال کړي نو یې مجاهدینو ته اجازه ورکړه چې په نورو تنظیمونو کې خدمت وکړي. په دې لړ کې استاد ریان د محاذ ملي تنظیم کې خدمت پیل کړ او د فرهنګي کمیټې غړی شو.

په ۱۳۶۶ لمریز کال کې په ایران کې د شهید منصور صاحب د حرکت فرهنګي نماینده وټاکل شو او یو کال بعدچې په پېښور کې دمجاهدینو عبوري حکومت جوړ شو ریان صاحب پېښور ته راغبرګ شو او د عبوري حکومت په فرهنګي بخش کې دتاریخ د انجمن دتحقیق د کمیټې غړی شو. په ۱۳۶۹ لمریز کال کې یې امریکا ته دژورنالیزم دزده کړې لنډ تعلیمي سفر درلود. په ورپسې کال کې یې د تاریخ انجمن نه استعفی وکړه او دمولوي نصر-الله منصور صاحب دحرکت په تنظیم کې د فرهنګي کمیټې مسؤل تعین شو چې لومړنی کار یې دنداې حق جریدې او خدام الفرقان مجلې د نشراتو پیلول و چې ډیره برخه مضامین یې پخپله لیکل او مرتب کول. د کمونیزم ضد جهاد له بریاوروسته استاد ریان صاحب دمجاهدینو په کاروان کې له پېښوره کابل ته لاړ او د سرې میاشتې په ریاست کې یې دنده پیل کړه. خو داخلي جنګونو له سیاسته خواتوری کړ، دنده یې پرېښوده په غزني کې خپل کلي ته لاړ او وروسته یې دغزني په مشهوره مدرسه جامعه نورالمدارس فاروقیه کې طالبانو ته د عصري علومو تدریس پیل کړ.

په اسلامي امارت کې خدمتونه

استاد عبدالله ګل ریان صاحب چې الله تعالی یې په خټه کې فطرتا د فرهنګي جهادي خدمت مینه ځای کړې وه، د تنظیمي دوران دمایوسیو په تورتم کې یې چې کله په کندهار کې داسلامي امارت د قیام غبر تر غوږو شو نو په ډېره تلوسه او عجله یې ځان کندهار ته ورساوه او د اسلامي امارت په صفوفو کې یې خدمت پیل کړ. نوموړي د خپل ذوق او مسلک په رعایت سره د اطلاعاتو او کلتور په ریاست کې کار پیل کړ. پیل یې د خلافت مجلې له چاپ څخه وکړ چې نوموړی یې مسؤل مدیر و او د طالبانو د تحریک لومړنۍ مجله بلل کیږي. د خلافت مجلې د لومړیو ګڼو د مضامینو له ارزولو را معلومیږي چې د مضامینو د لیکلو ډېر کار د استاد ریان په غاړه وه، په خلافت سربیره یې طلوع افغان او د اسلامي امارت نورو اخبارونو او مجلو ته هم مطالب لیکل. نوموړی وروسته دکندهار پوهنتون رئیس وټاکل شو او بیا په کابل کې د طب د انستیتیوت رئیس او ورپسې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو د وزارت د ۴ سیاسي ریاست رئیس وټاکل شو چې د امریکایي یرغل تر مهاله یې همدا دنده ترسر کړه.

له امریکایي یرغل وروسته

د اسلامي امارت د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې استاد ریان چې په کابل کې یې وظیفه درلوده کور یې هم په کابل کې و. د امریکایانو د بمبار له پیل وروسته یې کور خپل اصلي ځای د غزني قره باغ ته انتقال کړ او خپله هغه وخت له کابله ووت کله چې طالبانو کابل پرېښود. څو میاشتې د غزني په قره باغ کې واوسید او بیا یې د ژوند دوهم هجرت ته پیل کړ او دا ځل دپاکستان کراچۍ ښار ته لاړ.

په کراچي کې اګر کې دهجرت او غربت ستونزو ربړولی و خو حوصله یې ماته نه شوه، ډېر زر یې له څو نورو ملګرو سره په همکاری دامریکا ضد جهاد لومړنۍ جهادي نشریه (عزم مجله) پیل کړه، د عزم مجلې د چلولو په جرم وربانډې پاکستاني عسکرو چاپه ووهله چې خپله استاد ریان خلاص خو دوه تنه ملګري یې بندیان شول. وروسته له کراچي څخه کوټې ته لاړ او هلته یې له خپلو ځوانو او روښانه زامنو سره په ګډه د ژباړې، کمپوز او تألیف اداره

جوړه کړه. چې په دې همدې مرحله کې یې نږدې ۲۲ کتابونه او رسالې له اردو څخه پښتو ته وژباړل چې زیاتره یې د حنفي فقهې د احکامو اړوند کتابونه وو.

په ۱۳۸۸ لمریز کال کې یې د اسلامي امارت د معارف او لوړو زده کړو په کمیسیون کې کار پیل کړ او د دې کمیسیون د نصاب جوړولو د بورډ غړی و چې وروسته یې د ابتدائي صنفونو د پښتو کتابونو د ترتیب مسؤلیت پر غاړه و. مرحوم استاد ریان په همدې موده کې د لیکوالو، فرهنګیانو او د قلم او کتاب د پالونکو یوه غوره او خواخوږی لارښود هم و. د نوموړي کور د علم او ادب هغه نغری و چې همیشه به ورباندې د ادب او قلم مینه وال راغونډ وو او د استاد ریان له پرمحتوا مجلس به یې خوند اخیست. استاد ریان به همیشه ویل چې دعمر یو ارمان مې د داسې تعلیمي اداري تأسیس دی چې عصري او دیني علوم پکې هم مهال تدریسیږي، په داسې ډول چې د ۱۲ صنف یا درجې فارغ یې هم د پوهنتون کانکور ته آماده وي او هم د دیني تعلیمي سلسلې وړې دورې ته رسیدلی وي. استاد ریان دهمدې ارمان او هدف په تلوسه په وروستیو کې د دارالحکمت په نوم یوه ابتدائي مدرسه جوړه کړه خو دا اداره ایله دوه کلنه وه چې استاد ریان د معدې د سرطان په ناروغی مبتلا او د ۱۳۹۵ لمریز کال د ثور د میاشتې په ۹ مه نیټه یې د اجل داعي ته لبیک وویل. انا لله وانا الیه راجعون

د استاد ریان لیکلي آثار

استاد ریان که څه هم له نوم سره یې د انجنیر مختاري (پیشوند) ذکر کېده خود ژوند په عملي ډګر کې هغه لیکوال و چې څلویښت کاله یې د قلموالی سوچه مسلک په پوره امانت او متانت وپاله. استاد ریان چې مقالې لیکل یې له تاندي ځوانی پیل کړي و. لومړنی رساله یې په ۱۳۵۹ لمریز کال کې په پېښور کې چاپ شوه چې سرلیک یې و (شمهٔ از شکنجه های مشهود درمحابس افغانستان) له هغه وروسته یې د کتاب لیکلو او ژباړې سلسلې ته د ژوند تر پایه دوام ورکړ چې په دې سلسله کې یې ګڼ شمیر کتابونه تصنیف او ترجمه کړل.

د نوموړي لخوا لیکل شوي چاپي آثار په لاندې ډول دي.

- ❖ شمهٔ ازشکنجه های مشهود درمحابس افغانستان
- ❖ مارکسستها چه کردند؟
- ❖ چې ومولیدل، نو ومومنل
- ❖ اسلامي علمي نهضت
- ❖ نبوي ژوند سیرة النبي
- ❖ زرینه لړی
- ❖ د ژوند راز اودخاطراتوجهان
- ❖ مسلمان ساینس پوهان
- ❖ څرنګه مطالعه وکړو اوڅرنګه امتحان ورکړو؟
- ❖ د افغانستان تاریخ ته ځغلنده کتنه

هغه لیکلي آثار چې چاپ ته تیار دي او لا چاپ شوي نه دي.

- ❖ مسلمانه میرمن
- ❖ فلسطین دتاریخ په اوږدوکې
- ❖ طالبان دافکاروپه تله کې
- ❖ روح او روحیات
- ❖ زه زما په قلم (د ژوند یاداښتونه او خاطرې)

لکه وړاندې چې وویل شول پر دې سربیر استاد ریان لسګونه نور آثار ژباړلي هم دي. دغه راز یې د هجرت، جهاد او اسلامي امارت د واکمنی په مهال په ۳۵ بیلابیلو مجلو کې په اصلي او مستعارو نومونو لیکنې

هم خپرې شوي دي او د ګڼو لیکوالو په کتابونو یې سریزې کښلې دي.

استاد ریان یو الګو شخصیت

حافظ نور احمد سعید صاحب زموږ د اوسني جهادي پېر یو وتلی او برلاس لیکوال دی، پورتنی عنوان نوموړي هغې مقالې ته ټاکلی و چې د مرحوم انجنیر عبدالله ګل ریان صاحب د وفات په مناسبت یې لیکلې وه. حافظ سعید صاحب خپله د قلموالۍ برخه او د لیکوالۍ استعداد د استاد ریان صاحب سره د شناخت او د هغه د ترغیب او مرستې نتیجه ګڼي او لیکي: تقریبا یوه لسیزه وړاندي له خواړه ملګري باختر میوندوال صاحب سره داستاد ریان کورته ولاړم، په لومړني ملاقات کي مي د استاد مهرباني، اخلاص او د ځوان کهول د روزنې حرص حس کړ، څه وخت وروسته مي استاد ته دلیکني په نوم څو کرښې د اصلاح په موخه وړاندي کړې، استاد غلطۍ راته اصلاح کړې، خو ورسره یې ډېر زیات تشویق کړم، وروسته مي یوه بله ماته ګوډه لیکنه وښوده، استاد زما د هڅوني په موخه لیکنه دومره خوښه کړه، ویل یې بس هیڅ کمی پکي نشته، دنشر وړ ده، ځرک مجلې ته به یې د خپریدو لپاره واستوم، کله چي مي په ځرک کي خپله لیکنه ولیده، ډېر خوشحاله شوم، لیکنه چي مي ولوستله دوې درې تیروتني چي زه نه پرې پوهیدم، استاد راته اصلاح کړې وې او بیا یې اصلاح شده لیکنه مجلې ته لیږلې وه.

وروسته مي د استاد د لارښونو، مشورو او هڅوني له برکته په ځینو خپرونو کي دنشر لپاره دڅه لیکلو زړه وکړ، که کومه لیکنه مي د مهربان خدای جل جلاله په حضور کي مقبولیت ومومي، الله تعالی دي مو ټولو کړنو اوهڅو ته د خپل بې مثاله فضل اوکرم له مخي د قبول شرف ورپه برخه کړي، باوري یم چي په ثواب کي به یې داستاد ریان ځانګړې برخه موجوده وي.

لکه حافظ سعید صاحب چې لیکلي استاد ریان صاحب واقعا یو الګو شخصیت و، د نوموړي بې تکلفه ژوند، له علم، تمدن او فرهنګ سره مینه او ورسره پټه تقوا، للهیت او استغنا هغه څه و چې د یوه روښانه او کامیاب ژوند لپاره سرمشق بلل کیدای شي.

له استاد ریان صاحب سره د اوږده تعارف په مهال مې کله هم په هغه کې د مال او مادیاتو شوق نه دی لیدلی. هغه د میلمه پالنې، مروت او استغنا یو داسې خاصیت درلود چې په نن زمانه کې به یې بیلګې ندرتا پیدا کیږي. د هغه هر مجلس یو درس و او ډیر څه ترې زده کیدلای شوای. لکه حافظ سعید صاحب چې لیکي: له مرحوم استاد څخه مي د ټولنیز ژوندانه په اړه داسي څه زده او اوریدلي چي دژوند په مختلفو برخو کي یې ګټه راته کړې ده، له استاد څخه مي په هره ناسته کي پر ادبي، تاریخي، جهادي او مذهبي موضوعاتو بیل بیل بحثونه، تحلیلونه اونوي خبري اوریدلي دي، د بېلګې په توګه ددې لیکني پر مهال چي مي ذهن ته راځي، استاد ویل چي نوی ساینس له دین سره ټکر نه لري، خلګ چي تېر وتلي دي چي ساینس له دین سره په مخالفت تعبیروي، فقط دومره توپیر پکي شته چي دین کائیناتو کي دعدم او وجود، تخلیق او تکوین حکمت بیانوي، اما ساینس بیا دهمدې شیانو علت توضیح کوي.

مولوي شمس الله کمالزده صاحب چې څو لسیزې پخوا هغه وخت چې استاد ریان د کابل پوهنتون محصل و کمالزاده صاحب په کابل کې د خدام الفرقان تنظیم د ندای حق په جریده کې کار کاوه او له هغه وخته یې استاد ریان پیژاند وایي: انجنیر صاحب واقعا متدین او مخلص شخصیت و، ټول ژوند یې ددین په خدمت کې تیر کړ، د مال او منصب حرص یې نه درلود. د جهاد په وخت کې چې په پیښور کې اوسیده د مجاهدینو ډیره میلمه پالنه یې کوله، د میرانې او سخاوت ډیر غوره صفات یې درلودل. الله تعالی دې رحمتونه ورباندې وکړي.

ليکوال او مبصر عبدالرحيم ثاقب صاحب چې استاد ريان يې له ډېر پخوا پېژاند د نوموړي په اړه په خپلو تأثراتو کې ليکي (د استاد ريان ژوند ډېرې ځانګړتياوې لرلې، لومړنۍ هغه يې داوه چې ټول عمريې د اسلام او جهاد له نوم څخه ناوړه استفاده ونه کړه، له مخلوق څخه استغناء او بې طمعي يې د ژوند اساسي مشخصه وه.

مرحوم استاد (ريان) په واقعيت سره چې د زُهد، تقوا، فضيلت، رياضت او سپيځلتيا نمونه و، ژوند يې پاک، سلوک يې پاک، اخلاق يې پاک اوعمل يې پاک و، ولا نزکي على الله احدا

نوموړي په لاهور کې د سرطان د وژونکې ناروغۍ له امله د روغتون پر بستر پروت و چې د کشرـ زوی بشير احمد ريان د شهادت بوږنوونکې واقعه يې رامنځته شوه، ما دا زړه نشوای کولای چې نوموړي ته په هماغه حالت کې د بشير احمد د شهادت تسله ووايم، خو چې کله مې په ټيليفون ورسره خبره پيل کړه نو په دې اړه ده ماته ډاډګيرنه راکوله، په ډېر جرأت سره يې د هغه دشهادت مبارکي راته ويله، او دا شهادت يې د ځان او خپلې کورنۍ لپاره يو تر ټولو لوی وياړ باله)

د استاد ريان د ژوند وروستۍ ابتلاء د نوموړي د ځوان، صالح او باستعداده زوی بشير احمد ريان شهادت و چې په ډېره بې دردۍ حکومتي استخباراتو د کندهار پوهنتون له صحن څخه اختطاف کړ او وروسته يې په زندان کې شهيد کړ. خو استاد ريان له دې مصيبت سره هم په ډېر متانت مخامخ شو، په داسې حال کې د سرطان په ناروغۍ مبتلا او روغتون په بستر پروت و د زوی د شهادت په اړه يې داسې ځرګندونې وکړې. (د سرطاني لومړني تومور دبيماري د درملنې په هيله او ډېرو ټيستونو او سکينونو په ګڼه ګونه کې، نژدې يوه مياشت په لاهور کښې پاته شوم. کشرزوی مې - بشير احمد ريان - په کندهار کې بندي و. مشرـ زوی مې - عبدالواحد ريان - تل دهغه د ژر خلاصون تسلاء راکوله.

دمسافرې يوه ورځ - د١٣٩٥هش کال، د حمل دمياشتې اتمه نيټه- مازديګريې دايمان او توکل په رڼا کښې، په لوڅو او لنډو تورو راته وويل: د تقديرخبره ده، بشيرشهيد سوی دی. دانساني عاطفې په غوښتنه مې بدن ولړزيد خو د - انا لله وانا اليه راجعون - مبارکو تورو په تکرار مې اختيار پردی نشو. له ځان سره مې وويل: که زه دکمونستانو په بند کښې چې په اعدام محکوم شوی وم، شهيد کړای شوی وای، بشيراحمد څه چې يو زوی به مې هم نه و. يا که اوس، خدای مکړه، دا شهيد زوی مې، په داسې مرګ مړ شوی وای چې په دعا او فاتحه يې شرميدلای، بيا به مو څه کول، اوس خو الحمد لله هغه د عزت مړينه يې په برخه شوه چې هرمسلمان يې دځان لپاره غواړي)

الله تعالى دې په مرحوم استاد ريان او شهيد بشير ريان دواړو رحم وکړي او موږ ته دې هم همداسې عزتمند ژوند او تر مرګه په حق استقامت رانصيب کړي.

آمين يا رب العلمين

قاري سعيد

١٣٩٦ لمريز کال څيله، د سلواغې ١٤ مه

محمد رفیع

رسنۍ

اسلام اومسلمانان

اسلام فطري دين دى او دبشريت ټولې فطري غوښتنې پوره كوي، اسلامي لارښوونې دانساني ژوند دټولو برخو لپاره مكملې او جامع دي او له دسترخوان څخه نيولې دجهاد ترميدانو رهنمايې كوي، اسلام د دين په حيث پوره دى له اقتصاد ومعاش واخله ترسياست، عدالت، تجارت، تعليم او روزنې په هره برخه كې يې غوره رلارښونې كړې رازوديته چې نن سبا هيڅكله دا ممكن نده چې اسلام درسنيو يا صحافت په څېر مهم اوموؤثر ميدان له پامه اوغورځوي او يا مسلمانان يې په اړه دلويديځوالو مفكرانو اوپوهانو افكارو او اندونو څخه رهنمائې اخستو ته محتاج پاتي وي.

امريكا او نور غربي هېوادو د جمهوريت او بيهوده ازادۍ له ليده رسنيو لپاره يې اصول اوپه ټولنه كې دهغولپاره يو بې چوكاټه ازاد كردار ټاكلى، هندوانو اوچينايانو بيا دخپلو هېوادونو مزاجونوته په پام رسنيوته خپل اصول او مسيرونه ټاكلي په هرصورت نړۍ كې هرچا درسنيو لپاره دخپلو ملي او ديني ارزښتونو له ليده عمده ا هداف، چوكاټونه او تګلارې ټاكلې...

په تاأسف بايد ووايم دې لړكې مسلمانانوهغسې چې داسلام داحكامو غوښتنه ده او داسلامي ټولنو اوهېوادو دارزښتونو ارزوده دقران و سنت او خپلو ملي اقدارو په رڼا كې معلوم اصول او مقررات ندي ټاكلي بلكې پكې دنورو تقليد او پيروي كوي

په هره اسلامي ټولنه كې اوسيدونكو وګړو لپاره ضروري ده چې هغوى دخپلې ټولنې له پيښو، حالاتو او ارزښتونو سره بلدتيا او خبر ولري، دخبرولو ترټولو فعاله زريعې يا وسيلې رسنۍ دي چې ۲۴ ساعته خلک دنړۍ له حالاتو، واقعاتو، خبرونو، بدلونونو او لوړو ژورو خبروي، كوم چې په اسلامي نړۍ د يوتوپان دراتلو بڼه لري ځكه دزياترو خپرونو پروګرامونه، تحليلونه، تبصرې، معلومات اومواد مسلمانانواو اسلامې هېوادوله ارزښتونو سره متصادم دي، په دې دليل چې په لويه كې درسنيو د پوره كنترول او دخپرولو دواک واګې دامريكا، اسرايل، هندوستان اونورو په لاسو كې دي، له دې وجې ضروري ده چې اسلامي هېوادونه يې دمخنيوي په

باب فکروکړي دمسلمانانو او اسلامي هېوادو په واک کې شته رسنۍ خامخا له اسلامي اصولو پیروي وکړي او اسلامي مقررات په پام کې ونیسي، رسنیز مواد او پروګرامونه یې له اسلامي ارزښتونو سره متصادم نه وي.

له اسلامي لیده دصحافت یارسنیو اساسي هدف او موخه دنویو خبرونو رسولو، دپیښو او حالاتو توجیه او تعبیر له لارې دعامه رایې جوړول وې چې په وجه یې دخیر، رښتیاوو پراختیا او دباطلو و منکراتو بیخ کنې کېږي، دعظیم الشان قرآن او او احادیثو په رڼا کې دصحافت یا رسنیو مسؤلیت دادی چې دالله تعالی رضا ترلاسه کولو لپاره او په اخرت کې دنجات او بریا مندلو په نیت انسانان دنیکیو لورته دعوت کړي او ورته دحسنه اعمالو سرته رسولو توصیې وکړي له بدو کړو وړو یې منع کړي، دظالمو واکمنو په وړاندې دحق او انصاف غږ پورته کړي او په هیڅ بیه له بدو او منکراتو ملاتړ ونکړي او نه په درواغو دچا ملاتړ یا تصدیق وکړي.

دتعلیم او اقتصاد برخو په څېر د صحافت او عامه رسنیو په میدان کې هم دغربي اصولو پیروي اسلامي ټولنو کې خورا بد نتایج پیدا کولی شي.

ځنګه چې صحافت او دعامه رسنیو وسایل دپراختیا، کار کردګۍ او په تیزۍ کې ثاني نلري، په خاصه توګه کمپیوټر، انټرنیټ، سیټلایټ، او خواله رسنیو په نني دور کې خو دیو نوي کلتوري ځواک درجه مندلې او داسې ځواک چې کمزروي ثقافتونه له ځان سره مسخ او غوړپ کوي

که موږ دصحافت او عامه رسنیو په برخه کې داسلامي اصولو پیروي ونکړه نونه یواځې دمسلمانانو اسلامي تشخص ته به زیان ورسي بلکې اسلامي هېوادونه به دکفري او غربي ثقافتونو او کلتورونو په مغلوبو بدل شي.

ددغسې حالت غوښتنه داده چې مسلمان قلموال په دې برخه کې خپل رسالتونه درک کړي هم پخپله پر اسلامي حکمونو دعمل کوښښ وکړي او هم نور وربانديې دعمل کولو لپاره ور اوبولي په رسنیو کې دغربیانو داصولو خپلولو پرځای داسلام احکام، مقررات او اصول په پام کې ونیسي او درسنیو دلارې چې هرځه وړاندې کوي په هغو کې دالله تعالی نه ډار ولري دهغوپروګرامونو له وړاندې کولو ډډه وکړي کوم چې داسلام او شریعت سره متصادم او مخالف وي....

پای

* * *

د شهید ملا عبدالعزیز «ابوبکر» رَحِمَهُ اللَّهُ

لنډ ژوند لیک

سعد کټوازی

مور چې کوم شی چاته تر یو وخته ورکړو، که ښه یې راته ساتي او که بد پر ټاکلي وخت یې په هر صورت کې بیرته ترې اخلو، نـه پـه دې سره پـه امانتدار تیري کونکي او د هغه حق خوړونکي بلل کیږو او نـه مـو امانتـدار مظلوم او د دغه شي دعوه دار بلل کیږي، ژوند هم د خدای جَلَّجَلَالُهُ یـو امانت ده چې هر چاته یې د مور په خېټه کې ور کوي، ځینو ته یې نـږدې د وړوکتوب، ځینو ته یې میانه د تاندې ځوانۍ، ځینو ته یې د ارذل العمر (ډېر بوډاتوب) جلاجلا مودې ټاکلې وي، او په خپل وخت دغه امانت ترې اخلي.

ځیني خلک د هغه په له لاسه ورکولو ډېر کړیږي او بـدي ورځـې هـم کوي، خو له شهید څخه د دې امانت اخستلو څه بل ډول فلسفه وي، هغـه که څه هم دعوه یې نه لري خو یواځې له بیرته سپارلو یې د خوند اخستلو په غرض وایې که سل ځله یې بیا را کړې ښه بـه وي! بیرتـه یـې در کـوم، لـه همدې امله رسول الله مبارک ﷺ به هم ویلې چې غوره ګنم خدای جَلَّجَلَالُهُ ته دغه امانت ور کړم (د هغه په لاره کې ووژل شم) هغه یې بیا را کـړي زه یـې بیرته ور کړم هغه یې بیا راکړي او زه یې بیرته ورکړم.

هو! شهید عبدالعزیز ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ ته خدای (جَلَّجَلَالُهُ) تانده ځوانۍ د خپل امانت (ژوند) موده ټاکلې وه او ترې وایې خیست، که څه هـم د سل ځله شهادت غوندي سپیڅلي ډېر ارمانونه به یې نیمګړي لـه ځان سره وړي وي او د هغه د وینو د رنګینیو پـه بـرکت پـه وروسـته پـوره شي خـو چـې د ده سپیڅلې تګلارې او خوږو خاطرو ته ځیر شـو نـو د اسلامي امارت سپیڅلي صف ته تر وروستۍ ساه وفاداري، تعهد او بیا د دې یـوه ځـل شـهادت پـه ګډون ډېر ارمانونه یې پوره هم شول.

زوکړه: امیر صاحب ملا عبدالعزیز ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ چې یو وخت د اباسین په نوم هم یادیده پـه (۱۳۵۴) لمریز کال چې لـه (۱۹۷۵) زیږدیز سره برابـرده د ارګـون د پیرکـوټي سیمي د شیخانو په علي شاه کوټ کې د خواجه محمود د زوی خواجه ملا اول ګل پـه دینداره او جهاد پـروره کـورنۍ کـې و زیږیـد، لـومړنۍ دینـي زدکـړې یـې د سیمه ایز مشهور عالم قاضي محمد انور صاحب څخه وکړې؛ خو دا چې د پلار د ورپوري ناجوړې له امله د کور ټولې چارې هغه ته ور له غاړې وې ویې نکـړای شـول خپلـو زدکـړو تـه دوام ورکـړي، خـو کـه دینـي زدکـړه یـې نیمګړې شوه د مدرسې ګرمه مینه یې بیا هم له زړه ونه وتله، کله هم چې بـه یې فرصت ترلاسه کړ په دیني زدکړه، د قرآن کریم په تفسیر، دیني او تاریخي مطالعه به بوختیدو، له همدې امله د هغه شخصیت ته په کتلو یو د منځنۍ سویې عالم بریښید.

دجهادپیل: ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې له عمره لا کشر و خپلې شوخې ځوانۍ، جهادي ولولې، لوړ استعداد او فکر هغه مهال د اسلامي امارت د سپین کاروان ملګری کړ چې مولوي عبدالکبیرصاحب (دا مهال د رهبري شورا غړی) حفظه الله د ننګرهار والي و، ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د هغه د یو ملګري حاجي حمید ګربز تر قومانده لاندې د هغه په نظامي کنډک کې و اوسید، له همدې ځایه یې خپل جهادي یون پیل او د اسمار ولسوالۍ، دره نور ولسوالۍ، دکابل د شمال جنګي کرښو اوګڼ شمیر نورو تشکیلاتو کې د یو غښتلي مجاهد په توګه برخه واخسته او په زړه پوري کارنامې یې ترسره کړې.

دصلیبي یرغل په وړاندې: د صلیبي یرغل په لومړیو شیبو کې چې د وخت غوښتنو او شرائطو ته په پام مجاهدینو تازه دمه نویو تکتیکونو ته مخه کړه د اورګون پیرکوټي سیمي مجاهدینو هم دواړه اختر په میاشت کې چې د٢٠٠١ زیږدیز له نومبر سره برابره وه د سیمه ایزو علماو او قومي سپینږیرو یوه ناسته را وغوښتل شوه چې د هغو په سلا مشوره په سیمه کې مجاهدین (چې له هغو څخه یوهم ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ و) بیا له سره منظم شول او نوی جهادي بهیر یې پیل کړ.

د ملا ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ اخلاص، لوړهمت او متانت، زړورتیا او جګړه ایزې وړتیا، باوري کارنامو او ښې سابقې ته په کتلو د٢٠٠٣زیږدیز کال په فروري میاشت کې د یوې بلې غونډې په ترڅ کې د سیمې د مجاهدینو د ټولیز مشر په توګه وټاکل شو.

دا وخت چې حالات نامساعد، زیاتر مجاهدین سره تیت و پرک شوي او د نظامي زدکړو ښه تجربه لرونکې مجاهدین په ډیره ګرانۍ سره موندل کیدل، پخپله ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ که څه هم د کشرتوب له امله ځانګړې مسلکي زدکړې نه درلودې خو له خدای جَلَّ جَلَالُهُ ورکړې وړتیا، متین عزم او هوډ سره را ښکاره شو، لومړی یې د محترم خلیفه صاحب سراج الدین حقاني حفظه الله په لارښوونه له مسافرو مجاهدینو د نورو مسلکي زدکړو سربیره منفجرمواد، ریموټ کنټرول، د هغه له لارې کنټرولیدونکي د بوشکو ماینونه او ډول ډول محاربوي تکتیکونه زده او په خپله وړتیا او سانسور یې پکې ځانګړي مهارتونه ترلاسه کړل.

مسلکي وړتیا او کارنامې: په دې برخه کې هم د ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ غوندې مستعد شخص په لږ وخت کې د انجنیرۍ رتبې ته ورسید، په ځمکنې ډول ډول ماینونو په ځانګړې توګه دریموټ آلې له لارې کنټرولیدونکي بوشکې ماینونو په جوړولو، ځای پرځای کولو او انفجار کې ځانګړې پوهه او تجربه درلوده، له همدې امله په ریموټ کنټرولیدونکې ماین د ولایت په سطحه لومړی ځل د ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ یو ملګري په منې کنډو کې انفجار کړ، له هغه وروسته هم په ټول ولایت کې د ابوبکر یواځینۍ ډلګۍ ده چې په دې برخه کې په لومړۍ رتبې پیژندل کیږي.

شهید ملا ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ هغه وخت د پیرکوټي کڅوک سیمې ته خیرمه غرونو کې تربیوي مراکز هم فعال کړل چې پکې د هغه ترڅنګ عربو مجاهدینو له لوري ګڼ شمیر مجاهدین تر نظامي روزنه لاندې و، له دې پرته د سیمې او نورو ولسوالیو مجاهدین هم پکې دیره و، د جهادي مکتب د بیلابیلو ولایاتو لکه: پکتیکا، پکتیا، خوست، مزارشریف، زابل، کندهار، هلمند او...ګڼ شمیر شاګردانو ترې نظامي زدکړې وکړې او په لوړه جهادي روحیه یې سمبال کړل، که له یوې خوا یې د جهادي مشرانو

پام نور هم ځانته را واړا و له بلې خوا يې د کشرانو مجاهدينو مورال هم څو برابره لوړ کړ.

د۲۰۱۰زېږديز کال په سپتمبر مياشت کې په يادو مراکزو يرغلګرو يو داسي درونډ چپاو راوړ چې له يوې خوا له خوست ښخه په کروز ميزائلو وويشتل شول او له بلې خوا زرګونو ځمکنې ځواک چې b52 الوتکو، ډرون، بلاک هاک اوډول ډول چورلکو بدرګه کاوه بريد وکړ، مجاهدين له څو ساعته کلک مقاومت وروسته له نهه تنه شهيدانوپرته ټول په خونډې توګه له ساحې ووتل.

شهيد ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ خپل هدف له پوره دقت سره ښارو او د هغه د له منځه وړلو ټول اړخونه به يې هم دقيق تر نظرلاندې نيول او بيا به يې تياری ورته نيوه، ترڅو له يوې خوا د خپلو تلفاتو مخنيوی شوی وي او له بل لوري د امکان تر پولې په بې ځايه مزاحمت کې را نشي، نو ځکه هغو په خپلو بريدونو کې يا خو تلفات نه درلودل او يا هم ډير کم و، د دښمن په يو لوی کاروان کې به يې خپل مستهدف ټانګ او موټرله پيله تر ښار لاندې نيولي و او په دومره زيات مهارت به يې ماينونه ورته ځا ی پرځا کړل چې يواځې خپل هدف به يې له منځه يو وړ، او تر ډيره به يې باندينې پوځيان او د هغو مشران په نښه کول.

ملا ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ د ارګون کمپاين چې په هيواد کې يو له لويو کمپاينو او اډو څخه و د ميزائلو تندريز بريدونه ترسره کړل، داسي بريدونه چې په لومړي فائر سره به يې دوير نغاره ووهل شوه او په څو دقيقو کې به فضا امريکايي b52 الوتکو ونيوله.

امير صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ د۲۰۰۳زېږديز په سپتمبر کې په يو ځانګړي تکتيک په ياد کمپاين۲۰ميزائل وار کړل چې يرغلګرو په هيواد کې د خپل شتون په وړاندي يو ستر بريد وباله، د کمپاين له دننه د ترلاسه شوي خبر له مخې ياد ميزائل په مستهدف خوړنځي او نورو ځايو ور برابر شول، له امله يې د ځلويښتو په شاوخوا کې اشغالګر مړه او ژوبل شول، چې د هوا له لاري انتقال يې درې ورځې ونيوې او پکې په داخلي ګوداګيانو يې هم د کمپاين دروازې تړلې وې، له دې پرته امير صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ او د هغه ملګرو په ياد کمپاين وخت په وخت په لسګونو ميزائل وتوغول.

د۲۰۰٦ زېږديز کال په سپتمبر مياشت کې شهيد ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ د منې کنډو په سيمه کې د پکتيکا ولايت د امريکايي ځانګړو پوځو مشر-(جان) او د هغو د مالې چارو مسئول (پيتر) زغروال ټانک چې د امريکا سپيشل فورس او اجيرو يې د ګيان کمپاين پوري بدرګه کول انفجار کړ او ياد دواړه مشران پکې ځای پر ځای ووژل شول، ويل کيدل چې پيتر له دې وړاندې د ګيان کمپاين په داخلي لاسپوڅو د تنخوا ويشلو په مهال هغو ته په نږدې څو ورځو کې امريکا ته د خپلي ستنيدنې هم ويلی و.

له دوی پرته په بيلابيلو وختو کې د اورګون، ګيان، سرحوضي، پړاو سيمه، منګرتي، لواړه، توی اډه او د منې کنډو په تاريخي ګرم سنګر کې د شهيد ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ او د هغه د ملګرو د ماينونو په چاودنو او کمينونو کې هم په لسګونو بلکې په سلګونو يرغلګرو اوداخلي اجيرو يې ژوند له لاسه ورکړی و.

ملا ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ په دې سربيره د يرغلګرو په لسګونو ټانګونه، عراده جات، رينجر موټر، اکمالاتي کانتينر او نور نقليه وسائط په اور لولپه کړل، د دي تر ټولو ګرم سنګرد منې کنډو و چې د ګيان کمپاين او د لواړه د کمپاين اکمالاتي لاره پري تيريدله، د

ډیرو ضربو په لیدلو پرې لاره بنده شوه چې د هوا له لارې د یاد کمپاین څه مودې اکمال وروسته یې هغه مجبوراً تخلیه کړ.

ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ښې ورتیا او ځیرکتیا له برکته یو له هغو ګوتشمیره قوماندانانو څخه و چې د سیمې او د فعالیت په ساحو کې د یرغلګر دښمن او د هغه د لاسپوځي رژیم لپاره یوه لویه سرخوږي وه، له همدې امله هغو ته له مخکې لا یو مطلوب شخص و، چې دا وخت یې د ۲۰۱۱زیږدیز کال د سپتمبر د میاشتي په پای کې د هغه نوم هم په تورلیست کې ځای کړ او د هغه په سر یې ښه درنه اجوره و ټاکله، په دې اړه د خپور شوي راپور د پیل ځینې ټکي داسي و:

امریکا د حقاني شبکې په قوماندان عبدالعزیز اباسین رَحِمَهُ ٱللَّهُ بندیزونه ولګول، د امریکا د مالي چارو ادارې له لوري د حقاني شبکې په مهم قوماندان عبدالعزیز اباسین رَحِمَهُ ٱللَّهُ بندیزونه ولګول شول او د هغه سامانونه یې هم مصادره کړل، ادارې په هغه باندي د طالبانو د اقتصادي درکونو د سمبالښت او په بیلابیلو پیښو کې د تروریستو ډلو سره د مرستي تورونه پوري کړي دي.

د امریکا د مالي اداري د ویاند ډیوډ کوهن په حواله خپور شوي راپور وایي چې عبدالعزیز اباسین رَحِمَهُ ٱللَّهُ د پکتیکاولایت دجهادي مسئول مالي مرستیال دی او د اورزګان په ولایت کې د یوې ډلګۍ مشري هم کوي، اداره ادعا کوي او وایي چې نومه وړی له دې سره سره د یو روزنیز مرکز چاري هم په مخ وړي او پرې په څو مهمو امریکایانو باندي د بریدونو تورونه هم دي...

امیر صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ د خپل مسئولیت په ساحو کې هم ډیرې زیاتې کارنامې تر سره کړې دي چې د ټولو راوړل دلته شوني نه دي، د هغو له امله دښمن ته یو ډیر مطلوب او مهم شخص و.

شخصیت یې: شهید ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ یو داسي خوږمن، متواضع، مخلص، رینښتنی، د ښي ورتیا، متانت، ستري حوصلي، لوړو اخلاقو څښتن او د جهاد او اسلامي امارت اهدافو ته متعهد، وفادار او ژمن، چپ او باوقاره مشر و چې نه یواځې د خپلو ملګرو تر منځ بلکې په خپلو او پردو ټولو کې یې محبوبیت او په دښمن یې لا هم ځانګړی اغیز درلود.

شهید ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د کور تر هوساینو او ارام ژوند د جهاد د ډګر ستونزې، ناخوالې، ستړې ستومانۍ او د دښمن مخ ته شپې په ویښه لوبول تر بل هرچازیات خوښول؛ نوموړی د جهاد او مبارزې په لاره کې ډیرې سړې تودې هم ګاللې خو هیڅ ډول ستونزو او کړاونو له خپل جهادي سپیڅلي یون څخه را ستون نکړ او په دې لاره کې یې د ستړیا په نوم څه نه پیژندل، هغه به د هر څومره ستونزمنو پیښو په وړاندې په نورمال حالت کې و، هیڅ د وار خطایي نښې او هیڅ تغیر به پکې نه ښکاریدل، د مبارزې په لار کې د خپلو هڅو او خواریو په ښو پایلو به یې ټینګ باور درلود او د ملګرو مورال به یې تل لوړ ساته.

ملا ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ له عام ولس سره یو زړه را ښکونکی تعامل درلو، داسي عامل چې څوک به یوځل ورسره مخ شو بیا به تر ډیره له هغه خوښ و، که چا به ورسره هرڅومره زیات وخت تیر کړ ترخه خاطره یې نه تړې درلودله، د ولس د ستونزو اوخپل منځي کشالو اوارولو او د ولسي خلکو د خوشال ساتلو به یې هر ممکن کوښښ کاو او په ځان یې د هغوی حق باله، د دښمن له بندیانو سره به یې له تمي پورته ښه چلند کاو، داخلي ګوډاګیان که به یرغلګر دښمن د سپر

او کمربند په توګه ونه کارول د امکان تر بریده یې ځنګ ورکاوه، له قوم پالنې اوبل هرډول تبعیض څخه یې کرکه لرله همدا لامل و چې د نوي جهادي بهیر له پیله ور سره د سیمې علماء او سپینږیري، د مسئولیت په ساحوکې ومې مشران او عام ولسي وګړي او د هیواد د بیلابیلو قومونو سره تړاو لرونکې مجاهدین پرې راټول و، په هرځومره ستونزمن حالت کې اوږه په اوږه ورسره ولاړ و د هغه رَحِمَهُ ٱللَّهُ له شهادت وروسته یې هم د هغه رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ملګرو په ټینګ ملاتړ سره د وفا او تعهد ښکار ندویې وکړه.

شهید ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې په بیلابیلو ولایتونو کې خورا په زړه پوري جهادي فعالیتونه کړي و د هغو په مټ یې ځانته په خپل وخت کې د خپلو سیالانو له منځه د باور یو داسې پوستې تر لاسه کړی و چې ساری یې ډیر کم لیدل کیږي.

ملا ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د محترم خلیفه سراج الدین حقاني صاحب حفظه الله یو له هغو باوري او غښتلو قوماندانانو څخه و چې د یرغل په وړاندې د نوې جهادي بهیر له پیله یې له خلیفه صاحب حفظه الله سره نږدې پیژندګلوي او اړیکې پیدا کړې او وخت په وخت یې د هغه په مستقیمه لارښوونه او ملاتړ کار په مخ بیوه، خلیفه صاحب حفظه الله ډیر هغه کارونه چې غوښتل به یې پخپله یې کړې وای ابوبکر ته سپارل، له دې سره سره یې د آسیایې هیرو او د غربي امپراتوري نړونکو شاهکاریو مبتکر شهید حافظ بدرالدین حقاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره هم د ځنګ ملګرتیا، په ډیرو برخو کې سلا مشورې درلودې او ترې د جګړه ایز ابتکار رنګ یې اخستی و، د شهید ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د بریمنو طراحیو د پام وړ راز همدغه اړیکې او سلا مشورې وې، او خلیفه صاحب حفظه الله ته د خپل نازولي ورور په ملګرتیا نور هم ګران او د باور وړ و.

په امیر صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ باندې خدای جَلَّجَلَالُهُ د قوي او جذاب هیکل اوښکاره ښکلاو تر ځنګ ډیري پټې ښکلاوې هم پیرزو کړې وې چې له هغو څخه یې د مجاهدینو او هم عامو خلکو تر منځ د شخړو اوارولو، او ښه یو والي او اړیکو جوړولو یوه ځانګړې ملکه وه، د برمل د مسئول په صفت د هغه تعیېن خلیفه صاحب حفظه الله په دې ټکو کړی و ((ته مو د برمل......موقیعیت ته د اهمیت په سترګه د کتلو په بنسټ د هغه د مسئول په حیث وړ وبللې ترڅو د دې سیمې د لر او بر مجاهدین وې که عام وګړې د یو والي او انسجام د غښتلتیا لپاره کار وکړې)).

مسئولیتونه: ملا عبدالعزیز ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ له لومړي سره داورګون او ور ځیرمه ولسوالیو په بیلابیلو سیمو کې فعالیتونه کول چې ورسره د خوست په ځیني خاصو پروګرامونو کې به یې هم ګډون کاو، د پکتیکا ولا یت په څو محاذونو له ویشلوسره سم ابوبکر د اورګون د ټولو ډلګیو په خوښه د اورګون د محاذ مشر شو، په۲۰۱۲زیږدیز کال د ګیان ولسوالي مسئولیت ور له غاړې شو، په۲۰۱۳ زیږدیز کال د برمل ولسوالي نظامي مسئول وټاکل شو، په۲۰۱۴ زیږدیز کال د پکتیا وزي ځدران مسئول شو، وروسته په ۲۰۱٦ زیږدیز کال د خوست دوه مانده مسئولیت ور له غاړې شو او۲۰۱۷ زیږدیز کال د محترم پیراغا صاحب له لوري د اورګون مسئول تعیین شو.

خاطرې: ما چې له ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ سره ځومره وخت تیر کړ او ځومره مې هغه له نږدې پیژاند هغه د دیني، اخلاقي او کلتوري وجیبې په توګه د امارت لائحو، د مشرتابه وخت په وخت اعلامیو او د مشرانو لارښو ونو ته بیخي زیات احترام او التزام درلود،

هیڅوک دا نشي ثابتولای چې هغه دې په کومه برخه کې د مشرانو، لائحواو اعلامیوي لارښونو سرغړاوی کړی وي.

ملا ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ هغه تولي ځانګړني لرلې چې د یو بریالي مجاهد امیر لپاره یې درلودل اړین وي، هغه په ډیر کمال او مهارت د خپلي سیمي، د فعالیت د سیمو او عام مجاهدین او ولسي خلک په ځان راټول کړې و، له همدې امله هغه ترښکاره او وړو مصلحتونو پټو موخو ته زیات انتخابیده، هر وخت له یوې دندې یا له یوې سیمي او ساحې بلي ته د یو ځانګړې پټ یا ښکاره مصلحت له وجې بدلیدو.

یو قاري صاحب وایي: شهید ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ مې یو داسي څوک پیژاند چې له هرې خوا پوره اوډیر مدبر امیر و، له همدې امله مې هغه نه یواځې ملګری اومشر و بلکې ډیر راته محبوب او ګران هم و.

د پکتیکا د وازیخواه ولسوالۍ یو مولویصاحب وایې: ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ علماوو، طالبانو او مجاهدینو ته بې کچې احترام او له هغو سره مینه درلوده، دی وایې د دستاربندي په مهال یو شمیر مالي اړتیاوې را پیښې وې له امیر صاحب سره مې اړیکه ونیوه هغه زماله اړتیا زیاته مرسته وکړه، چې دا یې له علم او علماوو سره د میني او اخلاص لویه نښه وه.

د هغه یو نږدې ملګری او کلیوال مولوي عبدالله (یاسر) وایې چې له ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ څخه دیني زدکړې پاتې شوې وې، خو ور سره بې کچې میني یې ارام ترې تښتولی وه، دی وایې زه د سیمي په صدیقیه نومې مدرسه کې وم، د مدرسې د کوم کار لپاره به چې کله هم اشر را غوښتل کیدو ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ به یې په سر کې و.

د وازیخوا مولوي صاحب کیسه کوي: د خوست دوه مانده ولسوالۍ ته ورسره لاړم، کله چې امیرالمؤمنین شیخ هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله امر صادر کړ چې مجاهدین باید په روژه کې څه ارام وي، شهید ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ ماته وویل چې هسې هم کارونه بند شول، له بل لوري په روژه کې سفر تکلیف وي چې ته لاړ شې... د مدرسې او کتابو د لګښت ژمنه یې هم وکړه خپل موټر او تر ټولو نږدې دوه ملګري یې راسره کړل چې اورګون ته مې ورسوي، هلته یې خپلو نورو ملګرو ته لارښوونه کړې وه چې ډیر مې ونه ځنډوي ځکه دوهمه ورځ لومړۍ روژه وه، په همدې ترتیب مې له هغه سره ټوله ملګري له درنښت او میني ډکه وه.

د نکې ولسوالۍ قوماندان حمیدالله سرحدي وایې ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ د [أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ] ژوندی مثال و، که له کوم مجاهد ملګري سره به دده او یاهم نورو مجاهدینو خبره راغله ډیر به له خدای (ج) څخه په ویره کې و چې یا د جهاد په لاره کې په هغه ملامت شوي نه وي یا خبره د مجاهدینو په زیان وانه وړي د حل هڅه به یې کوله او د خبري په حل ډیر ښه پوهیدو، خو د خپل سرو او بیلاري خلکو یې بیا هیڅ پروا نه کوله.

د خوست سپیرې ولسوالۍ مولوي ثاقب وایې: ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ دښمن ته دومره زیات مطلوب و چې د هغه د مخابرې کوډ او د هوا په څپو کې یې غږ هم کشف و، چیرته هم چې د هغه غږ به واوریدل شو نو چورلکې او بنګنې به پرې را تاو شوې، خو ده یې هیڅ پروا نه کوله، په دوه مانده کې په یوه بیس باندې د برید په مهال یې له دوو نورو ملګرو سره په داسي ځای کې کمین نیولی و چې شاته یې د بیس دفاعي پوسته او له مخې یې بیس او له هغه را وتلي د دښمن عسکرو چې د بیس د مشر ـ ګوډاګي مرستیال په ګډون یې پکې ۲۵ مړه او ژوبل کړل.

ثاقب وایې ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ به د دښمن د الوتکو په سیورې کې په پوره ډاډ او میړانه داسي مقاومت کاو لکه

چورلکې چې هم د ده مرستې ته راغلې وې، هغه هیڅ وخت لـه مقاومتـه نـه شاته کیدو او هیڅ وخت یې ملګري له ځانـه دښـمن تـه نـه دي ور وړانـدي کړي.

د هغه نږدې ملګري وایې ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل ابتکـار ماینونـه داسي عیارول چې ښایې بل چا نه و کړي، کوم امریکایې زغروال ټانـګ چې بـه یې ښکار کړ د هغه له فولادې اوسپنې بـه یې د مـاین تـیرې او درنـې چـرې او برچې جوړولې چې یو به یې د امریکایې ټانګانو د غولې هغه فولادې تخته هم تخریبوله چې هیڅ مـاین یـې نشيـ تخریبـولای او بـل بـه د هـدف پـه زیـات تخریب کې ډیرې په زړه پورې وې.

په یو بازار کې د کباړ یو کار کونکې د نوم نه ښو دلـو پـه شرط و ویـل چې ملا عبدالعزیز ابوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ د امریکایـانو او داخلـي ګوډاګیـانو مـوټر، ټانګونه او نور نقلیه وسائط له تخریب کولو وروسته په موږ بانـدې پلـوري او ډیر ترې خوښ و، هغه د پوځې موټرو په لویه پیمانه په وینو لړلې اوسپنې ته په اشاره سره و ویل په دې اوسپنه کې د وژل شویو امریکایانو غوښې هم وې په لارې کې ټاټ پرې اچول شوی و، چې ترې پورته مو کړ د ډیري بـد بـویې له وجې مو ونکړای شول ویې ګورو.

یو مولوي صاحب وایـې چـې ابـوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ خپـل ملګـري هـم پـه خپـل ځانګړې مزاج او روحیه روزلي وو، دی وایې په یو سفر کې د ابـوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ له یو برجسته ملګري (محمداسماعیل ذاکر) سره ملګری وم یو ځـای د لګـډ په منځ کې د ولسي خلکو یو سراچه موټر چې دوه نفر او زنانه مریضـان پکـې وو په اوبو او خټو کې بند و، ذاکر زموږ د کرایې موټر ورته و دراو او د ملګرو په مرسته یې موټر له اوبو او خټو را ویوست، مولوي صاحب وایـې چـې ماتـه یې د رئیس الوزراء ملا محمدرباني (رَحِمَهُ ٱللَّهُ) هغه کارنامـه را یـاده کـړه چـې ویل کیږي د کابل کندهار په لویه لاره د ولسي خلکو بینـز مـوټر پـه واوره او خټو کې بند و رئیس صاحب د خپلو ملګرو پـه ملتیـا هغـه تـه ټیلـه ور کولـه ږیره یې په خټـو وه او ویـل یـې ((دا خـو پـه مـوږ بانـدې د ولـس حـق دي))، رحمهم الله.

شهادت یې: لکه څنګه چې مو و ویل ملا عبدالعزیز رَحِمَهُ ٱللَّهُ دښمن تـه ډیر مطلوب او د هغـه تـر پرلپسـې جـدې څـار لانـدې و، د سیمې دغـه سر سپارلی او باتور مجاهد د اسلام د سپیڅلې د ین د سر لوړي پـه لاره کـې لـه نـه سـتړې کیـدونکو هڅـو وروسـته د ۱۴۳۸ سپوږمیز کال د روژې د میاشتې پـه۲۳چـې د۲۰۱۷ زیږدیـز د۶/۷ سره برابـره ده د پلـرني ټـاټوبي شـیخانو پـه کـڅوک سـیمه کـې د څلـورو ملګـرو (سـیدمفکر، عبدالسـتار، ملنـګ او نادرخان ثاقب) پـه ګـډون د امریکـایې بي پیلوټـه الـوتکې لخـوا پـه یـو سراچـه مـوټر کـې پـه نښـه او د خپـل ژونـد وروستي ارمـان (د شـهادت لـوړ مقـام) تـه ورسـید (انـاالله وانـا الیـه راجعـون)، نَحْسَبُهُ كَذَالِک وَ نُحْسَنُ بِهِ الظُّنَّ وَاللهُ حَسِیْبُهُ وَلَا نُزَکِّیْ عَلَی اللهِ اَحَدًا.

د شـهید مـلا عبـدالعزیز ابـوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ کورنۍ او ملګـرو تـه د جهـادي مشرانو او په ځـانګړې د الحـاج خلیفـه سراج الدین حقاني صاحب حفظه الله د تسلیت پیغامونه هم راغلي، چې پکې د تسـلیت ترڅنـګ د ابـوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ پـه شهادت ټینـګ غبرګونونـه هـم ښـودل شوي، د دې ژوند لیک د اوږدیـدلو لـه املـه مـو دلتـه د هغـو مـتن رانـه وړ، شـهید ابـوبکر رَحِمَهُ ٱللَّهُ تـر شا یـو ورور، څلور زامن، دوه لـونې، یـوه تـورسرې او پـه خپلـه روحیـه سـمبالو مجاهـدینو جراره ډلګۍ پریښوده؛ روح دې ښاد او یاد دې تل پاتي وي.

داتومي وسلو نوې سيالي

او د جنګ نوی ډګر

شهيدزوی

دامریکا د ملي نوې امنيتي ستراتيژۍ داعلان نه پس دټرمپ اداري دخپل اتومي پروګرام په اړه هم دفورۍ په ۲ مې نېټې نوې تګلاره او پلان اعلان کړ.

داتومي پروګرام په اړه په دې نوې اعلان شوې تګلارې کې دا راغلي دي چې دامريکا داتومي وسلو دعصري کولو او دبنه کولو ډېره اړتيا ده ځکه چې روسې او چين دواړو خپلې اتومي وسلې ډېرې عصري کړيدي او داسې اتومي وسلې يې هم جوړې کړيدي چې دپراخ او سترو تاوانونو په ځای سيميز او کوچني تاوانونه اړوي.

امريکا وايي اوس روسيه دامريکا نه پدې ډګر کې وړاندې تللې ده نو ځکه امريکا هم اړ ده چې پدې ډګر کې مقابله وکړي او نوې اتومي وسلې جوړې کړي.

دنوې امنيتي ستراتيژۍ او دنويو اتومي وسلو دجوړولو په اړه دامريکا له لورې په خپرو شويو اعلاميو کې روسيه او چين دښمن هېوادونه بلل شويدي؛ افغانستان دتروريزم، طالبانو او داعش مرکز ګڼل شوی او پرپاکستان تور دی چې پکې ددوئ په اصطلاح دتروريستانو مصئون مرکزونه او پټن ځايونه دي.

ددې ترڅنګ دامريکا ددفاع وزير جيمزميتس په تازه خپرې شوې وينا کې دا هم راغلي دي چې تروريزم نه بلکې دنړۍ ستر طاقتونه اوس دامريکا دملي ستراتيژۍ دتوجو مرکزي نقطه ده.

څېړونکي واي چې دروسې اوچين په مقابل کې دنويو اتومي وسلو دجوړولو لپاره امريکا اړده چې تريو ټريليون ډالرو پورې بوديجه ځانګړې کړي حال داچې ويل کېږي چې امريکا لا له وړاندې داسې نوي کروز توغندي جوړ کړيدي چې په ډېر ټيټ پرواز او د رادار دسترګو نه پټ له سمندرونو هم او ړي؛ ځان خپل هدف ته رسوي او داسې زهرجنه وړيخ خپروي چې ژوندی ټول مخلوق وژني او داهم نه معلومېږي چې حمله اتومي وه که نه؟

امریکایان وایي چې له څه مودې راهیسې روسیه دوړو اتومي وسلو جوړولو په ځانګې کې په مسلسل ډول مخ په وړاندې روانه ده نو امریکا په ښکاره ددې نویو اتومي وسلو هدف پدې ځانګې کې دروسې دپرمختګ مخنیوي او دچین مقابله ښایې.

دامریکاله پیل نه دا پالیسي راروانه ده چې دخپلو ګټو په لار کې هر خنډ ته دښمن وایي؛ دا دښمن دامریکا نه ډېر لرې په بحراني سیمو کې مصروف ساتي او ځپي یې؛ په منځني ختیځ کې امریکا همدا پالیسي ـ عملي کوي.

دمنځني ختیځ په اسلامي هېوادونو کې چې امریکا دفرقه یز تاو تریخوالي؛ کورنو جنګونو، ددولتونو پرضد دبغاوتونو، دهېوادونو ترمنځ دښمنیو ته لارې، اسلامي نړۍ کمزورې کوي، په لویه پیمانه دمسلمانانو وینو تویولو او دربدرۍ ته لار برابروي نو ترڅنګ یې خپل دښمنان هم پدې سیمه کې مصروف ساتي او ورته دتاوان رسولو هڅې کوي.

امریکا دمنځني ختیځ په څېر دلته په جنوبي آسیا کې هم همدا پالیسي په کار اچولې ده؛ دهمدې دتطبیق لپاره دلته راغلې ده او ددې لپاره یې مرکز زموږ هېواد ګرځولی دی.

امریکا چې زموږ هېواد کې اډې جوړې کړیدي هدف یې دلته دائمي حضور په ترڅ کې خپلې ګټې دتل لپاره ساتل او دروسې او چین په څېر دهېوادونو دنفوذ او پرمختګ مخنیوی دی؛ دامریکا دګټو دساتنې او دروسې او چین دمقابلې لپاره په جغرافیایي لحاظ دافغانستان موقعیت ته دسیمې بل هیڅ هېواد نه شي رسېدای نو ځکه یې دهمدې ځای نه دخپلودښمنانو پر ضد دخپلو پلانونو دتطبیق هوډ کړی اوهمدلته یې د دائمي حضور لپاره اډې جوړې کړیدي.

بې پیلوټه طیارې دامریکا ډېره پرمختللې ټیکنالوژي وه چې دپاکستان دقبائلي سیمو او دافغانستان دښه ډېرو مسلمانانو پروژلو یې ښه په خلاص مټ وه ازمویله؛ دبمونو دمور په نوم بم هم همدلته وکارول شو.

نو که وغواړي دروسې او چین په مقابل کې به دانوی تیارېدونکې اتومي وسلې هم همدلته وکاروي چې ترلسګونو کلونو به یې بدې اغېزې په راتلونکو نسلونو کې رابښکاره کېږي او هیڅوک به دامریکانه دپوښتنې کولو نه وي.

دچارو امریکایې او نورو ګڼو پوهانو ډېر پخوا لا ویلي وو چې اول او دوهم دواړه نړیوال جنګونه په اروپا کې رامنځته شوي او همدلته یې لویه بربادي رامنځته کړې وه؛ دا ځل که دریم نړیوال جنګ رامنځته کېږي نو مرکز به یې آسیا وي.

داسې نده چې ګینې دروسې دبیاسر راپورته کولواوپه اقتصادي اوعسکري ډګر کې دچین دسریع پرمختګ په مقابل کې امریکا ایله اوس حنډونه ایجادوي؛ دچین سره دامریکا دمقابلې چمتووالې لا ډېر له وړاندې نیول شوی و خو اوس په علني ډول او علی الاعلان دچین پرضد دجوړ شوي پلان دعملي کولو او دچین پرضد دحلقې تنګولو لپاره اقدامات کېږي.

ټرمپ هڅې کوي چې چین دامریکا په مقابل کې یو داسې هېواد وښایې چې ورته شکست ورکول

دامریکا لپاره یوه عادي خبره وي او هیڅ ستونزه نه لري.

لکه دافغانانو په مقابل کې چې شوروي اتحاد ماتې وخوړه او پدې ماتې کې دامریکا دمرستو هم اغیزه وه په ورته شکل دچین شکست هم یقیني ښکاره کوي.

خو دامریکا دا فکر ډېر ناسم او پلان یې په هیڅ صورت کې کامیابېدونکی ندی.

دسوړ جنګ زمانه بېله زمانه وه او اوس وخت ډېر بدل دی؛ یو خو پرافغانستان یرغل دشوروي اتحاد ډېره ستره اشتباه وه چې ددې اشتباه سزا یې دسر په سترګو ولیده؛ روسیه یا چین داسې اشتباه نه کوي؛ هیڅ داسې هېواد نه ښکاري چې چین یا روسیه به پرې حمله وکړي او په هغه هېواد کې دسترې ماتې سره مخامخ شي.

بل دا چې امریکا هم اوس دسوړ جنګ دزمانې امریکا نده پاتې بلکې حقیقت دا دی چې امریکا اوس داسې ده لکه دسوړ جنګ په زمانې کې چې شوروي اتحاد و.

ددوهم نړیوال جنګ نه پس امریکا دنړۍ یواځینې هغه هېواد و چې اقتصاد یې دومره قوي و چې دخپل دې قوي اقتصاد پرمټ یې په نړۍ کې خپل شوم پلانونه نافذکړای شول.

امریکا په جنګ کې تباه شوې اروپا دیو ستر مارشل پلان له مخې بیا ورغاوله او دلته یې دپانګونې له لارې په خپلو پښو ودروله؛ په جنګ کې دجاپان او جرمني په څېر ددښمنوهېوادونو صنعت یې هم بیا راژوندی کړ او پدې دواړوهېوادونوکې یې فوځي اډې هم جوړې کړې ترڅو دا دواړه هېوادونه هغسې جنګي ورتیابیا پیدا نکړي لکه کومه یې چې وړاندې لرله.

ددریمې نړۍ دغریبو هېوادونو سره دمالي مرستو له لارې یې خپل نفوذ او تسلط ته لار پرانسته او دشوروي اتحاد دمخنیوي لپاره یې پرهمدې هېوادونو کې ددیکتاتورانو حمایت ته دوام ورکړ او دناټو په نوم دغربي ترون درامنځته کولو له لارې یې شوروي اتحاد اړ کړ چې خپل ټول وسایل دخپلې دفاع لپاره وکاروي.

دسوړ جنګ ټوله زمانه همداسې تېره شوه؛ دشوروي اتحاد دماتېدو سره سم نړۍ دیو قطبي کېدو پرلور روانه شوه او د ۹۰ یمې لسیزې نه تر ۲۰۱۶ م کال پورې دامریکا هر ولسمشر ځان دټولې نړۍ حاکم ګڼلی او ټولې نړۍ ته یې دخپلواکې نه بلکې دمحکومې نړۍ په نظر کتلي دي.

که موږ لږ شاته ولاړ شو نو دا راته روښانه کېږي چې سره له دې چې دحجم او دفاعي استطاعت په لحاظ شوروي اتحاد دامریکا مقابل دنړۍ ستر ځواک و خو اقتصاد یې داسې پیاوړی او داسې زر تولیدونکی نه و چې دامریکا او اروپا په څېر پرنورو غالب شوی وای؛ دروسې داقتصاد همدا کمزوری حالت و چې نړیوالو اتحادیانو به یې ځان دې ته اړ نه ګڼلو چې داوږدې زمانې لپاره ورسره په اتحاد کې پاتې شي.

د ډونلډټرمپ دولسمشرۍ په زمانه کې چې دامریکا دیو لړ پارونکو اقداماتو له امله روسیه پرخپلې دفاع زیاتو مصارفو ته اړ شوه نو دروسې اقتصادنور هم پسې کمزوری شو او داوږدې مودې لپاره یې دامریکا سره دوسلو سیالي ونه شوه کړای؛ په

افغانستان کې جنګ ته دوام ورکولو او ترخپل واک لاندې دقبضه شویو هېوادونو دساتلو توان یې له لاسه ورکړ. خو چین دهغه مهال دشوروي اتحاد نه بېخي بدل دی؛ اول خو چین دشوروي اتحاد په څېر دمختلفو قومونو نه ندی جوړ.

بل دا چې دچین اقتصاد خو را ډېر پیاوړی دی او ورځ تربلې پیاوړی کېږي؛ پخپله امریکا دچین د ١٠٠ ملیاردو ډالرو نه زیاته پوروړې ده.

چین دنړۍ په ګڼو هېوادونو کې په پانګونې بوخت دی او په چین دداسې هېوادونو انحصار مخ په زیاتېدو دی چې ورانـدې دامریکا قوي اتحادیان ګڼل کېدل؛ یانې چین په نورو هېوادونو کې خپلې ریښې همداسې مضبوطوي لکه ددوهم نړیوال جنګ نه پس چې امریکا مصبوطې کړې وې.

که چین ته له دې ناحې وګورو نو ورو ورو دامریکا په مقابل کې دخپل اتحاد ځواکمن کولو کې دکامیابۍ پرلور روان دی.

که چین همداسې مخ پر وړاندې ولاړ او سیاسي استحکام یې هم همداسې پاتې شو نو په نېږدې راتلونکي کې به امریکا دچین دمقابلې توان له لاسه ورکړي.

دچین په مقابل کې دامریکا داقتصاد ډېر خراب یایې د ٢ زرو ملیاردو دخسارې ښکار دی او دډونلډټرمپ داوسنۍ پالیسۍ له امله دا خساره نوره هم مخ پرزیاتېدو ده. نو ددوهم نړیوال جنګ نه پس چې دامریکا اقتصاد ډېر پیاوړی اونوره نړۍ برباد وه اوس نړۍ او امریکا دهغه حالت نه ډېره بدله ده؛ کېدای شي چې ټرمپ د٧٠ لسیزې خوبونه ووینې خو ورته دحقیقت شکل ورکول محال دي.

اوس هغه په امریکا کې دننه هم هغه د٦٠ مې کلیزې نه وړاندینی حالت نه شي راوستلی؛ هغه مهال امریکا یواځې دسپین پوستو وه اوتورپوستي پکې غلامان وو خو اوس هماغه تورپوستي اونور لګکي دامریکا ٣٧ سلنه نفوس تشکیلوي؛ که ددې لګکیو په شمېر کې همداسې زیاتوالی روان پاتې شونوهغه ورځ لرې نده چې دسپین پوستوپه امریکا کې پخپله سپین پوستي یو اقلیت وګرځي.

خولنډه داچې دامریکا اوسنی حالت دروسې د٨٠یمې کلیزې دحالت نه بدل ندی؛ امریکا اوس دنړۍ سترنظامي ځواک دی خواقتصادي حالت یې دادی چې ٢سوه ملیارده ډالر پوروړی ده؛ ٢ سوه ډالره پوروړې امریکا چې دچین اوروسې په مقابل کې دخپلې دفاع لپاره په خپل نوي اتومي پروګرام یوټریلیون ډالر مصرفوي پدې کار دنړۍ باداري نه شي ترلاسه کولی بلکې ژربه یې حال دشوروي اتحاد نه هم زیات خراب شي.

ان شاءالله تعالی



د اسلامي تاريخ په اړه يوه کتنه اويوه څېړنه

❑ ابو الخير عارف محمود

دتاريخ لغوي مفهوم:

په لغت کې (تاريخ) وايې: له وخته خبرولو ته، يعنې ديوې پيښې يا يوڅيز دپېښيدو وخت په ګوته کول

لغت پوهان وايي: "أرخت الكتاب ور ختُه" يعني ما دليک نيټه ښکاره کړ، علامه اسماعيل بن حماد الجوهري (مړ۳۹۳ هق) وايي: (تاريخ او توريخ) يوه معنی ورکوي (له وخت خبرول) له دې وجې ورته د (أرختُ) لفظ هم کارول کېږي او د (ورختُ) هم.

خيني بيا وايې: تاريخ له (أرخ) څخه (بضم الهمزة وكسرها) مشتق دی، أرخ وايې: وحشي غوی ماده بچي ته، د تسميې وجه داده چې: څنګه ماشوم نوی زيږيدلی وي، په دې توګه تاريخ هم ديونوي څېز ايجاد دی.

دتاريخ اصطلاحي مفهوم:

په اصطلاحي تعريف کې يې مختلف بحثونه شوي، چې دلته ترې د څوو په يادولو اکتفا کوو:

۱..... اصطلاح کې تاريخ دهغه وخت يانيټې دښودو نوم دی چې ور سره روايانو او ايمه وو ټو ل احوال تړلي وي، لکه: دهغوی زوکړه، مړينه، روغتيا، عقل، علم په زده کړې پسې سفرونه، حج، يادانښت، حافظه، اتقان، عدالت، دجرح يا سانسور وړ ګڼل... اونور داسې خبرې چې دهغوی په پيژندګلوی پورې اړه لري

۲.... يا تاريخ په اصطلاح کې هغه علم ته ويل کېږي چې په واسطه يې دپاچايانود سوبو، دنومياليو شخصيتونو ژوندپانې دهغوی دزمانې احوال او عظيم الشان واقعات او حوادث، دتيرې زمانې تمدن، معاشرت، اخلاق او دنورو په اړه معلومات ترلاسه کولوته تاريخ ويل کېږي.

۳.... خينو بيا دي مفهوم ته پراخيتا ورکړې او هغه ټول امور يې هم ور سره تړلي کوم چې دلويو لويو پېښو او حوادثو سره اړه لري، دجنګونو، سلطنتي چارو، تهذيب وتمدن، حکومتونوجوړيدو ـــ نړيدو، عروج - وزوال او دخيريه کارونو حکايت کولو ته هم تاريخ وايي.

خلاصه او نتيجه دا شوه چې دهغو ټولو اقوالو بيانولو ته تاريخ وايي، کوم حالات او وقعات چې دليک په قيد کې راوستل کېږي...

تاريخ ته اړتيا او دتاريخ ګټې:

دتاريخ په واسطه دپخوانيو قومونو دعروج و زوال، دتعمير و تخريب احول پيژنو، دکوم څخه چې راتلونکو نسلو ته د عبرت مواد په لاس ورځي، حوصلې يې لوړيږي، پوهه او بصيرت ترلاسه کوي او زړونو او مغزونو ته يې تازه ګي او خوشالي رسي، غرض داچې تاريخ ددي کائنات شاليد هم دی او لرليد هم؛ يواځې دا نه بلکې دراتلونکي لپاره دکاري لانحې له تاکلو سره هم پوره مرسته کوي.

ښه مؤرخ څوک دی؟: غوره مؤرخ هغه چې سالم العقیده او دسپېڅلي دین څښتن وي، هغه څه چې لیکي رښتیا به وي، هیڅ یوه خبره نه پټوي او نه به له ځانه پکې ناسمه یا خطاء خبره ځایوي، مؤرخ ته ضروري ده چې په امانت او دیانت کې به ممتاز وي، ذهین، زیرک، منصف، ادیب، او قادر الکلام به هم وي، دسیاسي، مسلکي، تنظیمي تعصبونو به پاک وي، دچارواکو، واکمنو خوشالولو په بدل کې دمادي ګټو، دعزت یا مرتبې مندلو پخاطر به دحقایقومسخ کونکی دضمیر اوقلم پلورونکی نه وي، د تائیدي اسبابوپه مختلفو احتمالاتو کې هیڅ یوجانب به نه غوره کوي، په انصاف کولو به صحیح او په حق لوری ټاکي.

دمؤرخ شرایط: علامه تاج الدین سبکي رحمه الله ,,قاعدة فی المؤرخین نافعة جداً ''عنوان لاندې لیکلي: تاریخ پوهان ډیرځلي ځیني خلک له خپل مقام او مرتبې و غورځوي او ځیني نور له خپلې مرتبې لوړ وړاندې کوي، داکار یا دتعصب، یاجهل، یا له غیرموثوق روایانو څخه په نقل کولو کېږي، شاید هر تاریخ تاسو له دینه خالي او مومئ.... دې لړ کې ټرټولو سهي او غوره رایه زموږ په نظر داده چې دڅو شرایطو پرته دتاریخ پوهانو نه هیڅ مدح منل کېږي او نه یې جرح؛ شرایط دادي:

۱.... تاریخ لیکونکی (مؤرخ) به رښتونی وي

۲.... په روایت باللفظ به باور لري نه په روایت بالمعنی.... ۳.... راوړی روایت به هغه دمذاکرې ه کوم مجلس کې له اوریدو وروسته لیکلی نه وي... ۴.... له چا چې نقل کوي په صراحت به دهغه نوم یادوي ۵.... له ځانه به دهیڅ تن حالات نه لیکي.... ٦.... په تراجمو (یعني ژوند لیک) کې به له ډیر نقل کارنه اخلي... ۷.... د (مترجم لهُ) دعلمي او دیني حالاتو څخه به پوره خبرلري ۸.... ښه تصورکونکی به وي تردې چې د (مترجم لهُ) ټول حالات به یې په وړاندې وي، دهغه په باره کې به داسې عبارت راوړي چې نه یې رښتیني مقام لوړ او نه ښکته شي ۱۰..... د هوا پرستۍ ښکار به نه ګرځي، چې ځان ته د ور ګران شخصیت په مدح کې له اطناب او دنورو په باره کې له تقصیر کار اخلي، یعنې له ځاني هوس به یومخ پاک یا دومره معتدل وي چې خواهش اوهوس مغلوب کړی وي او انصاف کولو ته ژمن اوسي.

دتاریخ دریې کونې پیړۍ (قرون ثلاثه)

ددې تمهدي خبرو وروسته اصل موضوع راځو، ددې لیکنې موخه په دریې ګونوپیړیو (قرون ثلاثه) کې دتاریخ تدوین او درواغجنو روایانو دکردار او دنوي تاریخ تدوین پر اړتیا بحث کول دي که څه هم دحدیثو تدوین هم دتاریخ یوه برخه دی، خو هغه دلته زموږ دبحث موضوع ندی، یواځې په اړه یې سري سري اشارې کافي دي، اسلام کې دتاریخ لیکلو پیل درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له مبارکې زمانې پیل شوی، صحابه وو به درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سرایا او غزوات نه یواځې پخپلو سینو کې خوندي کول بلکې خپلو اولادوته یې دیادولو ترغیب ورکاوه، خو په باقاعده توګه ټولې پیښې او حالات دمدون تاریخ په بڼه لیکلو کار په دوهمه پیړۍ کې دبنو عباس د حکومت په دوره کې پیل شوی، په پیل کې دواقعاتو بیانولو لپاره سند ضروري وو، تردې چې شعرونه یې هم په سند ویل؛ په دې لړ کې (طبري تاریخ) او (کتاب الاغاني) یې مظهر دي، لیکن داښکاره ده چې عام اخبار، پیښې او شعرونه دروایانو په برخه کې د دومره بحث، تمحیص او تحقیق په باب یې هومره شدت او اهتمام ندی کړی کوم چې دروایت حدیث د بحث، تمحیص او تحقیق په اړه کړی

دتاریخ په تدوین کې یوه روایي ضابطه:

داخبره هرعام و خاص ته معلومه ده چې بشري تاریخ کې کله هم دیو قوم، قبیلې، یا دلې حکومت رنګ کړای شوی بل مقابل قوم، قبیله، ډله یا ګوند واک ته رسیدلی، هغوی دوړاندې واکمنو

پر ټولو خوبيو خاورې اړولې، دهغوی محاسن او تعميري چارې تخريب کړې او پخپل ټول وس يې پکې د خاميانو راويستو لپاره په ټول وس کوښښ کړی، د اسلامي تاريخ دتدوين په مهال هم دې رواني ضابطې تاثير لرلی، دحضرت حسن رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ او حضرت معاويه رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ ترمنځ له سولې وروسته نيږدې ۱۳۲ کاله په اسلامي نړۍ باندې دبنو اميه وو حکومت و، بيا ۱۳۲کاله وروسته په کال ۷۴۹هـ- کې دبنو عباس يوتن ابو العباس السفاح دبنو اميه حکومت ړنګ کړ دبنو عباس حکومت يې جوړکړ

دا خبره هم روښانه ده چې دبنو اميه او بنو عباس ترمنځ له پخوا راهيسې کورني او قبايلي عصبيت لاندې سخت مخالفت و، نو کله چې دبنو عباس په دوره کې دتاريخ ليکلو تدوين شروع شو، په عامه توګه دتاريخي پيښو او حالاتو په ترتيبولو کې هم د ي رواني مزاج ته په کتو يې پيل کړ، بلکې خپنو تاريخ پوهانو دحکومتی ظلمونو او ستمونو څخه دخلاصون په غرض دچارواکو دخوشالی لپاره او دخپلو اقتصادي حالت په پام کې نيولو په دغه روحيه او جذبه تاريخ ليکلوته ملاتړلې...

دعلامه شبلي نعماني ګرامي:

نيږدې ماضې کې د هندوستان مشهور مؤرخ علامه شبلي نعماني رَحِمَهُٱللَّهُپخپل کتاب [الاِنتقاد علی التمدن الاسلامی] کې داسلامي تاريخ دلومړني تدوين په اړه هم ښه رڼا اچولې:

هغه ليکي: زياتره اسلامي تاريخ پوهان دبنوعباس دوره کې پيداشوي او داخبره هم ښکاره ده چې عباسيانو وخت کې دبنو اميه وو که يوښه څيز به هم اتفاقاً څرګند شو نو مرتکب شخص له سختو او دردناکو اذيتونو سره مخ کيده، په سپکاوي سربيره له ځورونکي انجام سره مخ کيده او دتاريخ په ذخيره کې ددې څومثالونه هم مندل کيږي

دروایانو نظرياتي کردار:

په دې سربيره دتاريخي واقعاتو نقل کوونکو روايانو نظريات او دهغوی مذهبي اندونه هم ددغو پيښنو په بيانولو او په اړه يې کيدونکي تعبير کې مرکزي کردار اداء کړی، خصوصاً کله چې هغوی ته د روايت بالمعنی په اړه عام اذن و، په دې توګه بې لارې عقايدو او افکاروخورونکو روايانو د درې ګونو پيړيو پيښنو په اړه دخپلو ديني او مذهبي اندونو او افکارو تراغيز لاندې ديوشمير حقايقو له پامه غورځولو له امله دصحابه ورَضِيَٱللَّهُعَنْهُمْ او تابعينو رَحِمَهُمُٱللَّهُ په اړه هم ګڼ مطاعن او مثالب مندل کيږي.

د دروغجنو روایانو دظهور لاملونه:

قرون ثلاثه کې په خاصه توګه دتاريخ دتدوين په زمانه کې دحديث او تدوين دواړو لړ کې په لوی شمير کې دروغجن روايان پيداشول ديو محتاط اندازې له مخې: درې نيم سوه څخه زيات دروغجن راويان دي، چاچې زموږ صفاأو شفافه علمي ورثه پخپلو دروا غو چور او تالا کړه؛ اوس هغه کوم لاملونه وو چې له امله يې هغوی دروا غو ويلوته مجبور ول؟ او د دروغو ويلو دپردې ترشاه کومې موخې او ارادې وې؟ دځينو لورته اشاره کوو:

درنو لوستونکو! که تاسي دقرونِ ثلاثه تاريخ په دقت سره وڅيړئ، دتدوين په زمانه کې دروغ ويلو او ښکاره کولو کې په اسبابو او اهدافو کې په تداخل او مومئ، کله به يوه پيښه سبب او هدف دواړه مندل کيږي او که ته د نفس واقعې لورته ګورئ نو تاسو ته به سبب ښکاره شي خو که په دې واقعه دنتيجې له پلوه غور و شي ددي هم ښکاره او ژور اسباب شته؛ چې له امله يې په قرون ثلاثه کې په عام ډول او په خاصه توګه دتاريخ په تدوين کې يوشمير درواغجنو ته هم چانس په لاس ورغلی

هسې خو د درواغو ويلو اسباب زديردي ليکن موږ دلته څو په شمار راوړو:

نور بيا...

د طالبانو وروستۍ لیک

د هغوی د فعالې ډيپلوماسۍ ښکارندوی

#احمدمختار

د روان کـال د سـلواغې د میاشـتې پـه (۲۵) نیټـې طالبـانو د امریکـایي ولـس ، نـا دولتـي سـازمانونو او کـانګریس پـه ادرس یـو تفصیلي لیک خپور کړ چې په نړیوالو رسنیو کې یې پراخ انعکاس وموند.

د طالبانو د لیک د دې مطبوعاتي انعکاس لامل دا و چې په هغه کې طالبانو له یوې خوا د افغانستان روان عیني واقعیتونـه د ډیـرې کامیابه ډیپلومسي پـه ژبـه ځـای پرځـی کړي و او له بلې خوا یې د لیک د خپرولـو لپاره ډیـر مهم زماني توقیت غوره کړی و.

طالبانو په یاد لیک کې د امریکایانو لخوا د افغانستان د اشغال مبررات یو یو تشریح کړي او بیا یـې پـه تیـرو۱۶ کلونو کې هغه اغیزې چې پر دغـو مبرراتـو بانـدې مرتـب شوې د نړیوالو منل شویو مراجعو په حواله ثبت کړي دي.

د لیک مخـاطبین د امریکـا عـام ولـس ، غیـر دولتـي سـازمانونه او د کـانګریس سـوله خوښـوونکي غـړي غـوره شوي.

اوهغه د دې لپاره چې رسمي حکومتي چارواکو خو یې افغانستان د ناموجهو پلمو او دلائلو له مخې افغانسـتان اشغال کړی ، افغانان یې وژلي ، ځورولي او اوس یـې هـم د ټرمپ د جنګي ستراتیژې په وسیله د وژلو او کړولو لـړی روانه ده.

ځکه طالبـانو پـه یـاد لیک کې د دولتي چـارواکو پـه ځای نـادولتي سـازمانونه ، ملی شخصـیتونه او عـام ولـس انتخاب کړ چې هغوی د حکومـت د جوړیـدو اصـلي منبـع ده.

په یاد لیک کې امریکایي ولس ته دا خبره وریاد کـړل شـوې چـې ستاسـي چـارواکي ستاسـي د مـالیو اونـورو ټیکسونو تر لاسه کړې پیسې یا د افغانستان د بیا رغونې پـه پلمه په بمونو، وسلو او پـوځي تجهیزاتـو بانـدې لګـوي او یایي هم د مـالي مرسـتو پـه نـوم یوشـمیر داسـې کسـانو تـه ورکوي چې هغوی په غلا، فساد ، او اختلاس کې نړیـوال ریکارډ لري.

د لیک زماني توقیت

طالبانو د یاد لیک د نشرلپاره داسې حساس وخت انتخاب کړ چې د امریکایي ولسمشر هغه جنګي ستراتیژي چـې د طالبـانو د ځپلـو او یـاهم د هغـوي د فعـالیتونو د مخنیوي په اړه یـې (۶) میاشـتې وړانـدې اعـلان کـړې لـه ښکاره ماتې سره مخ ده.

همـدا لامـل دی چې پـه کـانګریس کـې د جمهـوري غوښتونکي ګوند غړیـو ولسمشر ټرمـپ تـر نیوکـو لانـدې نیـولی او پـه افغانسـتان کـې یـې د هغـه پـوځي سـتراتیژۍ ناکامه بللې.

همدا وخت و چې طالبانو له فرصت نـه پـه اسـتفادې سره هغه نیوکې چې امریکایي ولـس یـې د خپلـو چـارواکو په بهرنۍ او پوځي تګلارې بانـدې لـري پـه خپـل لیـک کـې منعکسې او هغه حقـائق یـې ورسـره یوځـای کـړل چـې پـه

افغانستان کې د امریکایي اشغال په ترڅ کې رامنځته شوي دي.

په زماني لحاظ طالبانو د خپل لیک نشرولو لپاره داسې وخت انتخاب کړ چې هغه له افغانستان څخه د پخواني شوروي اتحاد د د سرو لښکرو د پرشاتګ له ۲۹ کلیزې سره هم مهاله دی.

طالبانو په دې توقیت انتخابولو سره امریکایي چارواکو ته دا انتباه ورکړه چې تاسو هم که دلته هرڅومره زور آزمایي وکړئ خو اخیر به له هغه برخلیک سره مخ کیږي له کوم سره چې تر تاسو وړاندې سرې لښکرې مخ شوې او په شکست له افغانستانه وتلي دي.

طالبان د امریکایي اشغال په خلاف د مقاومت تر ۱۷ کلنې تجربې وروسته اوس د زمان او مکان له سیاسي نزاکتونو سره ښه بلد شوي؛ ځکه خو د خپلو تبلیغاتي هڅو لپاره دغسې مناسب فرصتونه ټاکي او بیا د هغو له لارې امریکایان تر فشار لاندې نیسي.

د امریکایي ولس او کانګریس په ادرس د طالبانو خپور کړی لیک په حقیقت کې د طالبانو د سیاسي نبوغ په رڼاکې د افغان غمیزې یو منطقي حل دی چې باید امریکایي چارواکي ترې مثبته ګټه واخلي، او په هغه کې د افغان ولس منطقي غوښتنو ته پروخت مناسب ځواب ووایي.

په کابل کې د ملګرو ملتونو د دفتر (یوناما) د وروستۍ احصائیې له مخې په ۲۰۱۷ م کال کې لس زره ملکي تلفات، افغانستان د نړۍ په کچه د یوه خطر ناک او خونړي هیواد په حیث نړۍ ته ورپیژندلی دی.

له دغه خطرناک وضعیت څخه د وتلو په خاطر ترهرڅه وړاندې د اشغال خاتمې ضرورت لیدل کیږي.

طالبانو د همدې ضرورت لپاره امریکایي ولس هڅولی چې خپل چارواکي مجبور کړي د افغانستان اشغال ته د پای ټکی کیږدي او په دې سره هم خپل ځان له مرګونو ګوانښونو وژغوري او هم له افغانستان څخه په وتلو سره د نړیوال ثبات تأمین ته زمینه مساعده کړي.

غـزل

#شرافت ویاړ

دهغو سپینو غونډو منډو او مستورو کیسې!
شهیده وکړه دنیاوالو ته د حورو کیسې!

ما کې چې دومره احساس یون کړی لامل یې دادی!
بابا مې کړې په ماشومتوب راته د تورو کیسې!

خو تېرې وینې مې رګونو کې جذبه جذبه شي!
چې راته کړي څوک د ښکرورو او مغرورو کیسې!

زه د هیواد په هر عسکر ځوان باندې ډېر وژاړم!
چې کله واورم د چاپلوس او د مزدورو کیسې!

د شرافت ویاړ زړه کې نوی احساس ژوند پیدا کړي!
چې کړي ملګري په مجلس کې د باتورو کیسې!

یادی از حماسه های سوم حوت و قیام کابل

نویسنده: ابن مبارک احمدزی

در سوم حوت ۱۳۵۸ خورشیدی یکی از قیام های خود جوش و جاویدان مردم کابل علیه تجاوز روسها و نظام دست نشاندۀ وقت رخ داد که تا هیچ وقت از ذهن و فکر ملت شریف افغانستان دور نمی شود؛ روزی که مسلمانان با غیرت کابل بخاطر عزت اسلام و حفظ ارزشهای اسلامی و استقلال و آزادی وطن از چنگ متجاوزین شوروی و غلامان حلقه به گوش آنها چون سیل خروشان موج گرفتند و جانانه سینه های شان را سپر حق نموده و در راه اسلام عزیز و استقلال وطن جان های شیرین خود را قربانی کردند.

درسوم حوت ۱۳۵۸ مردم مسلمان شهرکابل علیه تجاوزقشون سرخ به کشورما با سردادن نعره های ملکوتی الله اکبرقیام نمودند، درحالیکه حدودا دوماه ازتجاوزقشون سرخ به کشورما سپری میشد ، مردم ما شب هنگام برفرازبامها رفته وبا فریادهای کفرشکن الله اکبرنفرت وانزجارخویش را دربرابراشغالگران نشان دادند. این حرکت وخیزش مردمی که ازآغازشب شروع شد تا صبح گاهان همه شهررا فراگرفته وهمگانی شد، این حماسه تاریخی وقیام مردمی که نمادی ازیک دلی وتقدس اندیشه های مردمی بود علیه اشغالگران ونوکرانشان درکابل بپاخواست ولرزه براندام کاخ نشینان ارگ وقصرکرملین انداخت، واین تصورواهی را که همه روشن فکران ومردم ازنظام کمونستی حمایت مینمایند را بخاک یکسان ساخت. مردم همه دسته دسته به این قیام پیوستند وضربه سنگینی برنظام الحادی وارد نمودند. نوکران کرملین را وارخطا نموده ودست به سرکوب قیام کنندگان زدند.

یاد این خاطره حماسی دردل تاریخ کشورثبت بوده وهرگزفراموش نخواهد ، روح همه قیام کنندگان وشهداء این رستاخیزمردم شاد باد، وبهشت جاودان نصیب شان باد، که راه را برای پیروزی برطاغوت زمان مهیا ساخت!!و پیام ما به فرعون عصر(آمریکا) این است که از سرزمین مقدس ما دست بردارید! اگر خدای ناخواسته کفر همه افغانستان را فرا بگیرد، هستند کسانی که قربانی دهند!

جوانان سربکف امارت اسلامی از نقش قدم نیاکان دلیر و با شهامت شان متابعت کرده و هر اجنبی و اشغالگر را در کاسه ی سرش آب می دهد،تا باشد برای نسل نسل اش پند و عبرت شود.

آری! قیام سوم حوت ۱۳۵۸ درکابل قیام سوم حوت مردم بزرگ کابل در برابر ارتش سرخ و نوکر های حلقه بگوش شان، را گرامی می داریم. درسه دهه گذشته سوم حوت یکی ازمحدودروزهای تاریخی وحماسی مردم به حساب می آید که با وحدت

وهمدلی علیه پدیده تجاوز روس ها درتاریخ این کشور اتفاق افتاد.

محافل فرهنگی وسیاسی ما با نگرش واقعبینانه بدنبال ثبت حوادث تاریخی کشور باشند حوادث دهه اخیر خیلی تلخ ووحشتناک بوده که حماسه های جاودانه مردم مانند قیام سوم حوت را تحت الشعاع قرار دادند.

میدانید؟ آن چه روزی تاریخی بود؟!

دراین روز مردم کابل باانگیزه ناب برعلیه دستگاه حاکم وقوای ارتش سرخ شوروی سابق دست به قیام واعتراض زدند انگیزه های ملی ، میهنی ودینی درتحریک مردم نقش اساسی داشت وهمین باورها مردم را وادشت تا درشرایط خفقان آور حکومت وقت درکابل ، مردم با یک ((تکبیر)) بزرگ ، مشروعیت اینها را زیر سئوال بردند.

قیام سوم حوت ۱۳۵۸ درکابل درشرایط بوقوع پیوست که ۲۰ ماه از کوتای ۷ ثور و ۵۷ روز از تجاوز ارتش سرخ درافغانستان می گذشت حاکمیت ۷ ثور علاوه براینکه جو اختناق و وحشت را در جامعه بوجود آورده بودند گردانندگان این حکومت هم درآتش اختلاف می سوختند چند دستگی در درون شان کاملا مشهود بود نورمحمد تره کی توسط حفیظ الله امین بقتل رسید ببرک کارمل ، حفیظ الله امین را به سرنوشت تره کی مواجه ساخت .ترس و وحشت غیر قابل وصفی درآن روزها توسط اینها درکابل وسرتاسرکشور بوجود آمده بود مردم را غافلگیر کرده بودند مردم ایکه درگذشته از امنیت نسبی برخوردار بودند حالا دریک وضعیت ترس ، خفقان ونا امنی بسر- می بردند .این وضعیت وحشتناک شرایط را برای قیام ورهانیدن خود از این وضع خفقان آور آماده کرده بود. احزاب رقیب حاکمیت هفت ثور درپشاور و..... درحال سازمان دهی خود بودند قیامهای مردمی درهرنقطه کشور روبه گسترش بود تعدادی از مناطق آزاد شده بودند حکومت بی تجربه واسیر ایدئولوژی چپ با مخالفان اندیشه خود بابی رحمی وقساوت برخورد می نمود ترحم درقاموس شان جا نداشت سرمست از باده ایدئولوژی تند وانقلابی شان وگاهی هم با عقده ، نه با رقبایشان که با عامه ای مردم که با آنها نبودند چنین نتیجه میگرفتند که پس دشمن ماست با این دید هزاران نفررا به دیار عدم سپردند که نرم ترین برخورد شان انداختن به زندان بود.

نمونه بارز این بی رحمی ها اعلام لیست هزاران نفر زندانی درزمان حکومت حفیظ الله امین بود که خود اعتراف به قتل آنها نمودند که دراین لیست شخصیت های ملی ، علمی ، مذهبی وسیاسی بودند که تابه امروز حتی جنازه شان معلوم نیست که در کجا دفن شده اند ویا .... ، جناحین حکومت قتل ها را به گردن یکدیگر می اندازند ولی قدر مسلم آنست که به صورت بی رحمانه به مردم ستم روا داشته شده است.

ازاصل بحث دور نرویم منظورما بحث دررابطه با قیام خونین ۳ حوت ۱۳۵۸ کابل می باشد که بااین پرسشها این حادثه را بطور مختصر- ارزیابی میکنیم:
آیا این قیام سازمان دهی شده بود ؟

چه کسانی درپشت این حرکت مردمی نقش داشتند؟

قیام سوم حوت چگونه اتفاق افتاده است ؟
بازهم بادید منصفانه اگر به این حادثه پرداخته شود

این حرکت مردمی بوده محافل سیاسی نقش کلیدی واساسی نداشتند .بل بعضی تجمعات وتشکل های مخفی دربین مردم وجوانان درحال شکل گیری درآن روزها درهمان جو خفقان کابل بودند که با هیچ محفل سیاسی بیرونی رابطه نداشتند صرف بخاطر حفظ ارزشهای مشخص دربین توده های مردم درتلاش ونظم دادن بودند . انهابودند و مردم.

جریانهای سیاسی وبعضا کهنه کار واحزاب اسلامی که درکشور های همسایه فعالیتهای خودرا شروع کرده بودند دریک تفاهم نسبی باهم رسیده بودند که اینها بیشتر مردم دراعتصاب دعوت میکردند.

روزهای قبل از سوم حوت زمزمه ها اینطوری بود که اعتصاب سرتاسری در کابل صورت بگیرد درهمان روزیکه اعتصاب انجام شد شب اش مردم به پشت بامها رفته فریاد الله اکبر الله اکبر.... سردهند روزهای اول ودوم حوت اعتصاب درشهر کابل انجام گرفت روز دوم حوت شامگاهان مردم به پشت بامهای خود رفتند وندای الله اکبر سردادند مردم به این اکتفا نکردند علی رغم که شب ها درکابل حکومت نظامی بود قیود شب گردی حاکم بود تعدادی زیادی مردم از خانه هایشان بیرون برآمده وشعارهای ضد دولت وضدارتش سرخ شوروی سردادند.

مردم در سراسری شهرکابل بلااستثنی درآن شب تا سحرگاهان با ندای الله اکبر اعتراض های شانرا فریاد زدند.

فردایش (سوم حوت) قیام همه جانبه در تمام نقاط شهرکابل بوقوع پیوست مردم باشعارهای ضد تجاوز، همسبتگی وهماهنگی خود را دراین روز به نمایش گذاشتند که درساعات اولیه این اعتراض مردمی ، حمله شدیدی از طرف نیروهای امنیتی و دولتی بطرف مردم صورت گرفت که ده ها نفر کشته و زخمی شدند بااین وضعیت تعدادی از مردم بالای پوسته های امنیتی ودولتی حمله ور شدند وآنها یکه بطرف مردم آتش گشوده بودند خلع سلاح شدند که ازآن جمله ماموریت خوشحال خان مینه وچند منطقه دیگر به تصرف مردم درآمدند.

درآن لحظات مردم درصدد جمع اوری اجساد قربانیان وزخمی ها بودند که هلی کپوتر های توب دار روسی فضای شهر را متشنج تر ساخت وشروع به حمله وتیراندازی بالای مردم از ارتفاع پایین نمودند تعدادی زیادی از مردم را به خاک خون آغشته کردند. تاعصری آن روز تعدادی از جنازه ها در سرکها ، خیابانها وکوچه ها افتاده بود وعده ای از جوانان تلاش میکردند که جنازه ها را جمع اوری نموده درمساجد آورده تا زمینه تدفین شان را فراهم گردد تعدادی از زخمی ها توسط داکتران داوطلب به مداوا پرداخته می شدند.

که این وضعیت تا دو روز بعد از سوم حوت در حواشی شهر کابل ادامه داشت.

هنوز زخمی ها مدوا نشده بودند وتازه تدفین جنازه پایان یافته بود که نیروهای دولت منطقه چنداول ، دشت برچی ، قلعه شاده و....وچندمنطقه ای دیگر را به محاصره درآورده به بازرسی وتلاشی خانه به خانه ومنزل به منزل پرداختند که تعدادی را دستگیرنمودند.

قیام کابل سرآغاز قیام های اسلامی و ملی علیه تجاوز قشون سرخ شوروی سابق در سرتاسر وطن شد، آن مردم با ایمان، با شهامت و با غیرت فقط بخاطر عزت اسلام و وطن شان قیام نمودند و به دنیا نشان دادند که استکبار ستیزاند و هیچ وقت ذلت زندگی زیر سایهٔ اشغالگران را نمی پذیرند، آنانیکه در سوم حوت در کابل و یا ٢٤ حوت در هرات قیام کردند قیام شان نه بخاطر چوکی و ریاست، بلکه بخاطر عزت و استقلال، دین و شریعت بود، آنان اگر چوکی و ریاست می خواستند که به استقبال تجاوزکاران می رفتند و در راه شان آب می پاشیدند و یا در گردن اشغالگران گل می افکندند؛ اما آنان اینکار را نکردند بلکه با عزم آهنین، غیرت افغانگری و از همه مهمتر ایمان قوی شان با سنگ و کلوخ و چوب به سراغ دشمنان شتافتند و در حالیکه دشمنان شان نیز قصد جان، دریدن عفت و به یغما بردن ارزشهای اسلامی، ملی و وطنی شان را داشتند تا سرحد مرگ به جنگ دشمنان رفتند و با دستهای خالی اما ایمان های قوی و راسخ نفرت کفر را فریاد زدند و در راه مقدس و هدف ارزشمند شان جان های شیرین خود را با افتخار فدای دین نمودند. بدون شک که مجاهدین سربکف امارت اسلامی همانا راه مردم کابل و هرات را تعقیب می کنند و کرده اند،نباید به سوی طالبان ار زاویه ی تعصب دید،تفاوت مقاومت طالبان در برابر اشغال صلیبی با مقاومت مجاهدین قبلی در چیست؟ درست است که در صداقت و ایمانداری هردو برابر و برادر اند اما باید بپذیریم که صف امارت اسلامی نظر به شرایط آنزمان به مراتب پاکتر و واحد تر است،اعداد و تربیت نیز یکی از وجایب سیاسی برای استشهادیان اسلام بنام طالبان قرار داده شده است.

وقتی در تاریخ درخشان افغانستان، این افتخارات را مطالعه می کنیم و وقتی ایام سال مصادف با چنین روزهای سرنوشت ساز می شود؛ لزوما در ذهن و فکر ما دلاوری و قهرمانی های نیاکان ما به تکرار گرفته می شوند که آنها چقدر غیرت داشتند و چه مردم باهمت و با شهامتی بودند که لحظهٔ ذلت کفر را تحمل کرده نمی توانستند و چشم دیدن دشمنان آب و خاک شان را در وطن عزیزشان نداشتند، و وجدان و غیرت آنها ذلت زندگی در پهلوی دشمنان را قبول کرده نمی توانست، بدون شک از یک طرف به چنین نیاکان با غیرتی افتخار می کنیم اما در عین حال به حال خودمان افسوس می خوریم که ما را چه شده است که اینگونه نسبت به اشغالگری و تجاوز دشمنان وقت و دستگاه حکومت اجیر و فاسد آنها بی تفاوت هستیم و حاضر نمی شویم در جهاد مقدس علیه اشغالگران زمان سهم بگیریم آنگونه که پدران با غیرت ما علیه متجاوزین زمان خود سهم گرفتند!

طالبان در عصر حاضر مردمانی اند که سیرت پدران دلیر و با شهامت خویش را به درستی مطالعه فرمده اند و تا ریختن آخرین قطرات خون شان از اهداف علیای جهادی خود به عقب نمی روند،شما می بینید که جوانان صف صف می ایستند و باروت را بر سینه های نازک خویش می بندند و بر سر خویش به خاطر کسب رضایت الله تعالی معامله ی خیر می کنند.

پایان.

غزل

#مفتون

ډېوه که د اخلاص لرې بې ډاره به راځې
د شپې هیبتې غبر نه تر سهاره به راځې

یوه دانه قسمت که دي هم وي د ژوند بازار کې
تر داره به دي یوسي خو له داره به راځې

زه داسي عاجزي لرم زما په سر سرمسته
که زر واره منکر شې بې اختیاره به راځې

څو وار راتګ نه پس به دي وار راشي د معافۍ
خو بیا هم په دې شرط چې څو څو واره به راځې

انکار کې مي کرار د نا کرار زړکي ویده دی
ای درده چې راځې نو له انکاره به راځې

په خپلو وینو سور لکه انار له کندهاره
طالبه د اسلام تر ننګرهاره به راځې

په ژوند به خیر دی زه درته درځم خو
پس له مرګه اشنا وکړه وعده چې تر مزاره به راځې

ملنګ د زمانې دی هیڅ توښه ورسره نسته
مفتون ته چې راځې د خدای د پاره به راځې

Shahamat

اعلامیه امارت اسلامي افغانستان
به مناسبت عملی شدن پروژهء تاپی

پروژهء تاپی یک پروژهء مهم اقتصادی در سطح منطقه است و از پروژه های مهم صنعتی و اقتصادی است که ابتکار طراحی آن در زمان حکومتداری امارت اسلامی افغانستان صورت گرفته بود و لیکن تکمیل آن پروژه ها به سبب تهاجم و اشغال امریکایی ها به تعویق افتاد .

از یکسو اگر امتیاز احداث این پروژه به امارت اسلامی افغانستان تعلق می گیرد و اسناد و توافق نامه های که درین مورد درمیان امارت اسلامی افغانستان و طرف های مربوطه صورت گرفته بود هنوز هم موجود است ، از سوی دیگر بیشتر ساحه و مسیر اجراء این پروژه هم اکنون نیز در کنترول امارت اسلامی افغانستان قرار دارد ، لهذا امارت اسلامی افغانستان موقف خود را در مورد عملی شدن پروژهء تاپی چنین اعلان می کند :

۱ : امارت اسلامی افغانستان این پروژه را به حیث یک عنصر مهم در زیر بنای اقتصادی کشور می بیند و عملی شدن آن را مژدهء خوبی برای افغان ها می داند .

۲ : امارت اسلامی افغانستان در ساحات زیر کنترول خود برای تعمیل این پروژه همکاری می کند و جهت های پروژهء تاپی را به رعایت کردن موقف اصولی امارت اسلامی افغانستان متوجه می سازد .

۳ : رژیم فاسد کابل چون در فساد مالی و فریب کاری رکورد جهانی دارد و هیچ پروژهء مهمی را بدون فساد مالی و فریب کاری به تکمیل نرسانیده است ، درین پروژه نیز حتما دست به فساد گستردهء مالی می زند ، لهذا اگر در جریان تطبیق این روژه برای امارت اسلامی افغانستان ثابت گردد که مقامات رژیم دست به فساد مالی و فریب کاری می زنند و حق مردم را تلف می کنند امارت اسلامی افغانستان جلو آن فساد را می گیرد و از طرف های ذی دخل نیز امیدوار است که درین مورد جداً توجه بکنند ، تا این پروژهء مهم ملی با تاخیر و مشکلی مواجه نشود .

٤: پروژهء تاپی چون خالصتاً یک پروژهء صنعتی و اقتصادی است که هیچ گونه فایدهء اقتصادی یا نظامی به امریکایی های اشغالگر ندارد ، امکان دارد امریکایی ها همچون پروژهء مس عینک در راه تطبیق این پروژه نیز به گونهء غیر مستقیم مزاحمت ایجاد بکنند ، قرارداد استخراج معدن مس عینک در سال ۲۰۰۸م با یک شرکت چینای MCC امضاء شد و لیکن کار عملی آن تا هنوز به تعویق افتاده است ، تاپی پس از مس عینک دومین پروژهء مهمی است که در واقعیت در پیش رفت اقتصادی افغان ها نقش زیادی خواهد داشت و امریکایی ها پروژهء را که به فایدهء افغان ها باشد به هیچ دلیلی تحمل نمی توانند ، لهذا امارت اسلامی افغانستان به استثناء از رژیم کابل به دیگر طرف های این پروژه پیشنهاد می کند که از سازمان ملل و یا کدام سازمان معتبر جهانی تضمین مصئونیت این پروژه را بگیرند ، تا مبادا امریکایی ها برای تخریب این پروژه دست به کار شوند ، وگرنه بعید نیست که این پروژه نیز همچون پروژهء مس عینک به سبب مزاحمت امریکایی ها با مشکلات رو به رو شود .

۵ : امارت اسلامی افغانستان بازسازی و احیاء زیر بناهای اقتصادی کشور را مسئولیت خود می داند و درین راستا از شرکت های بین المللی عمرانی می خواهد با افغان ها همکاری بکنند ، امارت اسلامی افغانستان از هیچگونه همکاری با آن ها دریغ نمی کند ، والسلام .

امارت اسلامی افغانستان

۱۴۳۹/۶/۷ هـ ق/ ۱۳۹۶/۱۲/۴ هـ ش